

بوډا او د ليوانو پلونه
(ناول)
ليکوال: نصيراحمد احمدي
١٣٨٥ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : بوډا او د لېوانو پلونه

لیکوال : نصیراحمد احمدي

د چاپ کال : تله ۱۳۸۵ل

د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ټوکه

کمپوزر : شېرافضل افضل

د خپرونو لړ : ۵

**ډالۍ:**

خپل پلار ته، چې تر ځان راباندې ګران دی او په لومړي ځل یې راته وویل:

زویه! الف (ا) کوم ټکی نه لري، (ب) یو ټکی لري

او (ت) هم دوه ټکي...

## بسم الله الرحمن الرحيم

په کوټه کې ناست وم چې دروا زه په شدت خلاصه شوه.

پلار مې چیغه کړه:

ورو!

کوچني ورور مې په وره کې نوك ونیو، د پلار له وېرې ببرته پر شا ولاړ او د کور په اوږده دهلېز کې يې منډه کړه. ور خلاص پاته شو او کوټې ته سړه هوا او ورسره د لاندې د پخې غوښې بوی راننووت. پلار ته مې وکتل، له غوسې نه په ډکو سترګو کې يې د لاټین ژیړه رڼا ښکارېده. ولاړ شوم، د وره د پورې کولو پر مهال مې د ورور وارخطا غږ واورېد:

ادې! جومات ته لېونی راغلی.

پلار ته مې مخ ورواړاوه، د تاوخانې پر تاوده ځای ناست و او د راډیو ستن يې تاووله. له کوټې ووتم، په دالان کې مې مور د ښوروا لپاره ډوډۍ وروله. ورور مې د هغې تر څنګ ناست و او تنور ته يې پښې ورغزولې وې. په قهر مې وویل:

دروازه د سړي غوندې خلاصوه!

ورور مې په بېړه راته وکتل، سترګې يې وځلېدې او په داسې غږ، لکه کوم زېری چې راباندې کوي، ویې ویل:

جومات ته لېونی راغلی!

غږ مې یو څه پوست کړ:

ته په خپله لېونی يې!

ورور مې مور ته مخ وروااړاوه او د خواست په ژبه يې وویل:

غوښه پخه ده؟

مور مې له کټو نه د لاندې یو راایستلی بڅری په ګوتو کې ټینګ کړ، ببرته يې په کټو کې، چې له خولې نه يې مړ تاو پورته کېده، واچاوه، ورو يې وویل:

یو څه وخت لا نور هم غواړي.

له دې سره يې پر کټو برغولی کېښود او بېرته يې تناره ته ور ښکته کړه. ورور مې ماته وکتل:

لالا! اجب لېونی دی، له جوماته يې ټول هلکان وايستل.

ما وپوښتل:

ولې؟ په جومات کې لويان نه وو؟

_نه، هغوی خو هر ماښام تر لمانځه وروسته کورونو ته ځي.

مور ته مې مخ ورواړاوه:

ادې! ډوډۍ يو څه وخت مه لندوه!

_ولې؟

_جومات ته ځم.

***

دباندې په وتو سره مې وار له واره په ورمېږ کې د واورې بخرکي ولوېدل. پورته مې وکتل، د ماښام په تته رڼا کې څرخېدونکې واوره ورو- ورو راښکته کېده، له ګام سره مې کلوښـو ته واوره ورلوېده. د انګړ لرګين ور مې له ځنځيره ونيو، د وره غنجا شوه او په ليخك کې پرته واوره يې سره ټوله کړه.

جومات کور ته نږدې و او د کلي د هلکانو چيغې په اسانۍ سره اورېدل کېدلې.

لېونيه! ای لېونيه، لېونيه...!

ګامونه مې ګړندي کړل، د جومات وره وازه خوله نيولې وه او له دهلېز نه يې د هلکانو شور او زوږ راته... وره ته په رسېدو سره ناڅاپه د پښو دربی شو. پر دېوال څه شی ولګېد، پر ځمکه ولوېد او له غږ نه يې پوه شوم چې د لرګي وار و. يو هلك په منډه له وره راووت. مخکې تر دې چې څنګ ته شم، اوږه يې زما تشي ته سيخه شوه. ما په دېوال پورې لاس ونيو، خو هلك له ځمکې يوه- يوه نيمه لوېشت پورته شو او پر ښي اړخ ولوېد. پنځه شپږ هلکان مې په ترپ تر سترګو تېر شول. ځمکې ته مې وکتل، په واوره کې د يوه غځېدلي انسان چاپ جوړ و. يو دم چوپه چوپتيا شوه، داسې لکه هېڅ چې هم نه وي پېښ شوي. يوه شېبه پر خپل ځای ودرېدم. په احتياط مې ښۍ پښه تر لخك واړوله، دهلېز ته ورننوتم، د جومات د څنګ د کوټې دروازه خلاصه وه او له کوټې نه د لاټين تتې رڼا د بوټونو د ايستلو ځای روښانه کړی و. ورو مې د وره خوا ته غړۍ وراوږده کړه. د کوټې پر خړ دېوال د يو بنيادم لړزانده سيوری ښکارېده، پښه مې ونيوله. پر يوه لوی عسکري بوټ مې سترګې ولګېدې، چې د تلي چاکونه يې له واورې نه

ډك اوبوټ ړنګ پروت و. د کوټې منځ مې هغه وخت سم لیدلای شوای، چې دوه ګامه لا نور هم پر مخ تللی وای. ګام مې واخیست، پښه مې پر یوه شي ولګېده او د لرګي د رغړېدو غږ چوپتیا ماته کړه. په بېړه مې سیوري ته وکتل، د پخوا په څېر لړزانده ولاړ و. ټیټ شوم، د امسا په بڼه یو غوځ شوی لرګی مې دېوال ته ودراوه. بل ګام مې پورته کړ، د اوږدې کوټې په منځ کې یو په ونه لوړ بنیادم ولاړ و. د هغه راته شا وه. اوږد بالاپوښ یې په تن و، په ښي لاس کې یې د بوټ جوړه نیولې وه او داسې راته وایسېد، لکه څمکې ته چې ګوري.

ورو مې وویل:

سلام علیکم!

سړي کوم غبرګون ونه ښود. دوهم ځل مې یو څه په زوره د سلام ټکی له خولې راوایست. هغه یوه جټکه وخوړه، په تېزۍ سره یې مخ راواړاوه، د څراغ رڼا یې پر نیمایي څېره ولګېده او د څېرې په روښانه برخه کې یې د ژورو ګونځو سیوري ښکاره شول. سړی بوډا و، خړه لونګۍ یې تر سر تاو وه او د ږیرې د ښي اړخ سپین وېښته یې د لاټین رڼا ته ځلېدل...

په لړزانده ګامونو رانږدې شو، بوټ ته مې وکتل، د وار په بڼه یې نیولی و. په بېړه مې وویل:

خوا مه بدوه، هلکان دي!

ده هېڅ ونه ویل، بوټ یې د خپلې جوړې تر څنګ کېښود او د کوټې په بر سر کې د تاوخانې پر تاوده ځای کېناست، سر یې وځړېد او په فکر کې ډوب شو.

پوه شوم چې سړی بې ازاره دی، ورمخته شوم، ورو مې وویل:

زه به ډوډۍ درته راوړم!

خو دی د پخوا په څېر غلی و او غولي ته یې کتل.

له جوماته ووتم، واوره په تېزۍ اورېدله. کور ته لاړم، د کوچني ورور چې مې کله راته پام شو، په بېړه یې وویل:

لېوني ونه وهلې؟

هغه ته مې ځواب ورنه کړ، له مور نه مې وغوښتل چې یوه کاسه ډوډۍ تیاره کړي. په لنډه موده کې ډوډۍ تیاره شوه. له دالان نه د راوتو پر وخت مې ورور ته وریاده کړه چې چای راپسې راوړي. کله چې بېرته جومات ته ورغلم، مساپر د پخوا په څېر ځړېدلی سر ناست و. د هغه تر مخ مې دسترخوان وغوړاوه. کاسه مې کېښوده او څراغ مې ورنږدې کړ. اوس یې نو ټوله څېره ښکارېده؛ ګڼې وروځې یې درلودې او په کینه سترګه ړوند و. ورو مې وویل:

ډوډۍ سرېږي، که لاس مينځې، په هغه بدنۍ کې اوبه شته!

ورو ولاړ شو، له شا مې پسې وکتل، د کميس لمن يې په بالاپوښ کې پټه وه، خو د پرتوګ په يوه پايڅه پورې يې لويه پينه ښکارېده. بدنۍ يې ورواخيسته او دباندې ووت .

شېبه وروسته چې بېرته پر خپل ځای کېناست، لاسونه يې لانده وو. له کاسې نه يې يوه کوچنۍ ګوله ورپورته کړه، لاس يې لړزېده او کله چې يې ګولې ته خوله وازه کړه، په وريو پورې يې يو غاښ هم نه ښکارېده. لنده ډوډۍ يې ښه ډېره وخوړه، خو غوښې ته يې لاس وراوږد نه کړ. ورو مې وويل:

د پسه لاندې دی.

خو د ده شونډې ونه خوځېدې.

پوهېدم چې ګونګی نه دی، ځکه ګونګيان بيا په غوږو هم نه اوري. دوهم ځل مې کوم ست ورته ونه کړ. په زړه کې راتېره شوه، شايد لېونی وي. دا وخت د وره کړپ شو، کوچنی ورور مې په وره کې ودرېد، د هغه په ښي لاس کې چايجوش او په کيڼ لاس کې يې ګيلاس ښکارېده. يوه شوم چې له وېرې پر مخ نه شي راتلای، ځکه ولاړ شوم، چايجوش او پياله مې ورنه ونيول، ورو مې وويل:

يوه برستن درسره راوړه!

دی هم په منډه دباندې ووت، ګيلاس مې له چايو ډک کړ، د بوډا تر مخ مې کېښود، يو ځل بيا په دې هڅه کې شوم چې پر خبرو يې راولم؛ ورو مې وويل:

يخني نه دی؟

د دې پر ځای چې څه ووايي، لړزېدلی لاس يې د څنګ جېب ته کړ او ډک لاس کاغذونه يې پر غولي کېښودل. حيران شوم. په نويو او زړو کاغذونو کې يو قلم او عکس هم ښکارېده. په عکس کې مې وار له واره پر بوډا سترګې ولګېدې، چې توره دريشي يې په تن، سرتور سر او رنګه نېکټايي يې تړلې وه. سترګه يې جوړه وه او تر څنګ يې يوه سينګار شوې پېغله د واده په سپين کميس کې ولاړه وه.

د عکس پر پاتې برخه يو کاغذ پروت و. لا مې عکس ته سم نه وو کتلي، چې د بوډا تور لاس د کاغذونو پر کوټه ور ټيټ شو اوپر غولي يې يوازې د ګوليو يو پاکټ پرېښود .

بوډا کاغذونه په جېب کې کېښودل، له پاکټ نه يې يوه ګولۍ خولې ته واچوله او د چايو غوړپ يې ورپسې وکړ. په زړه کې مې پوښتنې راولاړې شوې: �څوک دی، سوالګر دی، که شتمن؟ ښاري دی، که کليوال؟ روغ دی، که لېونی؟ د واده په جامو کې دا ښکلې نجلۍ څوک ده، مېرمن يې ده؟ سترګه يې ولې ړنده...� ناڅاپه يو درب شو،

مخ مې ورواړاوه، وره ته نږدې يوه بړستن پرته وه. بړستن مې د سړي پښو ته کېښوده، کاسه او دسترخوان مې راواخيست، ورو مې وويل:

پياله او چايجوش بيا په هغه تاخچه کې کېږده!

دا مې وويل او له جوماته ووتم.

***

د پلار په غږ مې سترګې رڼې شوې، په غوسه يې ويل:

يوه ورځ يې نه ده، دوې يې نه دي، غټ سړی دی.

وروسته مې د مور غږ واورېد:

خير دی، زه به ورته ووايم.

پوه شوم چې پلار مې ولې په غوسه دی. ساعت ته مې وکتل، لمر لا نه و راختلی. په بړستن کې مې پښې بندې کړې. د کوټې په لستوڼو کې مې لاسونه ننه ايستل او له کوټې ووتم. د کوټو او دالان ورونه اوږده دهلېز ته خلاصېدل. دهلېز مې د ګوتو په سرونو لنډ کړ. کله چې د دالان وره ته ورنږدې شوم، پر سپږمو مې د تودې ډوډۍ بوی ولګېد. د مور مې د وره له چولې راته پام شو، ور مې خلاص کړ او دالان ته ور ننوتم. ځړېدلې شونډې يې وخوځېدې:

پلار به دې درسره ګوري!

د خواست په ژبه مې وويل:

خير دی مورې لا وخت شته. ته يوه بدنۍ اوبه راکه چې اودس وکم!

خو دا ځل يې په غوسه راته وکتل:

تر تا خو دې هغه کشری ورور لا ښه دی، پلار يې يو ځلې ورته وويل چې د سهار جمعې ته راځه، تر اوسه يې د هغه خبره نه ده هېره کړې، خو ته غټ سړی يې، سره غرمه راجګېږې!

د مور خوابدون مې نه شواى زغملاى، ژمنه مې ورسره وکړه چې له دې هيسته به تر پلار مخکې په جومات کې ناست يم. دا وخت مې ورور دالان ته راغی. د هغه په لاس کې نيول شوې چايجوش د تېرې شپې مساپر راپه زړه کړ. ومې ويل:

هغه سړي ته چا چاى وروړی و؟

ـهغه لېونی یادوې؟

لنډ ځواب مې ورکړ:

هو!

ـلالا! هغه خو په جومات کې نه و.

مور مې وويل:

خوارکی به په دې نیم گز واوره کې چېرته تللی وي؟

په حیرانتیا مې وپوښتل:

نیم گز؟

د ځواب پر ځای یې په رپېده اوار شوی پاستی تناره ته ورټیټ کړ. زه هم ولاړ شوم، د دالان پر یوازېنۍ خوله شوې کوچنۍ شیښې مې ورغوی تېر کړ، انگړ تك سپین و او د زردالو د ونې پر وچو ښاخونو څلور گوتې واوره پرته وه.

د مور غږ مې واورېد:

چای دې ژر وڅښه او بام ته وروخېژه!

پاو وروسته له کوچني ورور سره یو ځای د بام پر سر ولاړ وم. اسمان برگ و او په واوره کې لیرې کلي توربخون برېښېدل. زموږ د کلي پر هر بام یو- دوه تنه ولاړ وو او واوره یې اچوله.

د ورور په غږ مې جټکه وخوړه:

لالا! راځه چې بامونه سره ووېشو، دوه یې ستا او دوه یې هم زما.

هغه ته مې وکتل، نیم بام یې تور کړی و او زه لا په نیم گز واوره کې ولاړ وم. خندا راغله، د واورې غونډوسکی مې جوړ کړ، خو مخکې تر دې چې پر هغه وار وکړم، د تره زوی مې د خپل کور له بامه رابانديې غږ کړ!

ای! هلته یو څه ښکاري، دوه کارغان هم ورته ناست دي.

ورغږ مې کړ:

چېرته؟

ـد دښتې خوا ته وگوره! د توت ونې ته نږدې!

ورمېږ مې کوږ کړ. ده رښتيا ويل، په واوره کې يو تك تور شی برېښېده. وار له واره مې د تېرې شپې مساپر په زړه کې ودرېد اوپه چيغه مې وويل:

هله ژر کوه!

***

د ژامو مې ټکا وه، مور مې يوه بله برستن رابانديې وغوړوله، تر څنګ مې کېناسته او ويې ويل:

د ژوندو دی؟

لنډ ځواب مې ورکړ:

نه پوهېږم، خو زما په شا لا ساه پکې چلېده.

له ځان سره يې وويل:

خوارکی!

دا وخت په دهلېز کې دربی شو، دروازه په شدت سره خلاصه شوه، ورور مې په وره کې ودرېد او په سترې غږ يې وويل:

اورلګيت، اور لګيت چېرته دی؟

مور مې وارخطا غوندې شوه:

په اورلګيت څه کوې؟

ـپلار يې غواړي، د مېلمنو د کوټې بخارۍ بلوي.

ـولې؟

ـهغه لېونی يې زموږ حجرې ته راووړ.

مور او ورور مې دواړه له کوټې ووتل، زه هم ولاړ شوم، پايځو ته مې وکتل، لا لندې وې، پټو مې تر ځان تاو کړ. دباندې سوړ باد چلېده او غونډۍ- غونډۍ ورېځې يې شمال لور ته په مخه کړې وې. له واورې نه پورته شوې رڼا مې سترګې له اوښکو ډکې کړې. د مېلمنو له کوټې نه چې د انګړ دروازې ته نږدې په دېوال پورې نښتې وه، ګډوډ غږونه اورېدل کېدل.

کوټې ته ورغلم، پر غزېدلي مساپر غبرګې برستنې پرتې وې، اوږد بالاپوښ یې سر ته شاړې واړې پروت و او څو کلیوالو پلتۍ ورته وهلې وې. ورور مې هم دېخوا هاخوا ګرځېده، هغه ته مې وویل:

د بامونو واورې لا پاتې دي.

پلار مې بخارۍ ته ورپو کړل او بیا یې مخ راواړاوه:

ته هم مرسته ورسره وکه، واوره درنه ده!

مخکې تر دې چې څه ووایم، د تره زوی مې وار ړومبی کړ:

کاکا! زه به ورسره لاړ شم، د ده پایڅې لندې دي او څو شېبې مخکې یې دا دروند بار پر خپلو اوږو تر جوماته راورساوه.

له دې سره یې پراته سړي ته اشاره وکړه. ولاړ شو او له ورور سره مې یوځای له کوټې ووت.

کلیوال اندېښمن غوندې وو. په کوټه کې یوازې پوښتنې اورېدل کېدې:

څوك دی؟ له کومه راغلی؟ که مړ شو، نو څه به په کوو؟

په پای کې مې پلار وویل:

که هر څوك یي، اوس مو غاړې ته رالوېدلی، که یې پور پرې کړ، بیا به هغه وخت ګورو.

کلیوال تر غرمې ناست وو، بیا یو ځای ولاړ شول. پلار مې د ډوډۍ ست ورته وکړ، خو دوی پاتې نه شول او له پلار سره مې یو ځای له کوټې نه ووتل.

پر سره انګار مې یو- دوه د توت لرګي کېښودل، په تاخچه کې یوه زړه مجله پرته وه، لاس مې وروغزاوه او د بخارۍ تر څنګ مې دېوال ته ایښي بالښت ته ډډه ووهله. د مجلې پاڼې مې راواړولې، یوه کیسه مې پیدا کړه. د پیل له څو کرښو نه یې وپوهېدم چې تلوسه لري او په لوستلو ارزي. کیسه په زړه پورې وه، ښه انځور یې درلود او ذهن یې ورسره ووړ. د دوهمې پاڼې په نیمايي کې وم چې ناڅاپه یوه لړزانده غږ سره خوله راباندې راوسته:

انوره زویه !

په بېړه مې سر هسك کړ. یو سرتور، ډنګر سړی د کوټې په منځ کې ناست و. څپولي وېښته یې سره سرېښ وو او یوه سترګه یې وچه راته نیولې وه.

شا و خوا مې وکتل، په کوټه کې له ما او بوډا پرته بل څوك نه و. سړي په لړزانده غږ خپله خبره تکرار کړه:

انوره زویه!

له دې سره یې برېستنې له ځنګنو نه وښویېدې، لکه یو ماشوم چې نوی پر پښو راغلی وي، همداسې په لړزېدلو لینګو ولاړ شو، خو مخکې تر دې چې خپل انډول له لاسه ورکړي، په چټکۍ مې لاسونه ترې تاو کړل او ورو مې پر خپل ځای پرې ایست. لړزانده لاس یې له ځمکې پورته شو او زما پر مخ یې داسې تېر کړ، لکه د چا چې پر یوه ماشوم مینه راغلې وي. لاس یې تود و، پوه شوم چې تبه لري. ورو- ورو یې سترګه بې نوره کېده، وروسته نیمکښه شوه او بیا یې تار- تار سپین بانه سره ورغلل.

نبض مې یې وکوت، رګ یې په چټکۍ سره غورزېده...

دا وخت مې ورور له انګړ نه راغږ کړ:

ډوډۍ تیاره ده.

په بخارۍ پورې مې یو- دوه نور لرګي هم پسې کړل او دمېلمنو له کوټې نه ووتم.

د کور په دهلېز کې مې د پلار غږ واورېد:

په جومات کې یې خدمت نه شو کېدای، ځکه مې کور ته راووړ .

د کوټې ور مې خلاص کړ، مور مې وویل:

هو! ثواب لري.

د غرمې ډوډۍ مې له پلار، مور او کوچني ورور سره پر یوه دسترخوان وخوړه. پاتې ورځ دوه - درې ځلې د مېلمنو کوټې ته ورغلم، خو مساپر به د تېر په څېر بېسده پروت و.

ماښام قضا چې مې کله لاټین ته اورلګیت ورته کړ، د مساپر سترګه پرانیستې راته ښکاره شوه. دی ستوني ستغ پروت و او سترګه یې د چت پښتولانو (تیرانو) ته وچه نیولې وه.

ومې ویل:

څنګه یې؟

ورمېږ یې کوږ شو، خو څه یې ونه ویل.

ورمخته شوم، پر تندي مې یې لاس کېښود، تبه یې پرې شوې وه. ورو مې وویل:

د خوړو اشتیا لرې؟

دی بیا هم غلی و.

ما زیاته کړه:

که دې کور- کلی دلته نږدې وي، راته ووایه، زه به یې خبر کم.

هغه یوازې مخ رانه واړاوه. ما هم څه ونه ویل او د بخارۍ په لګولو بوخت شوم. خو شېبه وروسته مې چې ورته پام شو، نو د سترګې له کونج نه یې یوه اوښکه راورغړېده او د غوږ له پاسه یې په ببرو سپینو وېښتو کې پټه شوه. په څېره کې یې د بېوسۍ نښې ښکارېدې. په خپله خبره وشرمېدم، ورو مې وویل:

پر موږ بار نه یې او اوس تلای هم نه شې، له یوې خوا په واوره کې منډ نه شته او له بلې خوا ناروغه یې .

بوډا غلی و، زه هم لاړم، هغه مې یوازې پرېښود او ماخوستن له یوې کاسې یخني ښوروا سره بېرته د مېلمنو کوټې ته راغلم. بوډا پر خپل ځای ناست و، سترګه یې راواړوله، خو څه یې ونه ویل. کاسه مې د بخارۍ پر سر کېښوده. د لاس اوبه مې وروړې او په چیلمچي کې خړې اوبه تویې شوې. کله چې مې ډوډۍ پر دسترخوان کېښوده، پاستي ته یې لاس وروغزاوه. ومې ویل:

پلاره! یخني ده، غوړ نه لري.

له دې خبرې سره یې ډوډۍ بېرته پر خپل ځای کېښوده. په حیرانۍ مې ورته وکتل، سترګه یې له اوښکو ډکه وه او په څېره کې یې یو درد پروت و.

پر خپله خبره مې فکر وکړ، داسې څه مې له خولې نه وو راوتلي، چې څوك خوابدی کړي. ورو مې وویل:

ولې دې لاس ونیو؟

د لومړي ځل لپاره یې خړې شونډې وخوځېدې:

هېڅ.

بېرته یې پاستي ته لاس وروغزاوه، ډوډۍ یې وخوړه، لنډه دعا یې وکړه او په یوه سترګه یې راته وکتل:

مننه.

حیران شوم، وار له واره مې د تېرې شپې عکس سترګو ته ودرېد، ځکه د منني ټکی کلیوال خلك دومره نه کاروي. دوی له مقابل لوري نه د خوښۍ څرګندولو ته د (کور ودان، خدای دې مه خواروه، خیر یوسې، موږ کمه کړه، خدای دې درډېره کړي) او داسې نور توري پر خولو راوړي. یو ځل مې بیا په زړه کې پوښتنه راولاړه شوه:

دا سړی څوك دی؟

لا مې په ذهن کې دا پوښتنه د ځواب لپاره سره اړوله، چې بوډا وویل:

بچیه! راسره په زحمت شوې!

ما وخندل:

څه زحمت...

په خبره کې راولوېد:

که سهار ته هوا ښه وه، درنه ځم.

نه پوهېږم چې ولې مې د زړه له تله وویل:

دا دې خپل کور وګڼه، تر څو چې نه یې روغ شوی، نه شې تلای!

خوله یې خبرو ته جوړوله، چې ما وار ورنه واخیست:

او بل واوره ډېره ده، منډ نه شته.

دا وخت مې په ذهن کې را تېر شول چې د ده د ځای د معلوملو لپاره ښه وخت په ګوتو راغلی دی؛ په خندا مې زیاته کړه:

نو چېرته به ځې؟

له دې خبرې سره یې سر وځړېد او غلی شو، خو ما نه غوښتل چې یو ځل بیا چوپتیا خوره شي، هماغسي مې په خندا وویل:

د کوم ځای یې؟

بې له دې چې سر پورته کړي، ورو یې وویل:

د قره باغ، د غزني قره باغ یادوم.

ما وخندل:

د قره باغ د نجونو څه اجب جمال دی + ګل په قره باغ دی.

د لومړي ځل لپاره یې ګونځې- ګونځې شونډې ویړې شوې او په خوند یې وویل:

دا سندره خان قره باغي ويلې ده .

د خبرو لپاره ښه بانه راته پيدا شوې وه، ومې ويل:

هو! د خان سندرې مې خوښېږي، ښه هنرمند و.

ورو يې وويل:

پرچميانو وويشت.

په خبره کې ورولوېدم:

خو ما اورېدلي چې مجاهدينو مړ کړ.

د دې پر ځای چې څه ووايي، بالاپوښ ته يې لاس وروغزاوه او هماغه کاغذونه يې پر ځمکه کېښودل. خو دا ځل عکس پرمخې پروت و او پر شا يې ليکل شوي وو: �د ديارلس سوه دوه اتيايم لمريز کال، د ثور اتلسمه.�

له پاکټ نه يې يوه ګولۍ ورواخيسته، د چايو غوړپ يې ورپسې وکړ او په داسې حال کې چې کاغذونه يې په جېب کې اچول، ويې ويل:

نه بچيه! پرچميانو وويشت.

وپوهېدم چې سرې هېرجن نه دی او ذهن يې ښه کار کوي.

ده زياته کړه:

خان ټکسي چلوله او د کابل په دريمه کارته کې يې په خپل موټر کې توپانچه پرې تشه کړه. نهه پنځوسم کال و او کله چې يې مړی قره باغ ته راوړ، ملايانو په هديره کې پرې نښود.

ومې ويل:

ولې؟

_هغه د جهاد لومړۍ دوره وه، ملايانو ويل چې خان کاپر و او بايد د مسلمانانو په هديره کې تر خاورو لاندې نه شي. د کورنۍ غړي يې بېوسه خلك وو، نه يې زور درلود، نه ځمکه. هماغه و چې د غواوو په ګوډله (غوجل) کې يې خاك (قبر) ورته وکينده او خاورې يې پرې واړولې.

دا وخت مې کوچنی ورور د چای له پتنوس سره کوټې ته راننوت. بوډا وويل:

ورور دې دی؟

لنډ ځواب مې ورکړ:

هو!

ورور مې دوې پيالې له چايو ډکې کړې، يوه يې د بوډا او بله يې زما مخې ته کېښوده او په خپله له کوټې ووت. بوډا وخندل:

ډېر شوخ دی!

وپوهېدم چې د تېر ماښام د هلکانو ځورول ورپه زړه شول. يو څه وشرمېدم او ورو مې وويل:

څنګه يې کيې، هلکان دي.

بوډا پياله ورپورته کړه او سر يې په منفي بڼه وخوځاوه:

لويان هم ګرم دي.

ما د نورو خبرو تمه ورنه لرله، چې بوډا غلی شو. بې اختياره مې له خولې ووتل:

کاکا! انور څوک دی؟

ناڅاپه يې ګيلاس په لاس کې کوږ شو، يو تند حرکت يې وکړ او په چټکۍ سره يې خپله غزېدلې ښۍ پښه ورټوله کړه، د لاس په ګوتو يې لنده پايڅه، چې مړ تاو ورنه پورته کېده، د خپلې پښې له څرمنې نه پورته ونيوله.

په وارخطايۍ ولاړ شوم. خو ده تر لاس ونيولم:

چيرې؟

په خوابدي غږ مې وويل:

د غاښونو کريم راوړم، د سوځېدنې لپاره ښه دي.

ده وخندل:

کېنه زوروره! دومره لويه خبره نه ده، چې عمر تېر شي، خپل لاس به دې لا په واک کې نه وي.

خو زه له خپلې خبرې پښېمانه وم او د هغه سوځېدل مې له خپله لاسه ګڼل. بوډا خپله ښۍ پښه تر ځنګانه لوڅه کړه، پر توره څرمن يې يو- دوه ځايه مازې سرخي ښکارېده. څو ځله يې سوځېدلي ځای ته ورپو کړل او ويې ويل:

دې ته برسېرنه سوځېدنه وايي، دومره د تشويش وړ نه ده په خپله ښه کېږي.

وروسته یې په داسې حال کې چې خپلې پښې ته یې کتل، ورو یې وویل:

د انور نوم دې څنګه پر خوله راغی؟�

تلولی غوندې شوم:

هسې تا په تبه کې یاداوه.

یو سوړ اسویلی یې وایست. ما ورته وکتل، په سترګه کې یې اوښکې راټولې وې او غریو نیولي غږ یې مازې شونډې سره وخوځولې:

انور زما زوی دی.

تر یوې شېبې چوپتیا وروسته یې په داسې غږ، لکه څوك چې له ځان سره غږېږي، زیاته کړه:

ډاکټر انور.

په دې خبره کې یې یو ژور درد پروت و. په زړه کې راتېره شوه، زوی به یې مړ وي. عکس مې سترګو ته نېغ ودرېد، په ذهن کې مې وګرځېدل، نو هغه نجلۍ څوك ده؟ شاید دوه ودونه یې کړي وي! یو په ځوانۍ کې او بل هم د زړښت پر مهال. خو دا فکر هم د منلو وړ راته ښکاره نه شو. دا خوار بوډا او هغه ښاري ځوانه نجلۍ! هېڅ امکان نه لري، شاید هم امکان ولري...

ذهن مې ګډوډو پوښتنو ته ګډوډ ځوابونه ورکول. په پای کې پوښتنې او ځوابونه سره ګډ شول، توري په یو بل کې ننوتل، نه مې پوښتنه جوړولای شوای او نه هم ځواب...

د بوډا غږ زما فکر سره راټول کړ:

واده لرې؟

ورو مې وویل:

نه، تر اوسه لا نه. پلار مې وایي چې لومړی دې سبق خلاص که.

په بېړه یې وویل:

د څه شي سبق؟

پوهنتون یادوم. دا مې وروستی کال دی، اوس په رخصتۍ راغلی یم.

لنډه شېبه غلی و، داسې لکه فکر چې وهي. وروسته یې سر پورته کړ:

ښه ده، ښه ده، پلار د اولاد خیر غواړي. هغه مه خوابدی کوه!

ورو مې وویل:

له ما نه مې مور او پلار دواړه خوشاله دي، تر خپله وسه یې درناوی کوم.

_هو! زویه زاړه خلك د ماشومانو غوندې دي، په کوچنۍ خبره خوشالېږي، خو ډېر کم خوابدون نه شي زغملای.

دې ته ورته خبره ما د طب په دریم کال کې له خپل استاد نه هم اورېدلې وه. هغه ویل: �څومره چې عمر تېرېږي، په هماغه اندازه د مغز حجرات هم کمزوري کېږي او انسان په وړه خبره تر روحي فشار لاندې راځي.�

په خندا مې وویل:

کاکا! ته خو د ډاکټرانو غوندې خبرې کوې.

ده وخندل:

ډاکټر نه یم، خو لږه- ډېره مطالعه لرم.

په خندا مې خبره ورغوځه کړه:

نو زده کړې دې چېرته کړې دي؟

یوه شېبه غلی و، وروسته یې په ارام غږ وویل:

زموږ په وخت کې لېسې او پوهنتونونه نه وو، تر شپږمه لیك- لوست کېده. د ظاهرخان دوره وه، د حکومت خلك به په کلیو گرځېدل، خو کلیوالو به خپل ماشومان ورنه پټول، بانې به یې پیدا کولې، تاوانونه به یې پر غاړه اخیستل، رشوت به یې ورکاوه او یا به هم شتمنو خلکو، بېوزلو ته پیسې ورکولې چې د دوی د ماشومانو پر ځای د خپلو کوچنیانو نوم ورکړي. زما پلار هم نېستمن سړی و. د کلي ملك یو پسه وروباخښه او د ملك د زوی پر ځای، زه د مکتب خوا ته روان شوم�...

په خبره کې یې ورولوېدم:

نو د خلکو ولې له مکتب نه دومره بد راتلل؟

_هېڅ. دوی ویل چې مکتب ماشومان بې لارې کوي، کوپر ته یې باسي، دین او مذب (مذهب) ورنه اخلي.�

بوډا یوه شېبه غلی شو او بیا یې یوه سترگه راواړوله:

زويه! كلونه تېر شول، خو زموږ فکر لا پر خپل ځای ولاړ دی؛ اوس هم ډېر خلك همدا عقيده لري، مکتبونه سوځول کېږي، ښوونکي وژل کېږي او مکتب ته د پسات ځاله وايي. دلته لا اوس هم لمر ته زولنې ورلوېږي او ځمکه د غوايي پر ښکر ولاړه ده...

بوډا پر خبرو راغلی و او ما غوښتل چې د هغه د ژوند په اړه ډېر څه واورم، خو د نزاکت له مخې مې نېغ په نېغه پوښتنه نه شوای ورنه کولای. مجبور وم چې له څنډو نه اصلي موضوع ته راشم، په خندا مې خبره ورغوځه کړه:

نو دوې گټې مو وکړې، هم مو پسه ترلاسه کړ او هم دې مکتب ووايه!

ده وخندل:

خو اصلي کار پسه وکو.

د بوډا خندا يو څه جرئت راکړ او په خندا مې وويل:

د پلار دې هم مکتب نه خوښېده، که څنګه؟

بوډا چايجوش ته لاس وروغزاوه، خو ما وار ړومبی کړ او پياله مې ورډکه کړه، ده وويل:

معلومداره! هغه هم له بله ځايه نه و راغلی، خو هر رنګه چې و، پلار مې ښه سړی و، پر هغه ګران وم، هغه زما لپاره هم پلار و، هم مور.

په خوابدي غږ مې وويل:

مور دې مړه وه؟

ده يو سوړ اسوېلی وايست. تر زاړه پټکي لاندې يې خپلې ګوتې تېرې کړې، ککری يې وګروله او ورو يې وويل:

هو زويه! مور مې نه په زړه کېږي، زه ډېر کوچنی وم، چې هغې پور پرې کړ، شايد د څلورو پنځو کلونو. په ذهن کې يوازې د هغې يو خړ تصوير راپاتې دی. څېره يې سمه نه شم سره جوړولای، رانه ړنګېږي، داسې لکه چاته چې د زاړه او سپېره پلاستيك تر شا ګورې، خو فکر کوم چې ښکلې به وه، مور تل ښکلې وي.

بوډا يوه شېبه غلی شو، بيا يې خپله خبره پسې وغزوله:

د مور له مړينې مې لا کال نه و وتلی، چې پلار مې بله کوژده وکړه. تر واده يو کال نور هم ووت، ولور نه پوره کېده، خو بيا يې له پلاره ورپاتې دوه جريبه ځمکه وپلورله او واده يې راخوندې کړ. زه ماشوم وم، هغه مهال په دې خبرو نه پوهېدم، خو وروسته مې چې ښی او کيڼ بوټ سره وپېژندل، دا خبرې راته روښانه شوې.

د پلار له واده نه مې نور څه نه دي په ياد، خو يو څه چې د انسان په زړه کې رينښې ځغلوي او تلپاتې وي، له هغه نه د مينې اخيستل دي. نه پوهېږم چې د واده لومړۍ شپه به وه، که دوهمه، خو دومره مې په زړه دي چې ميرې زما ځای ونيو. زه به تل د پلار په غېږ کې خوب وړلم. خو په هغه شپه يې د لومړي ځل لپاره په بله کوټه کې ځای راته جوړ کړ، خو بيا رووړدی شوم. يو- يونيم کال وروسته به بيا پر بام ويدېدم او ستورو ته به مې تر هغو کتل، چې سترګې به مې سره ورغلې. ژوند همداسې پر مخ ته. ميرې به مې د پلار تر مخ د ناز په ژبه خبرې راسره کولې، خو چې هغه به نه و، په مازې خبره به يې چونډۍ رالګولې. خو پلار مې ښه و، کله ناکله به يې پلرنۍ مينه راباندې راتله او د مچولو پر وخت به يې د برېتو تېره وېښته زما پر بغورو (غومبرو) لګېدل. وروسته بيا د سهار له خوا مکتب ته تلم او ماپښين به مې له پلار سره د بزګرۍ په کارونو کې مرسته کوله. موږ پردۍ ځمکې کرلې، خو ګوزاره مو کېده.

میره وچه (شنډه) وه او د دریو تنو خوراك مو له یوې او بلې خوا برابراوه. په دیارلس یا څوارلس کلنۍ کې مې مکتب خلاص کړ. بیا مې د پلار په غوښتنه د کلي ګوروانې ونیوله. له لمر ختو سره سم به د غواوو، مېږو او پسونو په دوړو پسې روان وم او په لمر لوېدو به مې د خلکو مالونه د هغوی د کورونو تر ورونو وررسول.

په دوه ویشت کلنۍ کې مې د عسکرۍ پچه وختله. دوه کاله مې د کابل د ریشخورو په فرقه کې تېر کړل. ترخیص مې واخیست او بېرته قره باغ ته لاړم. دا ځل مجبور وم چې له یوه کاره هم مخ وانهړوم، ځکه پلار ته مې د ملا درد پیدا شوی و او درانه کارونه یې په وس نه وو پوره، بزګري ماته راپاتې شوه. ورسره مې له مزدورۍ، ختګرۍ، کاربزکنۍ او له هېڅ شي نه هم مخ نه اړاوه. سهار به په خړه له کوره ووتم، ټوله ورځ به مې په ولاړو تېره کړه او د ماښام له اذان سره به کور ته راغلم، لاسونه به مې دومره له چاودو ډك وو چې هر ماخوستن به مې د لندو وړو پټۍ پرې تړلې. بس نو ژوند و، د ګېډې د ډکولو لپاره مو باید یو څه موندلي وای. د کلي ځوانانو به د ښه اس، اصیل ښکاري ټوپك او د غوړورو تازیانو د درلودلو فکرونه وهل، خو ما چې به د چا په لاس کې کومه سپکه او تېره بېلچه ولیده، پر هغې به مې مینه راتله. د چا چې به مزدور په کار و، نو لومړی به یې زموږ د کور ور راټکاوه، ځکه ما غښتلی بدن درلود. د بدن بوټي مې د ډېر کار له لاسه سره تاو شوي وو او ژر نه ستړی کېدم. ماخوستن چې به مې سر ولګاوه، سمدستي به مې سترګې پټې شوې او نوې ورځ به هم د تېرې ورځې تکرار وه. ژوند همداسې تېرېده، زه وم او د ځمکې اړول، کرل او رېبل. ما یوازې خړه ځمکه او شنه واښه پېژندل. د پولي- پټي دښمن مې موږک و او دوست مې د ځمکې سوررنګه اوږد چینجی، خو ناڅاپه موږك په انسان بدل شو او ما د بېلچې پر ځای ټوپك ته لاس وروغزاوه...

بوډا غلی شو، لېنګي یې ورټول کړل او په لړزېدلو ګامونو دباندې ووت، خو زما په ذهن کې د هغه وروستۍخبره په تکرار ډول راګرځېده: �خو ناڅاپه موږك په انسان بدل شو او ما د بیلچې پر ځای ټوپك ته لاس وروغزاوه، خو ناڅاپه موږك په انسان بدل شو او�...

د بوډا په غږ مې جټکه وخوړه:

بچیه! چای مې ډېر سور کو، بخښنه غواړم.

په بېړه مې ورته وکتل، د لمنې یوه څنډه یې په ګنډه کې نښتې وه، خو د نزاکت له مخې مې پر خوله څه رانه وړل.

بوډا پر خپل ځای کېناست، پښې یې په بړستن کې ننه ایستې او ورو یې وویل:

ستوري نه ښکاري، شاید بیا واوره واوري.

بې اختیاره مې له خولې ووتل:

ټوپك ته دې څنګه لاس وروغزاوه؟

بوډا يو سوړ اسوېلی وايست، په اشاره يې وپوهولم چې چای غواړي، پياله مې ورډکه کړه، ده ووېل:

څه درته ووايم، د اوړي يوه ټکنده غرمه وه، ما رشقې ته اوبه ورخوشې کړې وې او په خپله د پولې پر سر ورته ناست وم، څو گامه ها خوا مې د يوه اوږدڅېې ننداره کوله، چې د مېږيانو د غار تر څنگ پروت و. اوږدڅېی يو کوچنی مرغه دی، ځان پر مړينې اچوي، خپله اوږده ژبه راباسي او کله چې يې پر ژبه مېږيان راټول شي، ژبه ورټولوي.

ما لا اوږدڅېې ته کتل، چې يو ليرې غږ مې په غوږو ننوت. له مرغه نه مې سترگې واړولې، يوه هلك منډې راوهلې. چيغې مې نه شوای صحيح کولای، خو احساس راولوېد چې ښه زېری نه راته لري. د هغه په يوه چيغه کې مې د �پلار� ټکی واورېد. دې ټکي مې زړه ولړزاوه، خو کله چې مې پوره جمله واورېده، يوه شېبه مې سترگو هم کار پرېښود، رڼا ورځ راباندې توره شپه شوه، خو په غوږونو کې مې لا د هلك چيغو انعکاس درلود:

مالکه! ای مالکه! پلار دې يې درواژه، هغه يې مړ کلي ته راوړ!

بوډا غلی شو او زه وپوهېدم چې سړی مالك نومېږي. خو ډېر ژر يې خپلې خبرې پسې وغزولې:

اه زويه! نه پوهېږم چې څنگه کور ته راورسېدم، خو کله چې د جنازې تر څنگ ودرېدم، نو پښې مې د لومړي ځل لپاره له خپله واکه ووتې، پر گونډو شوم او د بدن د انډول د ساتلو لپاره مې د جنازې کټ ونيو. ورو مې د خپل پلار له مخه د هغه خړ څادر ليرې کړ، سترگې يې پټې، څېره يې خړه او سپين وښته يې له خاورو ډك ښکارېدل. څادر مې نور هم ورنه وښوياوه، پر ټټر يې د بنگړي يوه ماته ټوټه او تار- تار ښځينه تور وېښته پراته وو. د بنگړي ټوټه مې وپېژندله، زما د ميرې بنگړی و. له مړي نه مې پاتې څادر هم ليرې کړ، پر سپينو جامو يې وينه نه ښکارېده، پر جسد مې گوتې وتپولې. د پلار په خوله پسې مې خپل مخ ونيو، خو د هغه له خولې نه تاو نه راووت او برېتونه يې نه راچوخېدل.

يو چا تر مټ ونيولم، کله چې پورته کېدم، له سترگو نه مې يوه اوښکه بېله شوه، د پلار پر مخ مې پرېوته. يوه لنډه منډه يې واخيسته او يو دم ځای پر ځای ودرېده. په لومړي ځل مې شا و خوا وکتل، انگړ له کليوالو ډك و او څو تنه په ځړېدلو سرونو سونگېدل. په لړزانده گامونو د کوټو خوا ته روان شوم، په يوه کوټه کې د کلي څو تورسرې سره راټولې وې، په لوړ غږ يې ژړل او ښېراوې يې کولې:

خدايداده ټك له ټکه شې، د کور لوگی دې ورك شه، خدای دې مېنه سپېره که...!

خو ميره مې خړ دېوال ته ناسته وه، ټکرى يې په غاړه کې پروت و، سترگې يې له سرو رگونو ډکې وې او پر بغورو يې څو تاره تور وېښته سرېښ وو. هغې هېڅ حرکت نه کاوه، غاړه يې کږه وه. سر يې پر دېوال لگولی و او غولي ته يې کتل. تر مخ يې کېناستم، خو بې له دې چې راته وگوري، شونډې يې مازې سره وخوځېدې:

مالکه زويه پلار دې وليد؟

Download from: ketabton.com

د لومړي ځل لپاره مې د هغې له خولې نه د زوی ټکی واورېد. زړه مې درد وکړ او د سکه مور مینه مې پرې راغله، بې اختیاره مې د هغې سر په ټټر پورې ونیو. د میرې له خولې یوه کوکه راووته. زما پر اوږه یې لاس کېښود او په لنډ وخت کې مې ټټر د هغې په اوښکو لوند شو. میرې مې د ماشوم غوندې ژړل او چیغې یې وهلې:

اه زویه! زه خواره شوم، زه کونډه شوم، زه�...

زما پلار یې په هماغه ورځ خاورو ته وسپاره او ما قسم یاد کړ چې د ده قاتل به ژوندی نه پرېږدم.

درې ورځې د کلي په جومات کې پر فاتحه کېناستم، له نږدې او لیرې ځایونو نه به ډله- ډله خلك راتلل، لاسونه به یې پورته کول او بېرته به یې خپله مخه نیوله.

هغه وخت مرګونه کم وو، تر څو ورځو پر ټول کلي د ویر لړه پرته وه، ان د کلي ماشومانو هم دا جرئت نه درلود چې د لوبو لپاره دباندې راووزي.

د پلار د مرګ په لسمه- یوولسمه د ولسوالۍ بازار ته لاړم. دا د داودخان د پاچاهۍ لومړی کال و. روسي ټوپکان نوي راغلي وو. یو کولنګ داره چره ییز ګل چاپ ښکاري ټوپك مې خوښ شو، پیسې مې ورکړې او د راتګ پر وخت مې کلي ته نږدې یوه کارغه ته نلۍ ورواړوله. هغه د چنار له سره لاندې راولوېد. بیا مې په شودیاره کې د ډاګو پر یوه مږه ډز وکړ، خو کله چې د چرو دوړې کېناستې، هېڅ هم نه وو، مږه په غار ننوتې وه. دې ډزو کلیوال او نږدې خلك خبر کړل، چې مالك ټوپك اخیستی او بدي یې په نیت کې ده. په سبا د کلي دوه- درې سپین ږیري په کور راننوتل او ما یوازې نصیحت ورنه واورېد. خو د بلې ورځې په سهار لویه مرکه کېناسته. په قره باغ کې ډېر قومونه پراته دي، تره کي، اندړ، خروټي، دوتاني، میاخېل او د نورو لویو او وړو قومونو مشران او مخور د کلي په جومات ننوتل. ټولو خدایداد ګرم کړ. ویې ویل چې هغه هم خپله ګرمه مني، خو زما پلار ته یې هم ګوته ونیوله، چې دی هم تر خولې تېروتی و. وروسته یې یو شاهد راوغوښت. شاهد د خدایداد دوی د کلي و او زما پلار د ده په غېږ کې ساه ورکړې وه. هغه لنډه کیسه تېره کړه:

پر خره مې غنم بار کړي وو، چې تر ژرندې یې وباسم، کله چې د خدایداد د کلا تر مخ تېرېدم، نو شور او زوږ مې تر غوږ شو. چې ورته ومې کتل، یو خدایداد و او یو هم د مالك مرحوم پلار. د دوی تر څنګ یوې برګې غوا هم په ډېران کې خوله وهله. دوی دواړه په غوسه وو، لاسونه یې د یو- بل تر خولو ورتېرول. مرحوم خپلې پیسې غوښتې او ویل یې چې غوا دومره شیدې نه کوي، لکه خدایداد چې وریادې کړې وې، خو د خدایداد دلیل دا و چې غوا درې ورځې د مرحوم پر اخور ولاړه وه، خو دوی د یوې ورځې شرط سره ایښی و. زه خرڅه کړې غوا بېرته نه اخلم. اخر مرحوم په کاوړ وویل:

ته خو لا ته یې، ستا پلار به یې هم بېرته اخلي!

Download from: ketabton.com

خدایداد هم پرې ورچیغه کړه:

له خولې سره دې پام کوه!

خو د مالك پلار ورغبرګه کړه:

ته خو پیسې یادوې، والله چې عورته (ښځه) درنه بوزم!

دا وخت مرحوم د غوږ تر څنګ یو دروند سوك وخوړ او له ځمکې نه یې مړه دوړه پورته کړه. ما جوال پرېښود، په منډه ورغلم. د هغه سر مې له خاورو راپورته کړ. مرحوم یو- دوه ځله خپله خوله خلاصه کړه او بیا یې پور پرې کړ.

د شاهد تر خبرو وروسته یوه سپین ږیري مخ راواړاوه او ویې ویل:

مالکه! ښه به دا وي چې یوه روغه وکړې، د ټوپك له خولې داسې څه نه وځي، چې په هغه کې خیر وي. بدي دې په ګټه نه ده.

په خبره کې یې ورولوېدم:

معلومداره چې په بدۍ کې خوند نه شته، ما خو تر اوسه د چا سپي ته هم په بده نه وو کتلي، خو اوس چې یې مجبوره کړم، یا به پر ما خاورې اوړي، یا به هم پر خدایداد!

یوه بل راغبرګ کړ:

له خدایداد سره زه غږېدلی یم، هغه هر ډول پور ته تیار دی، که یې لور غواړې، که پیسې او ټوپك، هر څه چې ستا خوښه وي!

لنډ ځواب مې ورکړ:

نه مې د قاتل لور په کار ده او نه هم د پلار وینې په پیسو پلورم!

یوه بوډا چې ما کله پخوا نه و لیدلی او له سپینو جامو، اوږدو تسبو او په ورمېږ کې له بیاتي شویو څڼو نه داسې راته وایسېد چې ملا به وي، په ارام غږ وویل:

عبدالمالکه زویه! نو چې داسې ده، خدایداد وبخښه! خدای به یې اجرونه درکي.

په کاوړ مې خبره ورغوځه کړه:

څنګه یې وبخښم، هغه چرګ نه دی وژلی، زما پلار یې وژلی، پلار!

Download from: ketabton.com

د ټولې مرکې خولې ماته رااوښتې وې؛ چا نصيحت راته کاوه، چا جنتونه مخې ته راته ايښودل او ځينو نورو ويل چې خدايداد د جرګې هر ډول پرېکړې ته تيار دی، خو ته سوله ومنه. خو زما يوه خبره وه. د پلار غچ (بدل) اخيستل. اخر جرګې پرېکړه وکړه چې بله ورځ به بيا سره راټولېږي او دا ځل به د سيمې تر ټولو روحاني شخصيت (اغا صيب) هم رابولي.

تر پرېکړې وروسته جرګه خوابدې ولاړه او د غرمې لپاره زموږ پاخه کړي دېګونه همداسې پاتې شول.

په هماغه ورځ مې پرېکړه وکړه چې خبره به دوهمې جرګې ته نه ځنډوم.

ماخوستن مې د ټوپك کولمو ته خواړه تېل (د شاړشمو تېل) وروڅښول. تر سر مې کېښود او سهار لا ملايانو اذانونه نه وو کړي چې له کوره ووتم.

د خدايداد دوی کلی دومره ليرې نه و، شل- پنځه ويشت دقيقې وروسته د ده کلا ته ورورسېدم، کلا له کلي نه يو څه وتلې وه. پر سر يې رانه ستوري ولاړ وو او برجونه يې په تياره کې وېرونکي ښکارېدل. دا يوه زړه کلا وه، لوړ دېوالونه يې لرل او ما لا په کور کې دا فکر کړی و چې پر دې دېوالونو اوښتل له امکانه ليرې کار دی، خو په ذهن کې مې يوه تياره نخشه درلوده. مخکې مې لا د خدايداد د کلا له دروازې دېرش- څلويښت ګامه ليرې له لوخو ډك اودی (ډنډ) په پام کې نيولی و. په دې اودي کې به د شپې له خوا د کارېز اوبه راټولېدې او په رڼا کې به يې پټيو ته ورپرېښودلې. داسې اودی د کوچنيو کارېزونو خولو ته نږدې جوړېږي، چې بيا په يوځلي لښتی ډك کړي او پټی ژر اوبه شي.

لاړم او د اودي پر ژۍ کېناستم. که څه هم اوړی و، خو بيا مې هم تر ځان څادر تاو کړ، ځکه د غزني د دوبي شپه هم پر سړي لړزه راوستلای شي. د ټوپك خزانه مې په يوه جنګي کارتوس ډکه کړه، دې کارتوس د مردکۍ غوندې يوه سربي چره لرله، چې تر اويا- اتيا ګزه يې ان غوايی هم چپه کاوه. ټوپك مې پر ورنو کېښود او د کلا خوا ته مې وکتل. د لوخو تر تېرو څوکو پورته تور او پنډ برجونه ښکارېدل.

زموږ په ولسوالۍ کې دا ډول زړې او برجورې کلاوې ډېرې تر سترګو کېږي. ډېری يې تر دوو مترو پلن دېوالونه لري، پر ځينو يې ان يو نيم دوه سوه کاله اوړي، خو لا اوس هم پر خپلو پښو ولاړې دي.

يو وخت د سيمې يوه عمر خوړلي بوډا د خپل پلار له خولې کيسه راته کوله، چې د دې کلاوو په ختې کې به يې څو جوړې غوايي ګرځول، چې ښه سره ګډه او پخه شي. بيا به يې لږ ختې وتلله، ماخوستن به يې په اوبو کې کېښوده او سهار به يې په تله کې واچوله. که به په وزن پوره وه، مانا دا چې د پخښې د وهلو لپاره تياره ده، که نه نو بيا به يې تر هغو غوايي په کې ګرځول، چې ښه به پخه شوه.

Download from: ketabton.com

د خدایداد پر کلا هم شپږ- اووه شله کاله اوښتي وو. دا کلا ده ته له پلاره او نیکه ورپاتې وه او د معلوماتو له مخې دی یوازې په کې اوسېده.

د سهار له اذان سره مې اودي ته پښې وروغزولې، اوبه سړې وې او پښې مې تر بېدیو پورې په مله (اوبړی) کې ښخې شوې. د خدایداد په باب مې مخکې لا معلومات ترلاسه کړي وو. تر بدی راوروسته به یې توپانچه تړله او له کوره ډېر نه راووت، خو دی لمونځ گذاره سړی و. د پخوا په څېر به یې جمعه نه پرېښوده.

د سهار خړه زما لپاره هم ښه وه، تر وار وروسته په اسانۍ تښتېدلای شوای، ځکه خدایداد تربرونه لرل او ورځ راته خطرناکه وه.

یو څه انتظار مې لا نور هم وایست. د لمر ختو خوا ته اسمان روښانه شوی و او د کلا لویه دروازه له ورایه ښکارېده. ناڅاپه مې بدن زیږ شو. د دروازې ځنځیر پر دړه ولگېد. ټوپك مې ورواړاوه. زه پوهېدم چې بل څوك نه دی، ځکه خدایداد یوه ناروغه مېرمن، پېغله لور او دوه کوچني زامن لرل، چې زامن یې لا د لمانځه نه وو.

خدایداد مې هم نه شو غلطولای. ما یو- دوه ځله په گنج (دڅارویو د پلورلو ځای) کې لیدلی و. ده د مالونو سوداگري کوله.

د ټوپك پر کولنگ مې د ښي لاس بټه گوته ټینگه کړه. ټوپك مې تیار ونیو، د دروازې یوه پله په غنجا سره چوله شوه. کینه سترگه مې پټه کړه او په ښۍ سترگه مې د ټوپك زخه او دروازه په یوه لیکه سره راوستل. خو ناڅاپه مې بدن زیږ شو. زړه مې ولړزېد او د ټوپك خوله بې واکه رانه ټیټه شوه. لومړی مې یو گړی ولید، بیا سپین مړوند، ورپسې د تور ټکري پیڅکه او وروسته یوه دنگه نجلۍ.

بې اختیاره مې په اوبو کې گونډې ووهلې. سر مې پورته کړ، سترگو ته مې یوازې لوخې ولاړې وې، د ورمېږ په کړولو سره مې یوه چوله پیدا کړه. نجلۍ د دروازې تر مخ ولاړه وه. یو- دوه ځله یې دېخوا ها خوا وکتل او نېغه زما لور ته رارروانه شوه. بېرته مې سترگو ته لوخې په خوله ورکړې. شېبه وروسته مې پنځه- شپږ گامه ها خوا، په اوبو کې چړپا واورېده. په احتیاط مې ورمېږ کوږ کړ. نجلۍ د کارېز خولې ته نږدې ناسته وه، د څېرې یوه خوا یې ښکارېدله، ټکری یې مازې پر ککرۍ تم و. هغې تور او پېچلي وېښته لرل او تر لنډې سپینې زنې یې رنې اوبه څڅېدې.

نږدې ټوخي زما ملا لاپسې کړوپه کړه، بېرته مې لوخې سترگو ته ودرېدې. د یو ډېر نارینه غږ مې واورېد:

شېرینو بچوا نن تنور ته ولگوه، د مور دې بیا تبه ده!

د نجلۍ نری غږ مې په زړه کې پرېوت:

همدا اوس ور ځم.

Download from: ketabton.com

نه پوهېږم چې ولې د �ځم� ټکی راباندې ښه ونه لګېد. بې اختیاره مې بیا غږی اوږده شوه. دا ځل د نجلۍ ټوله څېره ښکارېده. سترګې یې غټې وې، خو پزه او خوله یې واړه جوړ شوي وو. د هوسۍ د بچي غوندې معصومه او مینه ناکه راته وایسېده. سړي ته مې وکتل. خدایداد و. د واسکټ له سوریو نه یې لاسونه کښل او په تشي پورې یې یوه تویانچه ځړېده.

بېرته مې د نجلۍ خوا ته سترګې وروا ړولې، زړه مې ولړزېد. هغې د لوخو خوا ته کتل. ورو مې غړی راټوله کړه، تر هغو مې ساه نه ایسته، چې په اوبو کې مې د ګړي د ډوبېدو ګوړ- ګوړ واورېد. ټوپك ته مې وکتل، پر ماشه ولاړ و. ما په ډېره اسانۍ سره د خپل دښمن ککرۍ سورۍ کولای شوای، هغه پنځه- شپږ ګامه لیرې اوداسه ته ناست و، خو بېوا که د میل خوله په اوبو کې رانه ډوبه شوه.

شېبه وروسته نجلۍ ګړی په اوږه د کور خوا ته روانه شوه، چې تنور بل کړي. خدایداد د جومات لاره ونیوله، چې خپل خدای ته پر سجده پرېوځي، خو ما د خپل کلي ملا په پام کې نیولی و، چې د خپلې مینې لپاره د قسم د ماتولو کفاره ورنه وپوښتم�

بوډا وټوخل او خبرې یې غوځې شوې.

ما غوښتل چې د هغه په اړه ډېر څه واورم، ځکه تر اوسه مې لا د خپلو پوښتنو ځوابونه نه وو موندلي، خو شپه ناوخته وه او د ساعت دواړې ستنې پر دوولسو ولاړې وې. هغه سخته ورځ تېره کړې وه او استراحت ته یې اړتیا درلوده. ورو مې وویل:

کاکا له خوبه مې وایستې!

ده وخندل:

نه بچیه! زاړه خلك هومره ډېر خوب نه کوي، خو ته ځوان یې، تاته به خوب درځي.

ده رښتیا ویل، زه به هر ماخوستن لا پر نهو بجو په بستره کې پروت وم، خو زړه مې غوښتل چې د بوډا له خولې ډېر څه واورم، بیا هم د نزاکت له مخې ولاړ شوم او بوډا ته مې وویل:

د شپې خو به اوبه نه څښې؟

ده راته وکتل:

نه بچیه! خو نن درې لمونځونه رانه قضا شول، اودس به لا وکم.

د بخارۍ له اودان نه مې بدنۍ ورډکه کړه، جاینماز مې ورته کېښود، شپه په خیر مې ورته وویل او له کوټې ووتم.

Download from: ketabton.com

***

سهار وختي جومات ته لاړم. جمعه ولاړه وه، خو په کتار کې مې بوډا ونه لید. تر لمانځه وروسته کور ته راغلم. بوډا د مېلمنو په کوټه کې لمونځ کاوه. هوا سړه وه او د کړکیو پر لویو ښیښو یخنۍ ښکلي میناتوري ګلان انځور کړي وو. بخارۍ ته مې اورلګیت ورته کړ، بوډا سلام وګرځاوه او لنډه دعا یې وکړه. ما وویل:

شپه دې څنګه وه؟

مخ یې راواړاوه:

ښه وه، خو لږ تبه مې درلوده.

له دې سره بسترې ته وروښویېد او خپل خوار لېنګي یې په برستن کې پټ کړل.

ما یې د ښي لاس تر بند خپلې ګوتې تاو کړې، رګ یې په عادي توګه غورځېده، ومې ویل:

لکه چې اوس ښه یې؟

ځواب یې راکړ:

هو زویه! خو د شپې کله- کله خوله راباندې راتله.

ومې خندل:

خیر! زه به ګولۍ درته راولېږم.

کور ته لاړم، شېبه وروسته مې د چای په پتنوس کې دوې ګولۍ هم کېښودې او پتنوس مې د کوچني ورور په لاس د مېلمنو کوټې ته ورولېږه. زه په دالان کې له مور سره کېناستم. هغې په دېګۍ کې پیاز سره کول، ویل یې چې غوړي او بوره خلاص شوي، څه نوره سودا هم په کار ده، خو ما د لارې د بندېدا خبره رامنځته کړه او ومې ویل چې واوره ډېره ده، بازار ته تګ نه کېږي، ښه به دا وي چې د اوس لپاره دا شیان له کوم ګاونډي نه په پور واخلي. بله چاره نه وه، هغې هم زما خبره ومنله. د چای تر ګرمولو وروسته د خپل تره کره ورغلم. د دوی د مېلمنو په کوټه کې زما د تره زوی او د کلي پنځه- شپږ ځوانان سره راټول وو او ټیکه (د قطعو یو ډول لوبه ده) یې کوله، ځکه واوره ډېره وه، هېڅوك هم له کوره نه شوای وتلای او ځوانانو به خپل ډېر وخت په قطعواو بنډارونو تېراوه. ماته هم وار راورسېد، خو لا مې قطعې په لاس کې نه وې سره جوړې کړې، چې د تره ټوخی مې واورېد. هغه سپین ږیری و، قطعې یې د شیطان کار ګاڼه او بد یې ورنه راتلل، ځکه مو په بېړه قطعې سره ټولې او تر توشکو مو لاندې کړې. تره مې کوټې ته راغی او کېناست. د مساپر پوښتنه یې رانه وکړه. بیا یې یوه بل ځوان ته مخ ورواړاوه، هغه یې ګرم کړ چې جومات

Download from: ketabton.com

ته نه راځي او په لمانځه کې یې خوند نه شته. بیا د عبادت د ارزښت په اړه وغږېد. پر یوه لمانځه یې مخ ته جنتونه راته کېښودل او د لمانځه د قضا سزا یې د دوزخ په اور کې اویا زره غوټې یادې کړې.

تره مې ملا نه و، خو د فقهې، بوستان او ګلستان پاڼې یې کتلې وې او د کلي د جومات د ملا په غیابت کې به په ده پسې قد قامت ویل کېده. دی یو- یونیم ساعت د جنت او دوزخ پر درجو وغږېد او بیا لاړ.

د تره له وتو سره بېرته د قطعو میدان سور ونیو، خو ما ډېر ژر لوبه بایلوده او له خونې نه ووتم. د خپل کور د مېلمنو د کوټې تر مخ مې ناڅاپه ښۍ پښه وښوېېده او د شا پر تخته ولوېدم.

لومړی مې د ورسۍ د پلې د خلاصېدو غږ او ورپسې مې د کوچني ورور خندا واورېده. سر مې پورته کړ، ورور مې د ورسۍ له پلې سر راایستلی او خوله یې له خندا نه سره تولېده. د هغه تر څنګ بوډا هم په یوه سترګه راته کتل، خوله یې ویره وه، خو د خندا غږ یې نه راته. ولاړ شوم. په جامو پورې نښتې واوره مې وڅنډله او کوټې ته ورغلم. ورور مې خندل... بوډا هم وازه خوله نیولې وه او سترګه یې د کوکۍ غوندې ځلېده. ورور مې په خوند وویل:

لالا! ښه درب دې وخوړ.

ما په خندا خپل ښوی بوټونه ملامت کړل. بیا ورمخته شوم، د ورسۍ پله مې وتړله او د بخارۍ تر څنګ کېناستم.

ورور ته مې د چای د راوړلو وویل، هغه له کوټې ووت. بوډا وویل:

بچیه! کوم کلي ته به منډ نه وي تللی؟

د هغه دې خبرې وپوهولم، چې سړی کوم ځانګړي ځای ته د تګ نیت نه لري، بلکې بې هدفه پر جوماتونو ګرځي او خپلې شپې سبا کوي. تر خولې مې ووتل:

کاکا! یوه پوښتنه درنه وکم؟

_ولې نه، شل پوښتنې خو وکه!

ومې ویل:

کور، څوك خپل- پردی لرې، که نه؟

سر یې وخوځېد.

ما وویل:

خوا مه بدوه، که دې زړه نه وي، څه مه وایه، خو د اوس لپاره دا ځای درته ښه دی.

Download from: ketabton.com

یو سوړ اسوېلی یې وایست:

څه درته ووایم، هم یې لرم او هم یې نه لرم.

ومې ویل:

پوه نه شوم، خو ستا له بېګانیو خبرو معلومېږي چې واده دې کړی.

بوډا سر جګ کړ، په سترګه کې یې اوښکې رغړېدې، سپېرمې یې سره ورغلې، پزه یې پورته کش کړه او شونډې یې وخوځېدې:

هو زویه! هماغه د خدایداد لور مې وکړه.

دا یې وویل او بېرته غلی شو.

مخکې تر دې چې پر خپله خبره غور وکړم، له خولې نه مې ووتل:

کېدای شي چې د خپل ژوند کیسه راته تېره کې؟

پر شونډېو یې یوه ترخه موسکا وغزېده او ورو یې وویل:

څه ګټه به درته وکي؟

سپینه خبره مې ورته وکړه:

داسې ښکاري چې ډېر غمونه دې تر شا پرې ایښي دي، غواړم ستا د ژوند په راز پوه شم.

بیا یې سر وخوځېد، ما وویل:

خیر، ته مجبوره نه یې چې د خپل کور خبرې یوه پردي ته وکې، ما وبخښه!

له دې سره ولاړ شوم، خو بوډا تر پایڅې ونیولم او ورو یې وویل:

کېنه زویه! ته زما د لمسي پر ځای یې.

ما هم پلتۍ ووهلې او بوډا پر خبرو راغی:

زما واده د بدۍ واده و، نه ډول و او نه هم ورا، بس د کلي دوه- درې سپین سرې ورغلې او د خدایداد لور یې

راخوندي کړه. ماښام مې د کلي ملا او یو دوه کسه سپین ږیري راوبلل. ډوډۍ مو وخوړه او د نکاح پر وخت مې میره کوټې ته راننوته. سترګې یې سرې وې او په چیغو یې پېغورونه راکول چې د پلار قاتل دې د یوې مردارې لپاره

Download from: ketabton.com

وباخښه. هغې ژړل، سپکې سپورې یې ویلې او غږ یې ناوې هم اورېده، څکه موږ دوې کوټې درلودې چې یوازې یوه دالان (د اور ځای) سره بېلې کړې وې او ناوې د کلي له یوې زړې ښځې سره په دوهمه کوټه کې ناسته وه. میرې مې هماغسې په ژړا کې پېغورونه راکول، خو زما سر ځړېدلی و او هېڅ مې هم نه شو ویلای. اخر د کلي یوه بوډا مخ پرې ورواړاوه او په خشکه یې ورته وویل:

بس که نور، مالك څه ګرم دی؟ دا د جرګې پرېکړه وه.

بیا د کلي ملا په نرم غږ وویل :

خورې! مالک هغه څه وکړل چې د خدای خوښه ده، په بدۍ څه نه جوړېږي.

له دې سره میره له کوټې ووته، خو د کوټې تر مخ له چوترې نه یې د ژړا غږ راته.

د نکاح پر وخت نه د ځوانانو ټوکې ټکالې وې او نه هم د پېغلو د سندرو غږ. بس ما یوسپین ږیری خپل وکیل ونیو او نجلۍ ته هم ملا له دالان نه درې ځله ورغږ کړ چې نکاح دې قبوله ده؟ کله چې نجلۍ څه ونه ویل، ملا پټه خوله اقرار وګاڼه او نکاح وتړل شوه. شېبه وروسته مېلمانه له کوټې ووتل او زه یوازې پاتې شوم. بیا د کوټې کوچنۍ دریڅه د لاټین رڼا روښانه کړه او ورسره مې د ګاونډۍ سپین سرې غږ واورېد، چې په چوتره کې یې زما میرې ته د صبر غوښتنه کوله. وروسته رڼا ورو- ورو کمزورې کېده او وپوهېدم چې بوډۍ خپل کور ته روانه ده.

زه هم ولاړ شوم. دباندې ووتم. میره مې په چوتره کې ناسته وه، خو څه یې ونه ویل. د انګړ دروازه مې خلاصه کړه اوپه توره شپه کې د کارېز د دنې (خولې) خوا ته روان شوم. دنه کور ته نږدې وه. کله چې مې په اوبو کې لاسونه ډوب کړل، ستورو ټال وخوړ او رنګ شول.

تر اوداسه وروسته بېرته کور ته راغلم، میره په چوتره کې نه وه او د پیالې له کړپ نه وپوهېدم چې کوټې ته تللې ده. دالان ته ورننوتم، د خپلې کوټې وره ته مې لاس وروغزاوه، خو ګوتې مې په هوا کې سره راټولې شوې او همالته د اور په ځای کې کېناستم. زړه مې درېبېده او پر تندې مې خوله راماته وه، څکه زه په خپل دوه دېرش کلن ژوند کې په لومړي ځل یوې نجلۍ ته ورتلم. پوهېدم چې ما له هغې سره شرعي نکاح تړلې وه، خو بیا مې هم له شرمه پښې نه پرې ورتلې. یوه شېبه همداسې غلی ناست وم، بیا مې زړه ته پرې ورواچول او د کوټې دروازه مې خلاصه کړه. په تور ټکري کې پټه یوه نجلۍ په کونج کې ناسته وه. سر یې په ځنګنو ایښی و او په ټیټ غږ یې ژړل. په بېړه مې څادر اوار کړ او پر لمانځه ودرېدم. ما به تل خپل لمانځه ته پام کاوه، خو دا ځل مې په نهو رکعتونو کې درې ځلې د سهوې سجده وکړه. تر دعا وروسته مې مغزی کوږ کړ. نجلۍ د پخوا په څېر ناسته وه او ورو- ورو سونګېده. ځان ته مې کاوږ راغی او په لومړي ځل مې له ځانه ورټ (کرکه) وشو، څکه ما تر اوسه یوازې د خپلې خوښې په اړه فکر کړی و. زما په زړه کې دانه وو راتېر شوي، چې هغه به څومره هیلې او ارمانونه لري!

Download from: ketabton.com

د نجلۍ له ځنګانه نه پر ځړېدلي لاس د نکريزو د رنګ پر ځای وچ اوړه سريښ وو او سپينه پښه يې له يوې سپخېدلې (شلېدلې) خيرنې ګلابي رنګې پايڅې نه راوتلې وه. په ټکري پورې يې د بوسو څو خلي نښتي وو او ماته داسې واېسېده، لکه د کور له کاره چې يې راولاړه کړې وي؛ د هغې پر تن د ناويتوب هېڅ نخښه نه ښکارېده.

څو شېبې همداسې په چورت کې ډوب وم. زړه مې نيولی و او د هغې هرې سونګېدا زما په زړه کې لارې جوړولې، خو بله چاره نه وه. اوس زه او هغه مېړه او ښځه وو او ما بايد د هغې اوښکې ورپاکې کړې وای. سل زړونه مې سره يو ځای کړل او ورو مې وويل:

ژړا کومه ګټه نه لري، بس نو له خپله قسمته يې وګڼه .

خو نجلۍ هېڅ ډول غبرګون ونه ښود، د پخوا په څېر يې سر پر ځنګنو ايښی و او هماغسې يې ژړل...

ما هم نور څه پر خوله رانه وړل، بالښت ته مې ډډه ووهله او د لاټين په ژېړه رڼا کې مې چت ته وکتل. د تورو لرګيو له پاسه تر پرتو لښتو لوټې راوتلې وې او په يوه چوله کې د څرموښکۍ لکۍ ښکارېده.

د جامو شورېدا مې تر غوږ شوه، نجلۍ ته مې وکتل. خپله ښۍ پښه يې وغزوله، خو بېرته يې ژر ورټوله کړه او د پخوا غوندې کېناسته. پوه شوم چې له ډېره وخته همداسې ناسته ده او پښې يې وچې شوې دي. په خندا مې وويل:

ارامه کېنه، زه نه درته ګورم.

له دې سره مې څنګ بدل کړ او مخ مې دروازې ته ورواړاوه. خو د دروازې تر څنګ مې د شوروا پر لنده ډوډۍ سترګې ولګېدې، چې يوه بوټۍ غوښه يې هم پر سر پرته وه او هېڅ ګوله نه وه ورنه پورته شوې. ولاړ شوم، کاسه او دسترخوان مې د نجلۍ تر مخ کېښودل، څراغ مې هم ورنږدې کړ، ورو مې وويل:

ګوره! له خپل ځان سره ظلم مه کوه، خير دی، که لنده ډوډۍ سړه شوې ده، دا غوښه خو درواخله!

خو هغه لکه بوت داسې ناسته وه. دا ځل يو څه کاوړ راغی او په خشکه مې وويل:

اوس بله چاره نه لرې، که خوشاله يې، که خپه، زما سره به ژوند کوې!

په دې خبره د هغې ښی لړزانده لاس له ځنګانه وښوېد، کاسې ته ورټيټ شو او د لندې ډوډۍ يوه کوچنۍ ګوله يې ورپورته کړه.

ما يې يوازې لنډه زنه وليده چې د ډوډۍ په ژدوولو شورېده، ځکه پر څېره يې ټکری را ځوړند و او ان خوله يې هم په کې پټه وه.

پوه شوم چې هغې له وېرې کاسې ته لاس وروغزاوه، ځکه مې خپل غږ بېرته پوست کړ:

Download from: ketabton.com

ګوره! په خوابدون څه نه جوړېږي، نه به زه خوند درکوم او نه هم زما ميره او دا کور، خو اوس خدای سره وروستي يو، چاره څه ده؟

دا مې وويل او په دې هيله چې نجلۍ په ډاډه زړه ډوډۍ وخوري، بېرته پر خپل ځای پرېوتم او څادر مې پر سترګو راکش کړ.

چوپه چوپتيا شوه او زه وپوهېدم چې نجلۍ له ډوډۍ نه لاس نيولی دی. دا ځل مې خپل ځان پرې پوه نه کړ او هغه مې پر خپل حال پرېښوده. ښه شېبه ووته او بيا مې د نجلۍ د پښو ښکالو تر غوږ شوه. هغه زما تر څنګ تېره شوه او وپوهېدم چې کاسه او دسترخوان يې پر خپل پخواني ځای کېښودل. بيا يو سيوری راباندې راغی، زما تر څنګ ترلې بستره خلاصه شوه او ورسره مې پښو ته نږدې پر غولي د توشکې د لوېدو غږ واورېد. څادر مې چوله کړ. د نجلۍ راته شا وه، خو له لوڅ غوږ او پېچلو وېښتو نه يې وپوهېدم چې ټکری يې پورته کړی دی. په خندا مې وويل:

هغه بله توشکه هم درواخله!

په چټکۍ سره يې راته وکتل. ما يې په شونډو کې خندا وليده او په هماغه چټکۍ يې مخ رانه واړاوه. يو ټکی يې له خولې راووت:

اکربه.

اکرب موږ بې موره ته وايو، خو د هغې له خولې خوږ راباندې ولګېد. هغې توشکې ته بالښت کېښود، بړستن يې سمه کړه، ټکری يې پر خپل مخ راکش کړ او بېرته پر خپل ځای کېناسته. ما هم پلتۍ ووهلې او په خندا مې وويل:

که مې خدای غلط نه کړي، لکه چې لېونۍ مې په نصيب شوه!

هغې سر پورته کړ او ما يې لاندېنۍ ډکه سره شونډه وليده، چې د لاټين رڼا نرۍ ليکه په کې جوړه کړې وه.

ومې خندل:

ګوره! زه خو څه پردی نه يم، چې مخ دې رانه پټ کړ.

هغې څه ونه ويل. ما ځان خواشينی ونيو او په خوابدي غږ مې وويل:

هو رښتيا! هېر مې و، چا راته ويل چې په سترګه کې دې ګل دی.

نجلۍ بيا هم کوم غبرګون ونه ښود او ما هماغسې په خواشينۍ زياته کړه:

څه قسمت به مې همداسې وي.

Download from: ketabton.com

شونډې يې وخوځېدې او په يوه داسې غږ، چې د ټوکې بوی ورنه ته، ويې ويل:

اکربه! تر تا خو ښه يم.

په بېړه مې ورغبرګه کړه:

زړه ته مې نه لوېږي.

نجلۍ څه ونه ويل. ما زياته کړه:

پزه به دې هم کږه وي.

ويې خندل. ورو يې پر خپله ککرۍ لاس تېر کړ، مخ يې تر تندي پورې لوڅ شو، خو سر يې څوړند نيولی و او د تار-تار ښڼو اوږده سيوري يې د سپينو بغورو پر پاسنۍ برخه ښکارېدل.

په خندا مې وويل:

نو زه دومره بدرنګه يم چې راته ګورې لا نه؟

يو نظر يې راته وکتل، پر دواړو بغورو يې اوښکو ليکې جوړې کړې وې او په سرو سترګو کې يې شرم او معصوميت پروت و. ما لا هغې ته سم نه وو کتلي چې بېرته يې سر وځړېد. ورو مې وويل:

زه ډېرظالم يم.

شونډې يې وخوځېدې:

نه.

ـنو مخ ته دې يو- دوې لپې اوبه ورواچوه، خواشينې ښه نه ښکارې.

نجلۍ ورو ولاړه شوه او له کوټې ووته. کله چې بېرته د څراغ رڼا پرې ولګېده، نو مخ يې لوند و. زه خپلې بسترې ته وروښويېدم، خو نجلۍ د کوټې په بل سر کې ځانته ځای جوړ کړ. په خندا مې وويل:

يوه شپه خو نه ده، سبا به څه کوې؟

هغې يوازې وخندل او پرته له دې چې ټکرۍ له سره ليرې کړې، بړستن يې پر ځان ورکش کړه. ما هم يو څه شېبه د شغالانو انګولا ته غوږ نيولی و، بيا مې د څراغ پليته ټيټه کړه او په داسې حال کې چې زړه مې دربېده او ټټر مې په خولو لوند و، د هغې په بړستن ورننوتم.

Download from: ketabton.com

بوډا غلی شو او کله چې ما ورته وکتل، پر خړو شونډو يې يوه نرۍ موسکا پرته وه او په سترګه کې يې چې دروازې ته يې وچه نيولې وه، يوه مرموزه ځلا ښکارېده، ورو يې وويل:

لکه چې چای يې راوړ.

ده رښتيا ويل، له دهلېز نه د پيالو د رېږدېدا غږ راته. بيا دروازه خلاصه شوه او ورور مې چې په يوه لاس کې يې پتنوس او په بل لاس کې يې چايجوش نيولی و، کوټې ته راننووت. دواړه يې پر غولي کېښودل او منډه يې واخيسته، په غوسه مې پسې غږ کړ:

سړی نه يې!

ده په داسې حال کې چې بوټونه يې په پښو کول، په لوړ غږ وويل:

لالا! پر دام مې مرغۍ راټولې وې.

له دې سره يې له وره نه درب وايست.

ما سر وخوځاوه.

بوډا وويل:

د څه شي دام؟

ومې خندل:

هېڅ، سهار يې يو- دوه ګامه ځمکه توره کړې وه، بس! غلبېل ته لښته ودروي، تر لاندې يې يو څو دانې غنم واچوي او چې کله خړې مرغۍ دانو ته ورننېږدې شي، نو له ورسۍ نه په لښته پورې تړلی تار ورکش کړي.

بوډا وخندل.

ما له چايو دوې پيالې ډکې کړې او په خندا مې وويل:

ښه، کيسه دې کوله.

شونډې يې وخوځېدې:

سهار د ميرې په تېره غږ له خوبه رابيدار شوم، هغې چيغې وهلې... لغړې، پمنې، د خوني لورې!... اوس مې په سترګو هم راننوځې .

Download from: ketabton.com

له دې سره زما د کوټې دروازه خلاصه شوه، نجلۍ په ډکو سترګو کوټې ته راننوته او وره ته نږدې يې سر پر ځنګانه ولګاوه.

زړه مې درد وکړ، ولاړ شوم او د هغې تر څنګ کېناستم، ورو مې وويل:

ګوره! ته بايد غټ زړه ولرې.

هغې سر هسك کړ، شونډې يې سره سرېښ وې، خو له سترګو نه يې اوښکو منډې وهلې. ما خوله خبرو ته جوړوله، چې د کوټې تر مخ مې د چايجوش د رغړېدو غږ واورېد. د دريڅې پرده مې چوله کړه، يو تور چايجوش په چوتره کې ړنګ پروت و او له لندې ځمکې نه تاو پورته کېده. پرده مې پرېښوده، نجلۍ ته مې مخ وراواړاوه:

ګوره! ميره مې...

خو د هغې ژړا زما په خوله کې خبره وچه کړه، سر يې زما پر ښۍ اوږه کېښود او د ماشومانو غوندې يې په چيغو- چيغو وژړل. وروسته يې په ژړا کې وويل:

ابۍ نه ده ګرمه، د هغې د زړه پرار (ټپ) لا نه دی سره ورغلی، خو ما سپين سترګي وکړه او چای مې وروور. زه سپېره بايد دومره ژر نه وای ورسره مخامخ شوې.

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، د هغې پر سر مې لاس کېښود او ومې ويل:

ته سپېره نه يې، زما زړه يې زړه!

له دې سره يې سر پورته کړ او زما پر کينه اوږه يې ګوتې ټينګې کړې. هغې ورو- ورو ژړل او ما هم پرېښوده چې زړه يې تش شي.

کله چې يې ژړا سلګيو ته ځای پرېښود، نو په خندا مې وويل:

شېرينو خو ما دومره کمزورې نه بلله.

سر يې پورته کړ، په خبره کې يې ژړا او موسکا ګډه سره ښکارېده، تر يوې سلګۍ وروسته يې وويل:

اکربه! زما نوم دې له کومه زده کو؟

ومې خندل:

ځکه چې شېرينه، شېرينو وي.

شونډې يې موسکۍ شوې.

Download from: ketabton.com

ما وویل:

زما لپار چای نه راوړې؟

ویې خندل:

خو ته به هم چایجوش له ځمکې وولې!

په چټکی سره مې لاس وروغزاوه، تر پزې مې ونیوله او په خندا مې وویل:

نه، زه به دې وخورم.

په خندا ولاړه شوه. ټکری یې پر مخ کش کړ او له کوټې ووته. زه هم انګړ ته لاړم، له څا نه مې اوبه راوایستې، مخ مې پرېمینځه او کله چې بېرته په کوټه ننوتم، د دریڅې پرده پورته شوې وه. پر دسترخوان چای او ډوډۍ پراته وو او شېرینو هم برستنې په بوغبند کې تړلې. پیاله مې راپورته کړه، هغې ته مې وکتل، خړه- پړه ښکارېده، په ډکه خوله مې وویل:

نن به یو دوه کمیسه درته راوړم.

ویې خندل:

نه، په همدې کې به ګذاره وکم.

خو هغه په یو جوړ جامو کې راغلې وه او جامو ته یې ضرورت درلود، ومې ویل:

په یو جوړ جامو کې ګوزاره نه کېږي، دا راته ووایه چې څه ډول رنګ دې خوښ دی؟

_هر رنګ چې ستا پر زړه برابر وي.

یوه شېبه غلې شوه او بیا یې وویل:

خو په یوه شرط!

خندا راغله:

کوم شرط؟

دا چې ابۍ یې ونه ویني.

خندا می زور ونیو:

Download from: ketabton.com

لېونۍ! نو څه وخت به یې اغوندې؟

په شرمېدلي غږ یې وویل:

ماخوستن، ماخوستن!

ما وخندل، د چایو تشه پیاله مې پر دسترخوان کېښوده او ولاړ شوم.

شونډې یې وخوځېدې:

چېرته؟

ومې ویل:

یو ځل له میراو نه د اوبو د وار پوښتنه کوم، بیا له هغه ځایه بازار ته ځم، بل څه خو به دې نه وي په کار؟

هغې راته وکتل او د ځواب پر ځای یې په شرمېدلي غږ وویل:

اکربه!

له دې سره رامخته شوه، زما پر ږیره یې لاس تېر کړ او کله چې مې د هغې ګوتو ته وکتل، نو په سپینو ګوتو پورې یې دوه- درې تاره اوږده، پېچلي وېښته ځړېدل.

بوډا غلی شو، تشه پیاله یې د ډکولو لپاره رامخته کړه او بېرته پر خبرو راغی:

اه زویه! څه درته ووایم، ما د لومړي ځل لپاره خوشالي موندلې وه او له ژوند نه مې خوند اخیست. د ورځې ټوله سترړیا به مې د شېرینو په لیدو له یاده وته. هغه هم ورو- ورو راسره روږدې شوه او وپوهېده، چې پر ما ګرانه ده. جامې مې پاکې شوې، خوراك مې سم شو، له هغې سره مې خوله په خندا روږدې شوه او ژوند ته مې په مینه کتل، خو د میرې وینه نه ورګډېده، په مازې خبره به یې سپکې سپورې ورته ویلې او تل به یې له څنګو نیولې وه، خو دې به هېڅکله ماته څه نه ویل. ټوله ورځ به د کور په کار اخته وه؛ لاسونه به یې د لوښو په مینځلو غوړ وو او پزه به یې د نغري ایرو توره کړې وه، خو ماښام به له ما سره په پاکو جامو او پرېولي مخ ناسته وه، شېرینو خوشاله ښکارېده، هېڅوخت به یې زما تر مخ د خپل پلار کور نه یاداوه، خو د شپې به یې په خوب کې له مور او ورونو سره خبرې کولې. یو دوه ځله مې وریاده کړه چې د خپلې ناروغې مور پوښتنې ته ورشي. دې به نن سبا راته کول، خو بیا وپوهېدم چې میره اجازه نه ورکوي. اخر د واده په دریمه میاشت د خپلې مور په مرګ د پلار کور ته لاړه، لس ورځې یې تېرې کړې او کله چې بېرته راغله، رنګ یې ژېړ ښکارېده. میرې به سپکوله، پوچ او پاش به یې ورته ویل، خو دې به هېڅکله پر خوله نه راته راوړل. میرې ته به یې ابۍ ویل او د هغې له ناروا سره- سره به یې تل ښه خوله ورنه وهله، خو کله- کله چې به ډېره سخته پرې راغله، نو د ژړا لپاره به یې ګوښه ځای پسې غوښت.

Download from: ketabton.com

بوډا یوه شېبه غلی شو، ماته یې وکتل او بېرته یې شونډې وخوځېدې:

یوه غرمه له کاره سترې کور ته راغلم، وار له واره مې په چوتره کې له غوښو ډک غاب ته نږدې، پر خړ پوټې د وینو داره تر سترګو شوه، بیا د وینو لیکه په څاڅکو بدله شوې وه او کله چې دالان ته ورننوتم، زړه مې ولړزېد؛ د شېرینو مټ، یوه خوا کمیس او د ټکري پیڅکه په وینو سره وه او میرې مې د هغې د مټ په پرار سوځېدلې ټوټه ایښوده. د میرې چې کله سترګې راباندې ولګېدې، نو تلولۍ غوندې شوه:

زه... زما...!

خو شېرینو په خوله کې ورولوېده او په بېړه یې وویل:

غوښه مې وړه کوله، چې چاړه خطا وته.

له دې سره مې میره په ژړا له دالانه ووته. په بېړه د شېرینو تر څنګ کېناستم، د وینې د تم کېدو لپاره مې د ټپ تر پورتنۍ برخې ګوتې راوګرځولې، په بل لاس مې له جېبه دسمال راوایست او نیولی ځای مې ټینګ پرې وتاړه. هغې ته مې وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې وې او کله-کله به یې په تندي کې د درد له لاسه ګونځې جوړېدلې. د هغې له نیولې څېرې نه وپوهېدم، چې د ډېرې وینې د بهېدو له امله یې زړه کمزوري ورکوي، ځکه مې تر مټ ونیوله او په کوټه کې مې برستن ورباندې اواره کړه. هغه وخت زموږ په ټوله ولسوالۍ کې ډاکټر نه و، ځکه نو د کلي ملا ته، چې د ډاکټرۍ په کارونو کې یې هم ګوتې وهلې، ورغلم. هغه په اوکلۍ (هاون) کې دوه- درې ډوله بوټي سره وټکول. بیا یې له یو رنګه سپینو پوډرو سره، چې د ده په وینا د چرګ مخه یې نیوله، ګډ کړل او رایاده یې کړه چې پر ټپ یې وتړه. کله چې بېرته کور ته راغلم، نو میره مې د شېرینو تر څنګ ناسته وه او هغې ته یې د بورې شربت جوړاوه. زما په ورتلو میره ولاړه شوه او له کوټې ووته. په حیرانتیا مې شېرینو ته مخ ورواړاوه:

د ابۍ پر زړه نن څنګه د رحم اوبه تېرې شوې دي؟

هغې څه ونه ویل.

ما پر ټپ تړلی دسمال خلاص کړ او په داسې حال کې چې پر پرار (ټپ) مې راوړي دارو ایښودل، ورو مې وویل:

څه کیسه وه؟

شېرینو تلولۍ غوندې شوه:

هېڅ...

ومې ویل:

Download from: ketabton.com

ابۍ ولې د چاړې وار دربانديږ وکړ؟

په وارخطايۍ يې وويل:

ما په خپله خپل لاس...

په خبره کې يې ورولوېدم:

ګوره! که چاړه ستا له لاسه خطا شوې وای، نو پر ګوته، ورغوي او يا به دې هم د لاس پر شاتنۍ برخه لګېدلې وای؛ مټ يې څنګه ژوبلاوه؟

سر يې وځړېد.

ما وويل:

زړه دې، خو درواغ ښه نه دي، هغه هم د ښځې او خاوند تر منځ.

په ژړغوني غږ يې وويل:

ابۍ په چوتره کې غوښه میده کوله، کله چې ما ورته وکتل، نو ډېره ورسره په تکليف وه، بايد يو چا د غوښې بڅري ورته نيولې وای، څکه يې تر څنګ کېناستم او غوښې ته مې لاس وروغزاوه، خو دې کار هغې ته خوند ورنه کړ. په خشکه يې پورې وهلم او په لاس کې نيولې تېره چاړه يې زما مټ ته سيخه شوه.

بوډا غلی شو، ماته يې وکتل او ويې ويل:

زويه! مينه تل ميدان وړي، د شېرينو زغم او تر ځان تېرېدنې اخر ميره وژړوله، د زړه خيرې يې اوښکو راوايستې او د خاوند تر مړينې وروسته يې يو ځل بيا پر کور زړه ولګېد. نور نو په کور کې د سپکو سپورو پر ځای د خندا غږ اورېدل کېده. ميرې به مې له شېرينو سره د کور په کارونو کې لاس ووړ. دواړو به يو ځای ډوډۍ خوړه، کيسې به يې کولې او تر غرمې وروسته به چې کله چوترې سيوری پيدا کړ، نو دواړې به پر زاړه ليمڅي ناستې وې او ګرېوانونه به يې جوړول.

ژوند په خوښۍ تېرېده، خو وروسته ما او شېرينو دواړو ته يوه اندېښنه راولوېده، څکه زموږ د واده درې کاله تېر شوي وو، خو اولاد مو نه کېده. دمونه مو وکړل، تاويزونه مو په غاړو وځړول، پر زيارتونو وګرځېدو، خو د شېرينو لمن زرغونه نه شوه. اخر چا راته وويل چې د غزني ښار ته يو ډاکټر راغلی، يو ځلې هغه ته ورشئ. ما هم د هغه خبره ومنله، ډاکټر څه دوا راته وليکله او څو مياشتې وروسته شېرينو په شرمېدلي غږ راته وويل چې په وجود کې يې يو بل زړه هم درېږي.

Download from: ketabton.com

آه زويه! انسان هغه وخت د سکون احساس کوي چې اروا يې پر کراره شي. نور مې نو هېڅ غم نه درلود او څه مې چې لرل، په هغه خوښ وم. خپل ژوند مې پر پاچاهۍ نه ورکاوه او ژوند ته مې په مينه کتل. خو هر څه بدل شول، هر څه، اخر نېکمرغۍ مخ رانه وګرځاوه.

بوډا غلی شو. ما ورته وکتل، څېره يې خواشينې وه او پزه يې تر پخوا ځړېدلې راته ښکاره شوه. بېرته يې شونډې وخوځېدې او پر خبرو راغی:

اه زويه! يوه شپه مې د شېرينو په زګېروي سترګې رونې شوې، څراغ مې ولګاوه او هغې ته مې وکتل. پر سپين تندي يې ځاځکی- ځاځکی خوله پرته وه او په غاښونو يې لاندېنۍ شونډه ټينګه کړې وه. هماغسې يې په زګېروي کې وويل:

ښه نه يم.

ما يې پر تندي لاس کېښود، د څراغ په رڼا کې يې شونډې خندنۍ شوې، خو ډېر ژر د درد څپه پرې راغله او په زحمت يې وويل:

اکربه! تبه مې نه ده، ابۍ ته ووايه!

وپوهېدم چې خبره څه ده. تر سر اينېښې خولۍ ته مې لاس وروغزاوه، خو د ولاړېدو پر وخت، شېرينو تر مټ ونيولم، هغې ته مې وکتل. سترګې يې له اوښکو ډکې وې او پر شونډو يې يوه مړاوې موسکا پرته وه، له درد سره يې په شرمېدلي غږ وويل:

اکربه! ته بيا مه راځه، د ابۍ په کوټه کې پرېوځه، ښه!

يوه شېبه يې تر مټ نيولی وم، په ځير- ځير يې راته کتل او له يوه درد سره يې زما لاس پرېښود. ما پر تندي ښکل کړه او ورو مې وويل:

لېونۍ! مه وارخطا کېږه، خدای به هر څه سم کړي.

له دې سره مې سترګې له اوښکو ډکې شوې، دالان ته لاړم او په توره شپه کې مې د ميرې د کوټې ور ورو وټکاوه. د هغې خوبولی غږ مې واورېد:

څوک يې ؟

ومې ويل:

زه يم، مالک.

Download from: ketabton.com

د اورلگيت د لګېدو له غږ سره مې د وره په چاکونو کې رڼا ولیده. میرې مې دروازه خلاصه کړه. دا پوهېدلې وه چې خبره څه ده، ځکه یې څه ونه ویل. ما لار ورکړه او هغې زما د کوټې د وره لاستي ته لاس وروغزاوه. زه د میرې په کوټه کې اوږد وغزېدم او په فکر کې ډوب شوم. ساعت_ نیم به وتلی و چې د میرې غږ مې واورېد. هغې ویل چې شاپواګۍ راولم. شاپو زموږ ګاونډۍ وه او د کلي ډېرو ښځو د دې تر لاس لاندې ماشومان زېږولي وو. ما هم څراغ راواخیست، دباندې ووتم او د ګاونډې د انګړ دروازې ته مې ډېره ونیوله. شېبه وروسته مې یو وارخطا نارینه غږ واورېد:

څوك یې؟

ځان مې وروپېژاند. دروازه خلاصه شوه او ګاونډۍ مې وپوهاوه، چې د څه لپاره راغلی یم، هغه کور ته لاړ او شېبه وروسته شاپواګۍ د لاټین په رڼا کې ښکاره شوه، چې په کړوپه ملا زما خوا ته راروانه وه.

درې- څلور دقیقې وروسته بېرته د میرې په کوټه کې اوږد وغزېدم او بوډۍ زما کوټې ته ورننوته، خو دا ځل مې د چونګښو په کوررړا کې د شېرینو زګېروي او یوه نیمه چیغه هم اورېده... د هغې چیغو زما په زړه کې ستنې تېرولې، ځکه مې یو غوږ پر توشکه ولګاوه او پر بل غوږ مې بالښت کېښود. ښه شېبه نوره هم ووته او بیا یو دم نېغ کېناستم. په زړه کې مې خوشالۍ منډه واخیسته او په غوږو مې د یوه ماشوم د ژړا تېرې کوکې ننوتې. بې اختیاره مې پر درۍ تندی ولګاوه او د شکر پر سجده پرېوتم، خو یو ناڅاپه مې د میرې کوکو په زړه کې غزېدلې خوشي بېرته راټوله کړه، زړه مې له خولې راووت او په توره شپه کې مې پر ترلي وره منډه ورواخیسته. سر مې پر دړه ولګېد او د شا پر تخته پرېوتم.

بوډا غلې شو او کله چې ما ورته وکتل، مخ یې د ورسۍ خوا ته واړاوه . ورو یې وویل:

لکه چې بیا واوره پیل شوه؟

غږ یې ژړغونی و او کله چې مې ښیښې ته وکتل، اسمان ورېځ و، خو د واورې اورېدل مې ونه لیدل. وروسته مې د بوډا لړزېدلي لاس ته پام شو، چې د تندي له خوا یې پر وېښتو تېر کړ، خو زه وپوهېدم چې په دې چل یې د لاس په ورغوي خپلې اوښکې پاکې کړې.

ساعت ته مې وکتل، د غرمې دوولس بجې وې، زړه مې غوښتل چې بوډا نور هم راوغږوم، خو هغه خوابدی و او ښه مې دا وګڼل، چې یوه شېبه یې یوازې پرېږدم. ورو ولاړ شوم، بوډا وویل:

څه کوې؟

_ډوډۍ راوړم.

Download from: ketabton.com

ځړېدلې شونډې يې خندا سره ويړې کړې:

وړی يې؟

ما وخندل:

وخت يې نه دی؟

په خندا يې وويل:

کېنه زوروره! اوس دې زما د زړه غوټې راوسپړلې، پرېږده چې يو څه تش شي.

ما هم له خدايه همدا خبره غوښته، پلتۍ مې ووهلې او بوډا هم د خپل ژوند کيسه پسې وغزوله:

زما د خوشالۍ عمر لنډ و، داسې لکه يو خوږ خوب او بس. په سبا يې د شېرينو پلرګنۍ راغله او جنازه يې خپلې هديرې ته يووړه. زه به د ورځې پر فاتحه ناست وم او ماخوستن به مې د وروسي يو دوې ګولې تر ستوني تېرې کړې. وروسی زموږ په خلکو کې يو دود دی. کليوال تر څو ورځو په خپل وار د کورنۍ نارينه ډوډۍ ته بيايي. ښځينه وو ته پوخ دېګ ورلېږي او په دې توګه خپله غمشريکي څرګندوي. ما چې به په هر کور کې ډوډۍ وخوړه، که به يې د مېلمنو کوټه لرله، نو همالته به مې سر ولګاوه، که نه نو په جومات کې به مې شپه سبا کوله. درې- څلور ورځې مې پر خپل کور پښې نه ور تلې، خو اخر مې د مجبوريت له مخې کور ته مخه کړه. چوپه چوپتيا وه، ان د کوټو دېوالونه هم خوابدي ښکارېدل. ميره مې په دالان کې وليده، چې په چوشک کې يې شيدې اچولې. کله چې يې سترګې راباندې ولګېدې، خوله يې جينګه شوه، سترګو ته يې ټکرې ونيو او په ژړا خپلې کوټې ته ننوته. يوه شېبه په دالان کې ودرېدم، بيا مې لړزېدلی لاس د کوټې وره ته وروغزاوه.

اه زويه! ملايان وايي چې د قبر تر تيارې بله وېره نه شته، خو ما په ژوندوني قبر وليد. ګام مې واخيست، د کوټې ور په غنجا راپسې پورې شو. پرده مې چوله کړه، سترګې مې وغړولې، پر خړه درۍ يوازې يو توشک پروت و، د شېرينو د لاس هېڅ نښه نه ښکارېده. د هغې بستره، جامې، پر مېخ ځوړند ټکرى او ان د هغې رانجه او سلايي، هر څه له کوټې ايستل شوي وو.

داسې احساس مې وکړ، لکه يوه لوی ګودال ته چې لوېدلی يم، داسې تياره ګودال ته، چې د وتو لار ونه لري او له مارانو او لړمانو ډک وي. پرده مې نوره هم پورته کړه او کله چې رڼا شوه، وار له واره مې په اينې کې خپلې څېرې ته پام شو، پر دېوال ځړېدلې اينې ته ورنږدې شوم. دې اينې ته يوازې څو ورځې مخکې ولاړ وم، په برېتو کې مې يو سپين وېښته ښکارېده، خو په ګوتو نه راته او کله چې د شېرينو راته پام شو، په بېړه يې وويل:

اکربه! مه يې ډېر ډېري!

Download from: ketabton.com

خو اوس مې ږیره او وېښته له سپینو خلو ډک وو او څېره مې دومره ګونځې- ګونځې راته وایسېده، لکه د څلورو ورځو پر ځای چې کلونه راباندې اوښتي وي. بې اختیاره مې اینې ته لاس وروړ او پر ځمکه مې د یو شي د لوېدو غږ واورېد. لاندې مې وکتل، پر یوې سرې رنګې ږمنځې مې سترګې ولګېدې چې له وېښتو ډکه وه. پر ګونډو شوم، ږمنځ مې له غولي راپورته کړه، د ږمنځې په ښاښونو پورې د شېرینو تور او پېچلي وېښته ځړېدل. بې اختیاره مې ږمنځ په ټټر پورې ونیوله. اوښکې مې له واکه ووتې، خو هڅه مې کوله چې له خولې نه مې کومه کوکه ونه وځي. یوه شېبه مې په ټيټ غږ وژړل... بیا ستوني ستغ پرېوتم. سترګې مې چت ته وچې نیولې وې، خو په ذهن کې مې شېرینو یوې او بلې خوا ته کېده؛ کله به یې خندل، کله به یې زما په وېښتو کې ګوتې تېرولې او کله به یې راته ویل: �اکربه! دومره ډېر کار مه کوه، ناروغ به شې.�

بیا یو دم کېناستم، زړه مې نیولی و، ټپکه نه راتله، کور داسې راته وایسېد، لکه خولې چې راباندې لګوي.

ناڅاپه ولاړ شوم، په دالان کې مې میرې ته ورغږ کړ. هغه راغله او په سرو سترګو راته ودرېده، بې اختیاره مې وویل:

زه ځم.

خوله یې وازه پاتې شوه:

چېرته؟

_نه پوهېږم.

څومره وخت؟

_نه پوهېږم.

هغې په رډو سترګو راته کتل، ما وویل:

باید د یو څه وخت لپاره چېرته لاړ شم، که نه زړه مې چوي.

د میرې غږ ژړغونی شو:

موږ چاته پرېږدې؟

_خدای ته.

دا وخت د میرې له کوټې نه د یوه کوچني چیغې پورته شوې... میرې مې وویل:

پر ماشوم څه نوم کېږدم؟

Download from: ketabton.com

ځواب مې ورکړ:

نه پوهېږم.

یو ځل یې وینې نه؟

_نه.

بوډا غلی شو. ماته یې مخ راواړاوه، په سترګه کې یې اوښکې رغړېدې، خو شونډې یې خندنی وې. هماغسې یې په خندا وویل:

اوس به یې وخت وي.

حیران شوم:

د څه شي وخت؟

_ډوډۍ یادوم.

ما وخندل او د ډوډۍ د راوړلو په نیت ولاړ شوم، خو له ورسۍ نه مې پر خپل کوچني ورور سترګې ولګېدې، چې چلمچی یې په لاس، د کوټې خوا ته راروان و. شېبه وروسته مو لاسونه پرېمینځل او کله چې مې دسترخوان اواراوه، نو پلار مې کوټې ته راننووت. هغه ویل چې دباندې جان ګل ولاړ دی او تا غواړي. جان ګل زموږ کلیوال و. ورغلم، هغه ته مې هم د ډوډۍ ست وکړ، خو ده زموږ ښکاري ټوپک غوښت، ویل یې چې دا دوې شپې یې د کور پر چرګانو کومه ګیدړه اموخته شوې. غواړي نن شپه ورته پټ شي او خوړلي چرګان ورباندې ذهر کړي. ما هم له کوره ټوپک ورته راوایست او کله چې بېرته د مېلمنو کوټې ته ورننوتم، پلار او بوډا دواړو د شولې له ډک غوري نه ګولې پورته کولې. زه هم د پلار تر څنګ کېناستم. بوډا په ډکه خوله د کاریزونو په اړه خبرې کولې. ویل یې چې قره باغ کوم رود یا سیند نه لري، ټولې ابادۍ یې د کاریزونو په اوبو ده. ده په دې ولسوالۍ کې پراته خلک تر دوو لکو زیات یاد کړل او دلیل یې دا راووړ چې یوازې د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره پنځه اتیا زره کارډونه اخیستل شوي وو، نو څومره به ماشومان وي، ښځو خو د بېلابېلو لاملونو له مخې کارډونه وانه خیستل او داسې ډېر نارینه هم وو چې نوم لیکنه یې ونه کړه.

بوډا خبرې کولې، خو ماته د کاریزونو په اړه معلومات په زړه پورې وو، ځکه مې د موضوع د رااړولو لپاره یوه ساده پوښتنه ورنه وکړه:

نو دا کاریزونه دومره ډېر دي؟

بوډا وویل:

Download from: ketabton.com

هو زويه! كه لوی او واړه كارېزونه حساب كړې، شمېره يې سلګونو ته رسېږي.

په خبره كې يې ورولوېدم:

دا كارېزونه به چا كيندلې وي؟

بوډا د خپل ښي لاس يوه- يوه ګوته په خپله ژبه وڅټله، وروسته يې وويل:

نه پوهېږم. سم او دقيق تاريخ يې نه دی معلوم، خو د سيمې اوسېدونكي دا كارېزونه پر دوو برخو وېشي. دوی تنګو كارېزونو ته سليماني كارېزونه وايي او په دې باوري دي چې د سليمان عليه السلام په زمانه كې دېوانو او پېريانو كيندلي دي. دليل دا راوړي چې د سليماني كارېزونو تونلونه دومره تنګ دي چې انسان ان په خاپوړو هم تګ نه شي په كې كولای، نو كيندل به يې څنګه؟

بل سلطاني كارېزونه دي چې د سلطان محمود په وخت كې كيندل شوي وو. دا كارېزونه پراخ او ارت تونلونه لري، چې په ځينو كې يې ان په ولاړو هم تګ كېدای شي، خو زه يوې خبرې ته حيران يم.

دا ځل مې پلار د بوډا له خبرو سره دلچسپي وښوده او په بېړه يې وويل:

كومې خبرې ته؟

زه ډېرو كارېزونو ته وركښته شوی يم، ګوډې (د ختېو د راپورته كولو رابرې بوكه) مې ډكې كړې او ختې مې راايستلې دي، خو خبره دا ده چې پخوانيو خلكو د اوسنۍ دنيا غوندې پرمختللي وسايل نه لرل. دوی په دې څنګه توانېدلي وو چې په يوه حال (يوه لېول) پر يوه مستقيمه ليكه، تر ځمكې لاندې تونلونه وكيندي، د اوبو لارې معلومې كړي او په ځانګړو فاصلو له لاندې نه د ځمكې سر ته سپرغې (څاګانې) راوخېژوي؟

پلار مې وويل:

تاته د سپرغو كيندل ولې دومره سخت ښكاري؟

Download from: ketabton.com

بوډا يوه لنډه دعا وکړه او پلار مې په اشاره وپوهولم چې دسترخوان ټول کړم. بوډا وويل:

دوې خبرې دي. که يې سپرغې د ځمکې له سره کيندلې وي، نو له کومه پوهېدل چې کيندل شوی ځای به خامخا لاندې پر تونل وربرابرېږي؟ او بيا يوه سپرغه نه ده، هر کاريز په لسګونو سپرغې لري او بل که له تونلونو نه مخ پورته راختلی وي، نو څنګه کاږه نه دي تللي؟ سپرغې داسې سيده او مستقيمې کيندل شوي، چې د ځمکې له سره څوک د اوبو ځا هم دومره سوتره نه شي کيندلی.

بوډا خبرې کولې، خو ماته مې پلار د چايو د راوړلو وويل، ځکه مې غوری او دسترخوان راواخيستل او له کوټې نه ووتم.

دباندې واورې په اورېدو پيل کړی و او پخوانيو پلونو سپينه شيره نيولې وه. شېبه وروسته مې د چايو وروړل کوچنې ورور ته ورپه غاړه کړل او ما هم کاه دانې ته مخه کړه، چې د غواوو لپاره وچه ريشقه او بوس سره ګډ کړم.

د ماسپښين تر لمانځه وروسته واورې شدت وموند او کله چې بېرته د مېلمنو کوټې ته تلم، زما زاړه پلونه ډک شوي وو.

بوډا په کوټه کې يوازې ناست و او له سره راټولو لينګو نه يې وپوهېدم چې د سړې يخنې شوې ده، ځکه مې بخارۍ ته اورلګيت ورته کړ او په چايجوش کې پاتې سوړ شوی چای مې د بخارۍ پر سر کېښود. بوډا په يوه سترګه راته وکتل، ورو يې وويل:

خدای دې خير کې.

حيران شوم:

ولې؟

ــ واوره يادوم، بيا يې شروع وکړه.

په خندا مې وويل:

دا شپږ کاله وچکالي دې هېره شوه؟

په خبره کې راولوېد:

خير يې غواړه، غزنی يو ځل همدې واورې غرق کړ.

ما دا کيسه له خپله پلاره اورېدلې وه، ځکه مې په يوه پوښتنه د هغه ذهن راواړاوه او نېغ په نېغه اصلي موضوع ته راغلم:

Download from: ketabton.com

کله چې له کوره ووتې، بیا چېرته لاړې؟

بوډا راته وکتل، شونډې یې موسکۍ شوې او ورو یې وویل:

لکه چې نه مې پرېږدې؟

ما وخندل:

نو د ژمي دا اوږدې شپې او سړې ورځې به څنګه لنډېږي؟

شونډې یې وخوځېدې:

په هماغه ساعت له کوره ووتم، د مني وروستۍ میاشت وه. په لارو کې یوه لوېشت پوڼې پروت و. تر نیم ساعت مزل وروسته مې پر پاخه سړک بوټونه وټکول. یوه شېبه مې فکر وکړ، نه پوهېدم چې چېرته لاړ شم؟ بې اختیاره مې یوې لارۍ ته، چې د کابل له خوا راروانه وه، لاس ورکړ، خو موټر ونه درېد. بیا مې د کندهار له لوري پر یوه راروان بس سترګې ولګېدې. تر سړک پورې وتم، لاس مې د درېدو په نښه ورته وخوځاوه، خو د موټر شمال زما پر سر د ترلې لونګۍ ولونه خلاص کړل. وروسته مې ناڅاپه جېب ته لاس کړ، یوازې شل افغانۍ راسره وې، چې چېرته تګ پرې نه کېده.

یوه شېبه د سړک پر غاړه کېناستم، بیا یو فکر راولوېد. ما سړک ته نږدې یو ملګری درلود، کولای مې شوای چې له هغه نه یو څو روپۍ په پور واخلم، څکه مخ کښته روان شوم. پاو وروسته د هغه کلي ته ورسېدم. ملګری مې له کوره راووت او تر روغبړ وروسته یې د مېلمنو کوټې ته بوتلم. ما خپله کیسه ورته تېره کړه او ومې ویل چې د څه لپاره راغلی یم. دی زما په درد خبر و، څکه یې یو بل وړاندیز راته وکړ. ویې ویل چې بله ورځ له خپلو دریو نورو کلیوالو سره یو ځای پاکستان ته ځي، زه به هم ورسره لاړ شم. ملګری مې په ختّه اندړ و او د اندړو ډېرو ځوانانو به د ژمي له خوا په پاکستان کې ختې کولې. په دوی کې لا اوس هم ډېرو خلکو همدا کسب نه دی پرېښی. زما هم دا خبره خوښه شوه. دوې شپې له هغه سره پاتې شوم او په دریم سپېده چاود زما سره پنځه تنه له کلي ووتو. هغه وخت موټر کم وو. تر یو څه ځایه مو پلی مزل وکړ، بیا یو روسی واز موټر راباندې پېښ شو. باډۍ ته یې وروختو او تر یاخېلو پورې مو یوازې دوړې په خولو ننوتې. په یاخېلو کې مو یو بل موټر کرایه کړ او ماخوستن ناوخته انګور اډې ته ورسېدو .

په سهار مو وزیرو بدرګه چیانو ته روپۍ ورکړې او هغوی له پاکستاني پولیسو نه په پټه وانه ته ورسولو. په وانه کې مو شپه سهار کړه او په بله ورځ د شپې ناوخته د سندهـ په جکم اباد کې له موټره کښته شوو.

زما ملګري په سیمه کې بلد وو. دوې ورځې وروسته یې د یوه باغ په سلګونو متره پخڅه په ټپکه ونیوله.

Download from: ketabton.com

موږ به د ورځې ختې کولې او د شپې به هم د باغ د منځ په یوه جونګړه کې ویدېدو. دې دېوال څه کم دوه نیمې میاشتې وخت وغوښت او بیا مو یوه بله پخڅه اجاره کړه، خو په دې موده کې مې شېرینو یوه ګړۍ هم له ذهنه ونه وته، تل به راسره وه او د هغې بېلتون به خوړلم. اخر بې خوبي راته پیدا شوه. ملګري به مې په خواږه خوب ویده وو، خو ما به تر ناوخته ستورو ته کتل. بیا به مې ټوله ورځ په وچولي دردو او وروسته تبو پرېستم. کله چې له اخه و ټوخه ولوېدم، نو د ملګرو په ټینګار ډاکټر ته لاړم. ډاکټر رایاده کړه چې ستا د ناروغۍ لوی علت خواشیني ده. څه دوا یې راته ولیکله، خو زه ورځ په ورځ زهیرېدم او اخر یوازې څرمن او هډوکي را پاتې شول.

وروسته مې ناروغي ډېره شوه او په یوه دولتي روغتون کې یې بستر کړم. یوه میاشت تر درملنې لاندې وم او کله چې پر پښو ودرېدم، نو ملګرو مې ټینګار کاوه، چې کور ته لاړ شم، ځکه وضع مې ښه نه وه.

زه زړه نازړه وم. له یوې خوا مې د ناروغۍ له لاسه په وجود کې د کار کولو سیکه نه وه پاتې او له بل لوري مې د شېرینو له غمه پر خپل وطن پښې نه ورتللې، خو مجبوري وه. ملګرو مې یو بل دېوال هم په اجاره نیولی و او ما له دوی سره بېلونه نه شوای پورته کولای. له همدې امله مې کور ته د تلو نیت وکړ. دا هغه وخت و چې تره کي نوې کودتاه کړې وه او پر وطن خلقیانو حکومت کاوه. یوه اونۍ نور هم معطله شوم او بیا د میرانشاه پر لار تر پولې راواوښتم، خو خوست ته نږدې زموږ د سورلۍ موټر د پولیسو پر یوه ګزمه پېښ شو او د تلاشۍ پر وخت یې زما له جېبه کلدارې وایستلې. زه یې د خوست ښار ته بوتلم او د پاکستان لپاره د جاسوسۍ په تور، په بند کې ولوېدم. وهل ټکول مې وخوړل، سپکې سپورې مې تېرې کړې، بې خوبۍ یې راباندې وګاللې او تر دریو میاشتو وروسته چې کله ناروغۍ له پښو وغورځولم، خوشې شوم.

دوې شپې په یوه مساپرخانه کې پروت وم. په ځان مې دوا درمل وکړل او چې په بدن کې مې د ولاړېدو سېک پیدا شو، د غزني پر لور وخوځېدم. شپه مې د غزني ښار ته ورسوله او په بله ورځ غرمه د ولسوالۍ بازار ته نږدې له موټره کښته شوم. څه شېبه مې مزل وکړ، خو بیا پښو یاري نه راسره کوله، ځکه نو لارې ته څېرمه د یوه توت سیورې ته وروګرځېدم. یوه شېبه مې د ونې تنې ته ډډه ولګوله او دوهمه ساه مې کلي ته نږدې د یوه پالېز په څاله کې سمه کړه.

کله چې په کلي ورګډ شوم، نو تر کوره مې پر هېڅا سترګې ونه لګېدې. یوازې د کلي پر لوی ډېران څو خیرنو چرګو ټونګې وهلې او کلیوال په خپلو کورونو کې پراته وو.

یوه شېبه د انګړ د دروازې تر مخ ودرېدم، بیا مې دروازه ورو پرانیستله. انګړ خړ- پړ ښکارېده، د کوټو دېوالونو هېڅ سیوری نه درلود او څا ته نږدې د ولاړو اوبو پر کوچني ډنډ څو سرې بمبرې (غومبسې) راټولې وې.

د زړه په زور مې څو ګامه واخیستل، د دالان دروازې ته مې لاس وروغزاوه. دروازه په غنجا خلاصه شوه او ورسره مې د میرې وارخطا غږ واورېد:

Download from: ketabton.com

څوک يې؟

ورو مې وويل:

زه يم، مالک!

ناڅاپه د پيالو کړنګ شو، داسې لکه د چا چې پښه ورسره ولګېږي. بيا دکوټې دړه په شدت خلاصه شوه او ميره مې په خوبولو سترګو په وره کې ودرېده. يوه شېبه يې په ځير- ځير راته وکتل. خوله يې وازه شوه، سترګې يې اوښکو ونيولې، شونډې يې وخوځېدې، رامخته شوه او په ژړا يې زما پر ټټر سر ولګاوه. ښه شېبه يې وژړل او بيا يې په غريو کې وويل:

دا څه دربانديې شوي دي؟

د هغې سر مې ورو له ټټره بېل کړ، وروسته په دالان کې کېناستو. مېرې مې په ژړا کې پوښتنې رانه کولې:

چېرته وې؟ نه خط، نه احوال، ولې دومره خوار شوی يې؟ خو زه ستړی وم، هغې ته مې ټوله کيسه نه شوای تېرولای، ځکه مې د اوبو غوښتنه ورنه وکړه. دا په منډه له دالانه ووته او ما هم د خپلې کوټې دروازه پرانيسته. پر ځمکه هماغه پخوانۍ خړه درۍ او يوه توشکه پرته وه. اوږد وغزېدم او بيا تېرو يادونو په مخه کړم، ذهن مې شېرينو ونيو؛ د هغې انځورونه يو په بل پسې راتلل. خندل يې، ژړل يې، خبرې يې راته کولې، د �اکرب� ټکی يې له خولې راته راووت او په مينه يې راته کتل. خو ناڅاپه د ميرې غږ زما په ذهن کې تېرېدونکي انځورونه ړنګ کړل. د هغې له لاسه مې له اوبو نه ډک ګيلاس ونيو او پر سر مې واړاوه.

د ميرې شونډې وخوځېدې:

ډوډۍ درته راوړم؟

ومې ويل:

نه، زړه ته مې نه کېږي.

ـچای څنګه؟

ـګرمي ده، غواړم چې يو ساعت سر ولګوم.

ميرې مې نور څه ونه ويل. پرده يې واچوله او له کوټې ووته.

بوډا غلی شو، مخ يې راواړاوه او ورو يې وويل:

Download from: ketabton.com

له چایجوش نه تاوونه پورته کېږي، چای خراب نه شي؟

ولاړ شوم. د چایجوش لاستی مې د څادر په پیڅکه ونیو. یوه پیاله مې ډکه کړه او کله چې مې پر دوهمه پیاله چایجوش ورکوږ کړ، بوډۍ وویل:

بچیه! بله پیاله مه ډکوه، زه یې نه سوروم.

ما وخندل:

چای وښېه چې تود شي!

ده څه ونه ویل. ما هم ډکه پیاله مخې ته ورته کېښوده او د کیسې د غزولو لپاره مې یوه پوښتنه ورنه وکړه:

نو بیا؟

بوډۍ وویل:

هماغسې خوب وړی وم، خو نه پوهېږم څومره وخت به وتلی و، چې یو دم مې د سر وېښته کش شول. په بېړه مې سترګې رڼې کړې. د کوټې پرده پورته شوې وه او زما سر ته نږدې یو ماشوم ناست و. پلتۍ مې ووهلې، ماشوم ته مې وکتل. تور او پېچلي وېښته یې لرل. سترګې یې غټې وې، خو پزه او خوله یې واړه جوړ شوي وو. کټ مټ لکه د شېرینو. یوه شېبه مې په ځیر- ځیر ورته وکتل... له لندو وېښتو، تورو کړو سترګو او سوتره جامو نه یې وپوهېدم، چې لنډه شېبه مخکې تیار شوی او په لوی لاس کوټې ته راوستل شوی دی. ما لا ماشوم ته کتل چې د میرې غږ مې واورېد:

نوم یې انور دی، دا نوم...

ناڅاپه غلې شوه، خو لنډه شېبه وروسته یې بېرته خپله خبره بشپړه کړه:

دا نوم شېرینو خوښ کړی و.

له دې سره په سونګېدا له کوټې ووته .

ماشوم ته مې وکتل. هغه د اتو میاشتو و، خو تر خپل عمر پیاوړی ښکارېده؛ غوښن وجود یې درلود او له پوټکي سپین رنګه و. یوه شېبه مې د هغه حرکات وڅارل. ده خاپوړې کولې او په کوټه کې به کله یوې او کله بلې خوا ته ګړندی روان و.

بیا مې د میرې په غوښتنه پر سر اوبه تېرې کړې. پاکې جامې مې واغوستې او کله چې بېرته کوټې ته راغلم، انور زما پر توشک خوب وړی و.

Download from: ketabton.com

د هغه تر څنګ کېناستم. سترګې يې پټې وې او اوږده بانه يې پر ملا کاږه ښکارېدل. يوه شېبه مې په ځير- ځير ورته وکتل، خوږ راباندې ولګېد او د مينې وږ راته ښکاره شو. وروسته د انګړ دروازه وټکېده، څو تنه کليوال زما پوښتنې ته راغلي وو. له هغوی سره د کور پر چوتره کې کېناستم. بيا مې شين چاى د ګوړې له څو چکيو سره يو ځاى ورته راووړ. تر ماښامه له يوې او بلې خوا وغږېدو او د ماښام لمانځه ته په ګډه د کلي د جومات خوا ته روان شوو. د ماخوستن جمعه مې هم په ملا پسې وکړه او د ستورو په تته رڼا کې کور ته راغلم. ډوډۍ مې وخوړه او کله چې بېرته خپلې کوټې ته ورننوتم، انور لا ويده و. يوه شېبه مې ورته وکتل. دى ستوني ستغ پروت و او پر ښي بغور يې د لاټين ژيړه رڼا لګېده. وروسته پر اړخ راواوښت. بغور يې زما پر خرېيلې زنه ولګېد. وچونګېد او غلی شو.

شېبه وروسته مې ميره کوټې ته راغله. له شيدو ډک چوشک يې پر غولي کېښود او ويې ويل:

که دې خوښه وي، انور به له تا سره ويده شي!

په حيرانۍ مې ورته وکتل.

هغې زياته کړه:

خوب يې ښه دى، د شپې يوازې يو ځل راويښېږي. ځاى هم نه لندوي.

ما هم څه ونه ويل او کله چې ميره له کوټې ووته، څراغ ته مې ورپوه کړل. يو ځل بيا فکرونو په مخه کړم. خو ډېر ژر مې د انور د ساه ايستلو غږ ته پام شو. د هغه بغور ته مې خپل مخ ورنږدې کړ. ده لنډه- لنډه ساه ايسته. ساه يې خوږه راباندې لګېده او د شپې تر ناوخته مې د ده ساه ته غوږ نيولی و.

بوډا غلی شو او کله چې ما ورته وکتل، داسې راته وايسېد، لکه وروستی ياد چې يې په ذهن کې مېخ شوی وي، ځکه ده کوم حرکت نه درلود. په فکر کې ډوب و، خو د تندي ګونځې يې د پخوا غوندې ننوتې نه ښکارېدې او پر خړو شونډو يې يوه نرۍ موسکا پرته وه، داسې لکه اوس چې يې هم د زوی ساه پر غومبرو لګېږي او خوند ورنه اخلي.

وروسته يې يو دم ټکان وخوړ او بې له دې چې راته وګوري، بېرته پر خبرو راغی. خو دا ځل يې غږ نيولی شانته و، داسې لکه د خيال په دنيا کې چې له ځان سره غږېږي، ده ويل:

انور زما په زړه کې پرېووت. دی د خداى له لوري هغه ډالۍ وه، چې د شېرينو غم مې ورباندې غلطولاى شواى. څېره يې د خپلې مور انځور و. هماغسې معصوميت، خندا او د خندا پر وخت د خولې کونجانو ته نږدې، تر بغورو لاندې د ګونځو جوړېدل.

يو ځل مې بيا ژوند ته تمه پيدا شوه او په زړه کې را وګرځېدل، چې د خداى خوښې ته غاړه کېږدم، ځکه د هغه رضا تر هغه څه غوره ده، چې موږ يې په خپله د ځانونو لپاره غواړو .

Download from: ketabton.com

انور زما په خوار وجود کې وینه وغوړوله، رنګ مې راوګرځېد. ناروغۍ ته مې ماته ورکړه او بیا مې ښېلچې ته لاس وروغزاوه. دهقاني مې ونیوله، کارېزونو ته ورکښته شوم او د بدن بوټۍ مې د پخوا غوندې پېچلې شوې.

شېرینو زما خندا ورسره یووړه، خو د انور په راتګ مې شونډې ښېرته له موسکاه سره روږدې شوې.

د هغه لومړنۍ خندا وخندولم، خو کله چې یې په اول ځل له کوچنیو شونډو نه د�ابا� ټکی راووت، نو له خندا سره مې اوښکې هم ملګرې شوې. نور مې ځان یوازې نه احساساوه او په زړه کې راتېره شوه چې ژوند په ژوند کولو ارزي.

د بوډا غږ د کلي د ملا په اذان غلی شو. سر یې پورته کړ، ماته یې وکتل او ویې ویل:

زه به اودس تازه کم.

ما هم له اوښو نه ډکه بدنۍ ورته کېښوده، پتنوس مې راواخیست او د مېلمنو له کوټې نه ووتم.

د ورېځو له لویو چولو نه د مازیګرني لمر ژیړې وړانګې راوتلې وې او د انګړ د دېوالونو پر سرونو یوه لوپشت تازه اورېدلې واوره ولاړه وه. د مازیګر لمانځه ته مې په خپله کوټه کې ځادر اوار کړ او شېبه وروسته مې تود پاستی په لاس کې ښېرته د مېلمنو کوټې ته ورغلم. بوډا خدای ته پر سجده پروت و، ده څه ویل، خو ما یې خبرې نه شوای صحیح کولای. یوازې یو- دوه ځلې مې د ده په خبرو کې د �انور� ټکی واورېد او بس.

بوډا ډېر وخت خپل تندی پر غولي لګولی و. بیا یې سر هسک کړ، د جاینماز یوه څنډه یې ورټوله کړه او کله چې یې ماته پام شو، نو ویې ویل:

څه وخت راغلې؟

ما د ځواب پر ځای پر ځادر پراته پاستي ته اشاره وکړه او ومې ویل:

توده ډوډۍ ده، همدا اوس یې له تناره راوایسته.

بوډا د پاستي یوه پسته څنډه ورښېله کړه. ښېرته پر خپل توشک کېناست او په داسې حال کې چې په ډوډۍ یې خپلې بې غاښو ورۍ ټینګولې، ویې ویل:

شېرینو هم د پاستو په پخولو کې تکړه وه، دې به د کاغذ غوندې نري پاستي پخول، دومره سوتره چې یو ټکی سوځېدلی ځای به هم نه په کې موندل کېده.

خو ما اصلي موضوع یاده کړه:

ښه! نو انور خوږ دربانديې ولګېد؟

Download from: ketabton.com

د بوډا سترګه وځلېده او په ټيټ غږ يې وويل:

هو زويه! انور زما په تن کې نوي ساه پوه کړه، مينه يې راسره پيدا شوه او کله چې به په کوم کار پسې له کوره وتم، راپسې ژړل به يې. رښتيا وايم، په ژوند کې په لومړي ځل يو چا راپسې ژړل. ايا تر دې بل لوی خوند شته چې يو څوک اوښکې درپسې تويې کړي؟

خو کله چې پر پښو راغی، بيا به مې کله- کله کرونديې ته راسره بېوه. دی به ډېر وخت د توت سيوري ته ناست و. کله به يې له ځان سره مردکې کولې، کله به يې ختې تپلې او يا به يې هم د مېږيانو د ليکې په وړاندې د شګو پوله پورته کوله او د هغوی له ښويېدو نه به يې خوند اخيست.

وروسته چې يو څه غټوکی شو، بيا به يې پر خوله رنګارنګ پوښتنې راتلې:

ابا! موږکان بد خلک دي؟ لوټې چا جوړې کړي؟ ته ولې برېتونه لرې...؟

ما به د ده ماشومانه پوښتنو ته، ماشومانه ځوابونه ورکول.

خو په څلورکلنۍ کې يې يو مازيګر يوه سخته پوښتنه رانه وکړه، داسې پوښتنه چې په ژوند کې نه وم ورسره مخامخ شوی. په هغه مازيګر مې په انګړ کې غوا ته اخور جوړاوه، چې انور مې تر څنګ ودرېد، سترګې يې سرې وې او په جامو پورې يې پوټې نښتې وو. په ناستو مې ښی لاس ترې راوګرځاوه او په ټېر پورې مې ونيو. ورو مې وويل:

څوک چې منډې وهي، همدا به يې حال وي!

ژړغوني غږ يې ډکې شونډې وخوځولې:

لوېدلی نه يم، مردکې يې رانه يووړې.

په خندا مې وپوښتل:

چا؟

ـد نورګل مور.

حيران شوم:

ولې؟

ـله نورګله مې مردکې وګټلې، خو ده وژړل. مور يې راغله، په څپېړه يې ووهلم او ټولې مردکې يې له جېبه رانه وايستلې.

Download from: ketabton.com

نورگل زموږ د ګاونډي زوی او د انور همزولی و. دوی دواړو به ډېر وخت یو ځای لوبې سره کولې، ځکه مې انور پر تندي ښکل کړ او په خندا مې وویل:

خوا مه بدوه. زه به له بازاره ډېرې مردکې درته راوړم، نوې مردکې، ان یوه لیکه به هم نه لري.

انور یوه شېبه غلی و. بیا یې یوناڅاپه شونډې وخوځېدې:

ابا! زما مور چېرې ده؟

په زړه کې مې نرۍ څړیکه تېره شوه. تر ډېره غلی وم، هېڅ ځواب مې نه شو ورته جوړولای. خو ده په سترګو کې له ما نه ځواب غوښت. ما باید یو څه ورته ویلي وای.

یو دم مې په ذهن کې د انور د تېرې شپې پوښتنه راوګرځېده. تېر ماخوستن دواړه پر بام پراته وو. ده ستورو ته کتل، بیا یې په ټیټ غږ وویل:

ابا! غمي دي، نه؟

ځواب مې ورکړ:

هو زویه! غمي دي.

_ماته یې راوړې؟

خندا راغله:

نو ته یې څه کوې؟

_په خپله خولۍ کې یې ټومبم.

ځکه مې یو دم وویل:

مور دې اسمان ته تللې ده، تاته غمي راوړي.

تورې غټې سترګې یې وځلېدې:

بیا راځي؟

_هو زویه! بیا راځي.

په څېره کې یې وینه وغوړېده:

Download from: ketabton.com

ابا! نورګل ته به ځېږه ورکي او ټولې مردکې به يې له جېبه ورنه راوباسي، نه؟

_هو زويه! ټولې مردکې به يې له جېبه ورنه راوباسي.

په ګيله من غږ يې وويل:

مور به بيا نه پرېږدو چې بېرته لاړه شي، نه؟

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې:

هو زويه! نه به يې پرېږدو.

بوډا خپله وروستۍ خبره څو ځله له ځان سره تکرار کړه:

نه به يې پرېږدو، نه به يې پرېږدو... هو زويه! نه به يې پرېږدو او بيا غلی شو.

خو شېبه وروسته يې سر پورته کړ. ماته يې وکتل او ويې ويل :

ژوند ښه و. دومره څه مې موندل چې ګوزاره مو پرې کېده، خو وروسته حالات بدل شول. ملايانو د خلقيانو پر ضد د جهاد فتوا ورکړه او خلک د جګړې په نيت غرونو ته وختل. حکومت هم ټانکونه راوايستل. وينې تويې شوې، کلي بمبارد شول او د سيمې ډېرو اوسېدونکو پاکستان ته مخه کړه.

مورږ هم مجبور شوو چې کډه وترو. غوا، بايسکل، د اوړو لوی کندو او د کور د خرڅلاو وړ نور هغه سامانونه مې وپلورل، چې پيسې پرې جوړېدای شوای. بيا پر پټو لارو او سترو مزلونو پاکستان ته واوښتو. هلته مو پېښور د اوسېدو لپاره ښه وګاڼه، ځکه ډېرو کډوالو هلته اړولي وو. موږ هم د ښار په يوه څنډه کې يوه کيمپ ته ورغلو او د يوې موسسې له خوا مو په راکړل شوې يوه خېمه کې واړول. دا د شپېتم کال د اوړي وروستۍ مياشت وه.

يو څه موده مو په راسره راوړو پيسو ګوزاره وکړه او بيا راشن راته حواله شو. اوړه، غوړي او وريجې به يې راکولې، خو ضرورتونه ډېر وو. په تېره بيا هغه وخت چې ميره مې ناروغه شوه. هغې د شکرې ناروغي درلوده او د ډاکټر پر هرې نخسې به مې څو سلګون نوټونه ورکول. له بل لوري د ژوند نورې اړتياوې هم ډېرې وې، ځکه مې بيا له خپلو متو نه کار واخيست. هغه وخت ځينو کډوالو د کورونو جوړولو ته مخه کړې وه. ما هم خټګرۍ ته لاس وروغزاوه او تر ماښامه به مې مزدوري کوله.

د وخت په تېرېدو سره په کيمپ کې تر خېمو، ولاړ دېوالونه ډېر شول او وروسته بيا ټول کيمپ خړو کورونو ونيو.

د انور د اووه کلنۍ غاښونه لا نه وو لوېدلي، چې هغه مې د کيمپ په يوه ښوونځي کې داخل کړ. له هماغه لومړيو ورځو يې راته معلومه شوه چې هلکی د درس په زده کولو کې تکړه دی. انور به هر ماخوستن پلتۍ راته وهلې،کتاب

Download from: ketabton.com

به یې پرانیست. ده له درس سره مینه لرله. تل به یې کتاب سترګو ته نیولی و. په دوهم ټولګي کې دویم نومره شو، خو په دریم کې یې لومړی ځای ونیو.

ژوند د روانو اوبو غوندې پر مخ ته، خو سترې او له خواشینۍ نه ډک؛ فقر، لوږه او نېستي تر سر اوښتې وه. په کیمپ کې د بورو، کونډو او یتیمانو شمېره ورو-ورو ډېرېده، تقریباً هره ورځ به په یوه کور کې د غم ټغر خور و او د هغو ځوانانو ویر به یې کاوه، چې له کیمپ نه به جګړې ته تللي وو او تر خپل هېواد یې سرونه ځارول.

اخر یوه ورځ پر مورې هم د ویر ټکه پرېوته. پر میرې مې د شکرې ناروغۍ زورروه شوه او هغې ساه ورکړه. کله چې جنازه پورته کېده، د انور په ګرېوان کې یوه ګروې (تکمه) هم پاتې نه شوه. له سترګو نه یې اوښکې روانې وې او خوله یې له ژړا نه سره ټولېده، ځکه انور خپله مور نه وه لیدلې. ده به د مور مینه په خپلې انا ماتوله او هغه وربانديې ګرانه وه.

نور مو په کور کې د اور بلولو لپاره څوک پاتې نه شول. تنور سوړ شو او ما به له نانوايي نه ډوډۍ راوړه.

یوه ورځ د کیمپ ملا رایاده کړه، چې د خپل ګاونډي لور په نکاح کړه، ځکه تر اوسه لا ځوان یې. نجلۍ هم اخلاقي ده، کورګی به دې پرې جوړ شي، خو ماته مې خپل ماشومتوب سترګو ته ودرېد. زړه مې نه منل چې انور ته دې د هغه میره چونډۍ ورولګوي، ځکه مې د ملا وړاندیز رد کړ.

مورې به د پېښور تودې شپې د بام پر سر تېرولې، خو د هغه ځای ستوري د قره باغ د ستورو غوندې راڼه نه وو. انور به تر ناوخته پورې زما پر ټټر سر ایښی و. ده به بېلابېلې پوښتنې کولې، خو ډېر معلومات به یې د خپلې مور په اړه رانه غوښتل :

مور مې څه ډول څېره درلوده؟ څنګه جامې یې خوښېدې؟ له بازاره دې څه شی ورته راوړل؟ مور مې له تا خوشاله وه؟...

ما به د ده هرې پوښتنې ته اورد ځواب ورکاوه او ده به په پوره دقت غوږ راته نیولی و.

په پنځلس کلنۍ کې یې تر پاسنۍ سره شونډه نرۍ توره لیکه راوګرځېده. دی هغه وخت په نهم ټولګي کې و. ښکلې او نرۍ ځواني یې درلوده او څېره یې له شېرینو نه ورېې وه.

یو مازیګر یې په خوابدي غږ راته وویل:

ابا! یوه خبره درته وکم؟

په حیرانتیا مې وویل:

څه خبره؟

Download from: ketabton.com

نه غوارم چې تا په سره لمر کې د پیازو او کچالو رېړۍ ته ولاړ ووینم.

د هغه پر اوږه مې لاس کېښود :

گرانه! چاره څه ده؟ د ژوند لپاره باید یو څه وکړم .

نرۍ شونډې یې وخوځېدې:

داسې به وکو.

هلک غلی شو.

ما وویل:

څه به وکو؟

گوره ابا! زه به د انگرېزۍ د کورس وخت له ماښامه سهار ته راواړوم او کله چې غرمه له مکتبه راغلم، نو ته به کور ته ځې. رېړۍ ته به زه درېږم، ښه نه ده؟

_نه زویه! تر څو چې زما لاس او پښې چلېږي، تا به هېڅکله لمر ته ورنه کم، ته باید خپل درس ووایې.

خو انور تر ډېره پر خپله خبره ټینگ و. ماته یې خوا بدېده. خو زه د هغه لپاره د سختیو تېرول څه، ان تر خپل ژوند هم تېر وم. دی زما د زړه ټوټه او د شېرینو یادگار و. ما کله سختو ته ورکولای شوای؟

بوډا غلی شو. ماته یې وکتل او شونډې یې خندنۍ شوې :

لکه چې غوړونه مې دروخوړل؟

ومې ویل:

نه! دا زما غوښتنه ده چې د خپل ژوند کیسه راته وکې. وروسته مې په خندا زیاته کړه:

تر څو چې دې ټوله کیسه نه وي راته ویلې، کله دې پرېږدم.

بوډا له خندا شین شو:

زورور سړی یې.

وروسته یې ورو- ورو خوله سره ورټوله شوه. ویې ویل:

Download from: ketabton.com

ماته هم ښه ده، غم به مې يو څه سپک شي، ځکه ما تر اوسه د خپل ژوند سختې چا ته نه وې ويلې. تا زما خبرو ته غوږ ونيو، مينه دې ورسره وښوده او په اورېدو يې ستړی نه شوې .

په خندا مې وويل:

خو غواړم چې نور څه هم واورم.

ده وخندل:

خو اوس د ماښام اذان ته لږ وخت لرو، نورې خبرې به ماخوستن ته پرېږدو.

ما ورسره ومنله او له کوټې نه ووتم.

***

د ماخوستن ډوډۍ مې له مور سره وخوړه، ځکه هغه يوازې وه. پلار او ورور مې د مېلمنو په کوټه کې له بوډا سره يوه دسترخوان ته پلتۍ وهلې وې. مور مې خبرې کولې. له قېمتۍ نه يې سر ټکاوه، ويل يې چې تر دې خو د طالبانو وخت لا ښه و. دا نوې پيسې خو تورې خاورې دي، هېڅ برکت نه لري. مور مې ډېر وخت د کرزي حکومت ته ډونګېده. بيا ولاړه شوه، چای يې دم کړ او په پتناسه کې يې کېښود. وروسته يې راته وويل چې چای د مېلمنو کوټې ته يوسم. ما هم پتنوس راواخيست، د مېلمنو کوټې ته ورغلم. ورور مې په بخارۍ پوري لرګي پسې کول، خو بوډا او زما پلار د سياست په اړه سره غږېدل. بحث يې تود و، پلار مې پر کرزي خاورې اړولې. ويل يې چې سوړ سړی دی، جديت نه لري، په حکومت کې يې د کار وړ خلک لږ دي او د خلکو په ژوند کې يې د پام وړ کوم مثبت بدلون نه دی راوستی، خو بوډا بيا د کرزي حکومت غنيمت ګاڼه. ستونزې او خاليګاوې يې منلې، خو مجبوريتونه يې هم يادول او پر دې خبره ټينګ ولاړ و، چې که دا ځل ګډوډي جوړه شوه، نو دومره وينې به وبهېږي، چې له خلکو نه به تېر وحشت هېر کړي.

د دوی خبرې ډېرې اوږدې شوې. اخر مې بوډا ته سترګه ټينګه کړه. دی موسک شو او د صحراګشت په پلمه له کوټې ووت. پلار مې هم ګړۍ ته وکتل، پښې يې ورټولې کړې او له کوچني ورور سره مې يو ځای کور ته روان شو.

ما په چايجوش کې پاتې چای پر بخارۍ کېښود او د بوډا د راتګ په تمه کېناستم.

بوډا ډېر ځنډ ونه کړ. کله چې په دروازه راننووت، په خندا يې وويل:

بل رنګه نه ولاړېدل.

ومې خندل:

Download from: ketabton.com

هوا! خو ته څنګه؟ پر خپل قول ولاړ یې، که خوب درځي؟

بوډا زما په مقصد وپوهېد او په داسې حال کې چې پر خپل ځای کېناسته، په خندا یې وویل:

نه بچیه! شپې اوږدې دي، خبرې به کوو، خو ته دا راته ووایه چې په کوم ځای کې وم؟

په بېړه مې وویل:

انور دې کار کولو ته نه پرېښود.

بوډا یو سوړ اسوېلی وایست او ویې ویل:

ژوند همداسې پر مخ ته. لاسي ربړی مې د لرګي په یوه غرفه بدله شوه او د لمر له وړانګو نه سیوري ته شوم. بیا مې د کیمپ په بازار کې یو دوکانګی په کرایه ونیو او خوراکي شیان مې په کې واچول. انور به تر غرمې په ښوونځي کې و او مازیګر به یې د کیمپ څو ماشومانو ته انګرېزي ورښوده، ځکه ده څو کاله کورسونه ویلي وو او پر انګرېزۍ یې ژبه ښه اوښته.

ژوند ښه و، ګوزاره کېده؛ څه پیسې به دوکان راته جوړولې او څه به هم انور له زده کوونکو نه فیس اخیست. دی به د هرې میاشتې په پای کې راته کېناست او ګټلې پیسې به یې زما مخې ته کېښودې.

انور زلمی و، خو هېڅ وخت به یې پیسې په جېب کې نه ګرځولې. د اړتیا پر وخت به یې ماته خوله جینګه کړه او کله چې به مې تر اړتیا ډېرې پیسې ورته ونیولې، یوازې دومره به یې وراخیستې، چې ضرورت به یې ورته درلود.

دی هېڅوخت بېځایه نه ګرځېده. درانه خویونه یې لرل، لږې او په تول پوره خبرې به یې کولې. په کوڅه کې به په ټیټ سر روان و او په ګاونډیانو کې یې دروند نوم درلود.

انور په اتلس کلنۍ کې لېسه خلاصه کړه. بیا یې د مهاجرو په یوه پوهنتون کې امتحان ورکړ او په خپل لیاقت ډاکټرۍ ته بریالی شو.

په هغه ورځ ډېرخوشاله ښکارېده، ستر ګې یې له اوښکو ډکې وې. لومړی یې زما لاسونه په ښکلولو لانده کړل او بیا یې کلکه غېږ راکړه. ده خپل بریالیتوبونه زما د خولو د تویولو له امله ګڼل. په هغه شپه یې تر ناوخته زما پر ټټر سر ایښی و. نورې شپې به یې له ما نه خبرې اورېدې، خو په دې شپه د ده خوله ډېره ښورېده. زما ستونزې او کړاوونه یې یادول او د هغوخواریو په اړه غږېده، چې د انور په وینا ما د ده لپاره ګاللې وې.

انور په پوهنتون کې هم تکړه و، د درس تر څنګ به یې د پخوا غونډې نورو ته انګرېزي ورښوده. ده به د لارې کرایه او د پوهنتون مصرف په خپله پوره کاوه او پر دې سربېره به یې د خپل لاس په ګټلو پیسو کله- کله دوکان ته هم سودا راوړله.

Download from: ketabton.com

ورځې په اوونیو بدلېدې، اوونۍ په میاشتو او میاشتې هم په کلونو... د انور د زده کړو وروستی کال و، چې پوهنتون يې د پاکستان حکومت وتاړه.

دا دکرزي د واکمنۍ لومړۍ دوره وه، د خلکو بیا لیک- لوست ته تمه پیدا شوې وه او د ښوونځیو، لېسو او پوهنتونونو زده کوونکي ډېر شوي وو. انور هم لنډه موده کابل ته راغی او کله چې يې په کابل پوهنتون کې خپل کارونه سم کړل، نو مورې تصمیم ونیو چې باید خپل هېواد ته لاړ شو. هماغسې وشول، مورې درې تنه پېښور ته تللي وو. زه، میره او انور، خو د راتګ پر مهال د میرې هډوکي د پېښور په خاورو کې پاتې شول.

کله چې تر شل کلن هجرت وروسته بېرته قره باغ ته لاړو، زمونږ د کور پر ځای یوازې د خاورو غونډۍ ولاړه وه. د کلي هدیره څو چنده لویه شوې وه او د کورونو په دېوالونو کې د ګولیو د لګېدو ځایونه ښکارېدل.

د خاورو غونډۍ مو اواره کړه او د کور پر پخواني ځای مو د پخوا غوندې دوې کوټې او یو دالان جوړ کړ .

انور څه موده وروسته کابل ته لاړ او زه یوازې پاتې شوم. په لومړۍ شپه تر ډېره خوب نه راته، داسې وم لکه کومه ورکه چې مې شوې وي ، ځکه انور به تر خوب مخکې تل زما پر ټټر سر لګاوه. په څلېرویشت کلنۍ کې هم همدا خوی ورسره ته. ده به تر ډېره زما پر ټټر سر ایښی و . پېچلي وښته به يې پاسته راباندې لګېدل او خوند به مې ورنه اخیست. مورې به له یوې او بلې خوا سره غږېدو، خو د پخوا غوندې به مو ډېرې خبرې د شېرینو په اړه وې. انور به یوازې هغه وخت خپلې بسترې ته ورونښوېږد، چې سترګې به يې خوب وردرنې کړې .

خو بیا مې هم زړه ته ډاډ ورکړ، چې انور به په رخصتیو کې راځي. اټکل مې سم وخوت. انور په دوهمه جمعه کور ته راغی. د دوو اوونیو خبرې يې په ټکي په ټکي راته وکړې او د شنبې په سهار بېرته کابل ته ستون شو.

انور به په میاشت کې یو- دوه ځلې کور ته راته. تر ډېره به راسره ناست و، خبرې به يې راته کولې. د خپلو درسونو په اړه به غږېده، ویل به يې چې د انګرېزۍ ژبې څومره زده کوونکي لري. د لیلیې ژوند يې څنګه دی او د کمپیوټر په زده کولو کې يې ذهن څومره ښه کار کوي.

انور چې به هر ځل کور ته راغی، نوې خبرې به يې راته لرلې. ما به غوږ ورته نیولی و او د ده خبرې ښې راباندې لګېدې .

انور د پوهنتون وروستی کال هم په بریالیتوب پای ته ورساوه او پر نوم يې د ډاکټر کلیمه هم ورزیاته شوه: ډاکټر انور!

وروسته يې په یوه بهرنۍ موسسه کې کار وموند او ما په لومړي ځل ډالر ولیدل.

Download from: ketabton.com

د ده د راتګ ورځ به د سیمې ډېرو اوسېدونکو ته معلومه وه. له راتګ سره به یې زموږ انګړ له ورو، زرو، تورسرو او سپین سرو ډک شو. چا به ټوخل، ځینو به خپلو ملاوو ته لاسونه نیولي وو او یو شمېر نورو به بیا له خپلو معدو نه شکایت درلود. انور به په ورین تندي دوی کتل، نسخې به یې ورته لیکلې او ما به په ده ویاړ کاوه .

زه نور هغه پخوانی خوار مالک نه وم، چې چا به پور لا نه راکاوه. خلکو اوس د ډاکټر انور پلار بللم او په سیمه کې د عزت په سترګه راته کتل کېدل . زوی هم زما و، پیسې هم زما وې، هېڅا یوه روپۍ هم نه رانه غوښته، خو خلکو درناوی راته کاوه او لاس په نامه راته ولاړ وو.

خو زه پوهېدم چې هماغه پخوانی مالک یم، پخوا خو مې لا د خلکو خدمت کاوه؛ کارېزونه مې کیندل، پخڅې مې وهلې او دهقاني مې کوله، خو اوس غوږ برېتونه ګرځېدم، دوی ماته نه، بلکې زما شتو او ثروت ته مات وو. ځکه به مې د دوی له کښته- پورته کېدو نه خوند نه اخیست. ما یوازې له خپل زوی سره مینه درلوده، هغه راباندې ګران و او د ده مینه له هر راز ککړتیا نه پاکه راته ښکارېده.

زه هم پر ده ګران وم، خپل ګاړګوتي وښته به یې زما پر ټټر اینښودل. کیسې به یې راته کولې او په دفتر کې به یې له خپل پرمختګ نه خبرولم.

بوډا غلی شو.

په بېره مې وویل:

بیا؟

پرته له دې چې راته وګوري، یو سوړ اسوېلی یې وایست او ورو یې وویل:

خو انور یو دم بدل شو. که څه هم دی د پخوا غوندې کور ته راته، خو څېره به یې نیولې غوندې وه. دی خواشینی ښکارېده او زما له ټټر نه به یې خپل سر ژر پورته کاوه. نور به یې د پخوا غوندې نه خندل، زما پوښتنو ته به یې لنډ ځوابونه ورکول. د ناروغانو لیدو ته یې زړه نه ښه کاوه او تل به په فکر کې ډوب و.

ده نه خوراک درلود او نه هم خوب. کله چې به ما د خواشینۍ علت ورنه وپوښت، نو په درواغجنه خندا به یې د خپلې ستړیا او د کارونو د ډېریدو خبره رامنځته کړه. خو زما زړه ته نه لوېده، ځکه انور داسې څوک نه و چې له کاره ستړی شي.

اخر یوه ورځ د ده د خواشینۍ په راز وپوهېدم. یو ماسپښین کوټې ته ورننوتم. انور کتاب سترګو ته نیولی و. دی دومره په فکر کې ډوب و چې زما په ورتګ هم خبر نه شو. کله چې یې تر څنګ تېرېدم، نو ناڅاپه مې بدن زیږ شو. انور کتاب ته نه کتل، بلکې ده په کتاب کې ایښي د یوې نجلۍ عکس ته وچې سترګې نیولې وې. د انور پر اوږه مې

Download from: ketabton.com

لاس کېښود. ده يو ټکان وخوړ او په بېړه يې د کتاب پاڼې سره وروستې. يو نظر يې راته وکتل، رنگ يې ژيړ و او غټې سترگې يې تکې سرې ښکارېدې...

ورو مې وويل:

څوک ده؟

دی وارخطا شو، خپلې پښې يې ورټولې کړې، غوښتل يې چې ولاړ شي، خو ما تر لاس ونيو او په خندا مې وويل:

درباندې گرانه ده؟

بغور يې سره شول، سر يې وخوځېد، خو څه يې ونه ويل.

ما زياته کړه:

گوره زويه! مينه گناه نه ده، خو زه ستا پلار يم. بايد پوه شم چې تا څوک خوښه کړې، دا نجلۍ څوک ده او څنگه دې ورسره وپېژندل؟

په وارخطايۍ يې وويل:

سويتا نومېږي، په يوه سيمينار کې مې ورسره وپېژندل، دا له منځنې طب نه فارغه ده.

په خندا مې وويل:

سويتا! څه عجب نوم دی!

په شرمېدلي غږ يې شونډې وخوځېدې:

ښه نجلۍ ده، مور اوپلار يې درانه خلک دي.

ــپلار يې څه کاره دی؟

پلار يې انجنير دی او مور يې هم معلمي کوي. دوی يوازې همدا يوه لور لري.

يوه شېبه غلی وم، بيا مې کتاب ته لاس وروغزاوه، خو انور پر کتاب گوتې ټينگې کړې او په شرمېدلي غږ يې وويل:

ابا! لولم يې.

ما وخندل:

پوهېږم زويه! تر اوسه هم د کتاب په لوستلو بوخت وې!

Download from: ketabton.com

یوه شېبه یې راته وکتل، پر پراخ تندي یې د خولو څاڅکي پراته وو، شونډې یې یوې خوږې موسکا بدرگه کړې او په بېړه له کوټې ووت.

عکس مې راواخیست، یوه نجلۍ وه چې له تور پوړوني نه یې ژېړ وېښته راوتلي وو. دې شنې سترگې درلودې او څېره یې تر ډېره انگرېزانو ته ورته وه.

یوه لحظه فکر په مخه کړم. وروسته مې په زړه کې راتېره شوه:

هلک مین دی، راځه زړه یې مه ورماتوه.

بوډا غلی شو، ماته یې وکتل او په خندا یې وویل:

څنگه! ته خو به نه یې مین؟

ما وخندل:

نه، تر اوسه لا نه.

ده وویل:

ښه ده زویه! خپل درسونه دې وایه، که دې پر چا زړه بایلود، بیا به د دنیا کارونه درنه پاتې وي، ځکه مینه عجب درد لري، یو سوځوونکی درد، داسې یو درد چې انسان د اوسپنې غوندې ویلې کوي. مین نه خپل لري، نه پردی، هېڅوک به هم نه پېژني. دی یوازې خدای ته ژاړي او له هغه نه خپله مینه غواړي.

زه هم مین وم. ما نه د خدایداد ځمکه ومنله او نه هم د ده کلا او پیسې. زما لړمون یوازې د پلار په غچ سړېده، خو یوه خړ سهار مې ژوند رابدل کړ. د شېرینو په لیدو مې پر زړه د مینې اوبه تېرې شوې او د غچ په نوم یې څه نه پرېښودل.

اوس انور مین و. بله چاره نه وه او ښه مې دا وگڼل چې د ده خوښې ته غاړه کېږدم.

میاشت لا نه وه وتلې چې د انور له خوا یو لیک راورسېد. لیکلي یې وو چې د نجلۍ له کورنۍ سره غږېدلی اوله ما نه یې غوښتنه کړې وه چې کابل ته ورشم.

ما هم په دوهمه ورځ د کابل پر لور حرکت وکړ. تر څلور ساعته مزل وروسته په کوټهٔ سنگي کې کښته شوم. انور ته مې له یوه هوټله ټیلیفون وکړ. نیم ساعت لا نه و وتلی چې انور راغی. ده خړوزمه دریشي اغوستې وه. پېچلي وېښته یې پر تندي پراته وو او بڼه یې تر پخوا لنډه ښکارېده. هغه کلکه غېږ راکړه. وروسته له هوټله کښته شوو او په یوه ټکسي کې کېناستو.

Download from: ketabton.com

پر لاره د خلکو ګڼې ګوڼې ته حیران شوم، له موټرو لار نه کېده او د سړکونو پر غاړو نوې ودانۍ مخ پر جوړېدو وې، ځکه ما له عسکرۍ راوروسته بیا کابل نه و لیدلی. هغه وخت دومره بیر و بار نه و؛ سړکونه تش ښکارېدل او په څو دقیقو کې به دې یوازې یو- دوه موټره تر څنګ تېر شول، خو اوس خلک داسې سره خوځېدل، لکه د سرو بمبرو (غومبسو) ځالې ته چې لرګی ورنږدې کړې.

انور د کابل په تایمني کې د یوه مارکېټ پر سر کوټه کرایه کړې وه. د کوټې یوه دېوال ته یوه توشکه پرته وه، بل کونج یې له کتابونو ډک و او وره ته نږدې څو پیالې، چایجوش، د ګاز ډبه او یو کوچنی دېګ ښکارېده.

انور چایجوش پر ګاز کېښود. شېبه وروسته مو چای سور کړ او بیا د ده په غوښتنه دباندې ووتو. لومړی یې په یوه مغازه کې یوه نوې کورتۍ راواغوسته، بیا یې پر یوې سپینې خولۍ پیسې ورکړې. وروسته یې د کابل د حمامونو په ستاینه خوله پرانیسته. ویل یې چې تودې اوبه لري او ګرمه هوا یې په بدن کې خیره نه پرېږدي. په پای کې یې رایاده کړه چې دواړه به حمام ته لاړ شو. ما ویل چې همدا نن سهار تر اوبو ووتم، خو ده په خندا زما ږیرې او وېښتو ته اشاره وکړه چې د لارې دوړو وهلې دي. د انور په ټینګار حمام ته لاړم، خو تر ځان پرېمینځلو دمخه یې د سلمانۍ پر څوکۍ کېنولم او سرې ته یې وویل چې د سر وېښته او ږیره یې وروړه که.

د سر د وېښتو په کمولو کې ما هم کومه خبره نه درلوده، خو پر ږیره مې زړه نه کېده. خو انور ټینګار کاوه چې مازې د وېښتو سرونه به یې بیاتي کړي. اخر راباندې زورور شو او شېبه وروسته مې له سر او ږیرې ګډوډ، توراوسپین وېښته توی شول.

که څه هم چې ږیره مې تر موټې وته او لا پر سنت برابره وه، خو بیا مې هم د ګناه احساس کاوه. تر هغه وروسته نومره یي حمام ته ورننوتم. حمام تود و، خو له ناپاکۍ او بدبویۍ نه یې ټېکه نه کېده.

کله چې له حمامه راووتم، نو د انور په غوښتنه یوه هوټل ته ورننوتو. هلته پر پلاستیکي څوکیو کېناستو. هوټلي راغی او انور د دوو خوراکو کباب فرمایش ورکړ، خو د ډوډۍ د خوړلو پر وخت مې د سوالګرو له لاسه ګوله نه تېرېده. په لسو دقیقو کې به تر لسو ډېرې ښځې، ماشومان او سپین ږیري راته درېدلي وي. لومړیو دوو- دریو ته مې څو ماتې روپۍ ونیولې، خو بیا مې تر وس تېره شوه.

ماسپښین قضا انور ته یو ټیلیفون راغی. دی تر سلام وروسته یوه شېبه غلی شو، بیا یې یو دم وخندل او ویې ویل:

هو! راغلی دی، د مازیګر خوا ته درځو.

کله چې یې ټیلیفون ته ځواب ورکړ، ماته یې وکتل. په سترګو کې یې د شرم نښې ښکاره شوې. بیا مخامخ راته کېناست، زما پر څنګنو یې لاسونه کېښودل او په ځړېدلي سر یې وویل:

ابا! ته پوهېږې چې ما د څه لپاره راوغوښتې؟

Download from: ketabton.com

ما وخندل:

هو زويه! پوهېږم.

شونډې يې وخوځېدې:

ما په خط کې درته ليکلي وو...

په خبره کې يې ورولوېدم:

چې د سويتا له کورنۍ سره غږېدلی يې.

ده وخندل. ورو ولاړ شو، د ورسۍ تر څنګ ودرېد او په داسې حال کې چې لاندې سړک ته يې کتل، ويې ويل:

ځکه مې راوغوښتې چې نجلۍ ووينې او له مور او پلار سره يې خبرې وکړې .

ولاړ شوم، د انور پر اوږه مې لاس کېښود او ومې ويل:

سمه ده، څه چې ستا خوښه وي، هماغسې به وشي.

مخ يې راواړاوه، سترګې يې له اوښکو ډکې شوې. لومړی يې زما پر ښي لاس شونډې کېښودې او بيا يې کلکه غېږ راکړه.

د تګ په وخت کې يې په خواره خوله د پټکي د ليرې کولو راته وويل. دليل يې دا و چې هوا توده ده او ما د انور لپاره له هلکتوبه راهيسته په لومړي ځل خولۍ پر سر کېښوده.

انور په لاره کې د نجلۍ د کورنۍ په اړه خبرې کولې. ويل يې چې لوستي خلک دي، ولور نه اخلي او ان د ښوروا لنده ډوډۍ هم لا په کاشوغه خوري. ده خبرې کولې، د دوی د ژوند په اړه غږېده او په غيرمستقيمه توګه يې پر غوږ وهلم، چې د ښاري ژوند نزاکتونه کوم دي؟

تر نيم ساعت مزل وروسته په يوه پخه کوڅه کې له ټکسي نه کښته شوو. انور ويل چې دا نوی ښار دی. دلته کورونه ګران دي او د ښار په دې برخه کې يوازې شتمن خلک ژوند کوي. بيا د يوه کور دروازې ته ودرېدو. انور پر زنګ ګوته ټينګه کړه او شېبه وروسته يو په ونه ټيټ او ږيره خرېيلي سړي ښه راغلاست راته ووايه. کله چې سړی مخ ته شو، انور زما غوږ ته خوله راټيټه کړه:

انجنير صاحب دی.

Download from: ketabton.com

موږ هم په سړي پسې ګامونه واخیستل. کور یو منزله و، خو پاک او ښکلی. په دېوالونو پوړې پې ښویه تیږې سریښ وې او د انګړ تر چمن یې سره ګلان راتاو وو .

شېبه وروسته یوې پراخې کوټې ته ورننوتو. زه او انور پر پستو کوچونو کېناستو، خو کله چې مې په انجنیر پسې سترګې وغړولې، له کوټې وتلی و.

شا و خوا مې وکتل، کوټې ښکلې پردې لرلې او پر مخامخ دېوال د یوې نیمه بربنډې نجلۍ یو لوی تصویر راځړېده.

د انور وارخطا غږ مې واورېد:

ابا! د هندي فلمونو یوه لوبغاړې ده.

دا وخت یوه پخه ښځه کوټې ته راننوته. هغې ننوتې سترګې درلودې، ټیکری یې په غاړه کې پروت و او په سره رنګه تنګ پنجابي کمیس کې یې د ټټر راوتلې برخې له ورایه ښکارېدې.

ښځې په خندا وویل:

له لیدو نه مو خوشاله شوم.

ومې ویل:

خدای دې مه خواروه.

هغه مخامخ راته کېناسته. د کمیس لمن یې پر خپلو غوښینو ورنو ورکش کړه او په خندا یې وویل:

زه د سویتا جانې مور یم. انور جان ستاسو ډېر صفت راته کړی، په رښتیا هم چې پر هغه ګران یاست.

انور ته مې وکتل، خوشاله ښکارېده.

یوه شېبه غلې وو. ښځې د مېز پر سر یوې پرتې مجلې ته لاس وروغزاوه. مجله یې څو ځلې خپل مخ ته وخوځوله او په تریو تندي یې وویل:

دا یې هم حکومت! له غرمې راهیسې برق نه شته، له ګرمۍ مړه شوو !

بیا یې ماته وکتل، د تندي ګونځې یې اوارې شوې او په خندا یې وویل:

تاسو څنګه؟ برق مو سم دی؟

خوله مې ځواب ته جوړوله، چې انور وار ړومبی کړ:

Download from: ketabton.com

موږ برق نه لرو، له جنراتوره کار اخلو.

حیران شوم، د انور له خولې مې په لومړي ځل درواغ واورېدل، ځکه موږ جنراتور نه درلود؛ په کور کې مو لاټین لګاوه.

ښځې وخندل:

ټلويزيون چالانولای شي؟

انور یو ځل بیا درواغ وویل:

هو! برق يې قوي دی.

ما ورته وکتل، غومبري يې سره شول.

دا وخت انجنير کوټې ته راننووت. هغه د خپلې ښځې تر څنګ کېناست. ماته يې وکتل، موسک شو او پرته له دې چې څه ووايي، د مېز له سره يې يو کتاب ورواخیست او سترګو ته یې ونیو.

ښځه ولاړه شوه او په خندا يې وويل:

بخښنه غواړم.

له دې سره له کوټې ووته، خو لنډه شېبه وروسته بېرته له يوې سرتورسرې نرۍ نجلۍ سره کوټې ته راغله. ښځه پر خپل ځای کېناسته او نجلۍ له مېوې نه ډک غوري زموږ تر مخ پر اوږده مېز کېښود. وروسته يې يوه خوږه موسکا وکړه او له نريو شونډو نه يې د �سلام� ټکی راووت.

ښځې وخندل:

سويتا جانه ده.

نجلۍ د خپلې مور تر څنګ کېناسته او سر يې وځړېد، خو ښځې مخ ورواړاوه او په خندا يې وويل:

لورکۍ! مېلمنو ته مېوه نه ږدې؟

د هغې په سپينو بغورو کې سرخي وغوړېده، ولاړه شوه او له غوري نه يې يوه- يوه منه او يو- يو ورښکی انګور په دوو ورو غابونو کې کېښودل. يو غاب يې انور ته وروښوياوه او بل يې ماته رانږدې کړ، وروسته بېرته د خپلې مور تر څنګ کېناسته .

Download from: ketabton.com

هغې ته مې وکتل، ښکلې وه او په ګرد سپین مخ کې یې اوږدو شنو سترګو یوه نوراني ځلا پاشله، خو لوڅې غاړې او بې لستوڼو کمیس یې خوند رانه کړ.

د انور غږ مې واورېد:

پلاره! مېوه درواخله!

انجنیر ته مې وکتل، خو هغه ته مېوه نه وه ایښې او د پخوا غوندې یې کتاب سترګو ته نیولی و، بېرته مې انور ته سترګې ورواړولې، ده ماته کتل.

حیران شوم، انور به ماته تل �ابا� ویل. د ده له خولې نه په لومړي ځل د پلار ټکی راته راووت. �پلار� هم ښکلې کلیمه ده، خو ماته نابلده ښکاره شوه. دومره خوند مې ورنه وانه خیست، لکه څومره چې د�ابا� په ټکي کې پروت و. ځکه انور په لومړي ځل ماته �ابا� ویلي و. دې توري ته مې اوښکې تویې کړې وې، خندلي مې وو او د ژوند خواږه یادونه مې په کې پراته وو. خو دا یو کلیوال توری و، فکر کوم انور به د �ابا� په ویلو شرمېده، ځکه یې پلار...

بوډا وټوخل، بیا یې ټوخي زور ونیو او ولاړ شو. د ورسۍ پله یې خلاصه کړه، لاړې یې تو کړې او په داسې حال کې چې پله یې بېرته پورې کوله، ویې ویل:

ما وبخښه!

وروسته یې خپله کیسه پسې وغزوله:

موږ تر ناوخته پورې خبرې وکړې، خو کله چې د کوژدنې موضوع رامنځته شوه، نجلۍ په ځړېدلي سر له کوټې نه ووته. که څه هم چې د انجنیر د لور د ژوند مسئله وه، خو ده له خبرو سره دومره دلچسپي نه ښوده. کله- کله به یې یوه خبره له خولې نه راووته، چې د ده د ذوق نمایندګي به یې کوله. خو مېرمن یې بیا سور اور وه، ژبه یې بې واره چلېده؛ خبرې یې کولې. د سویتا د راتلونکي ژوند نیکمرغي یې غوښته او له هرې خبرې سره به یې خندل. ماته د کور اصلي واکداره دا ښکاره شوه .

اخر مې د مازیګر لمانځه ته جاینماز وغوړاوه، خو دوی لا خبرې کولې، ان انور هم لمونځ ونه کړ .

ماخوستن ناوخته د انجنیر له کوره راووتو. تر عمومي سړکه دواړه غلي وو، نه پوهېږم چې انور به څه فکرونه وهل، خو زما پر دې کور زړه ونه لګېد او د کورنۍ غړي بې بند و باره راته ښکاره شول.

کله چې په ټکسي کې کېناستو، انور په خواره خوله وویل:

ابا! څه په کې وایې؟

Download from: ketabton.com

هغه ته مې وکتل، د مخامخ راروان موټر ژیړې رڼا یې څېره روښانه کړې وه، ورو مې وویل:

ګوره زویه! فکر نه کوې چې موږ او دوی ډېر سره لیرې یو؟

انور یوه شېبه غلی و، بیا یې په مړاوي غږ وویل:

ابا! دا سمه ده چې یو څه ازاد خلک دي، خو ښاري ژوند دی، په زړونو کې بیا څه نه لري، هسې جامې یې یو څه...

په خبره کې یې ورولوېدم:

خو ماته یې خوند را نه کړ. کوژده لا درک نه لري، خو نجلۍ بیا نېغه راسره ناسته وه.

دی غلی و.

ما زیاته کړه:

ګوره زویه! زما یوه خبره ومنه، پخواني خلک وايي: �کلاله وکه، خپله سیاله وکه�. په کلي کې چې دې پر هره نجلۍ لاس کېښود، له ما یې وغواړه، خو تر دې تېر شه!

انور ځواب را نه کړ. ما هم نور څه ونه ویل او پاتې لار دواړه غلي وو .

شېبه وروسته له موټره کښته شوو. پر زینو وختو او کله چې کوټې ته ورننوتو، انور ګروپ ولګاوه، جاینماز یې راته ویړ کړ او په خپله له کوټې نه ووت.

نیت مې وتاړه او پر لمانځه ودرېدم. نهه رکاته وروسته چې مې کله له خدایه د شېرینو اروا ته خوشالي غوښته، انور کوټې ته راننوت. ده په تولیا خپل مخ او لاسونه وچ کړل، جاینماز مې ورته پرېښود او پر لمانځه ودرېد.

تر لمانځه وروسته یې د توشکې سر ته بالښت کېښود او خپل ځانته یې پر غولي کمپله اواره کړه، بیا یې په ځړېدلو شونډو وویل:

ګروپ مړ کم؟

کله چې مې د هو په نښه سر ورته وخوځاوه، په کوټه کې تیاره شوه.

انور پر خپل ځای پرېووت، خو وروسته راوښویېد. زما پر ټټر یې سر کېښود. ما یې په پېچلو وېښتو کې ګوتې تېرې کړې. تر ډېره دواړه غلي وو، خو بیا د انور خوابدي غږ چوپتیا ماته کړه:

ابا!

_هه!

Download from: ketabton.com

غږ يې ژړغونی شو:

ابا! که مې مور ژوندۍ وای، (نه) به يې نه و راته ويلي؟

زړه مې درد وکړ. د انور سر مې په ټټر پورې ټينګ ونيو. ورو مې وويل:

ښه ده زويه! ښه ده. څه چې ستا خوښه وي، هماغسې به وشي.

بوډا وټوخل او خبرې يې پرې شوې.

ما وويل:

کاکا! نن بيا ډېر ټوخېږې!

ده وخندل:

څنګه يې کېږې؟ زوړ انسان، د زوړ موټر غوندې دی؛ تل به يې پرزې خرابې وي...

په خبره کې يې ورولوېدم:

که سهار ته هوا ښه وه، د ولسوالۍ بازار ته ځم. د کور له سودا سره به تاته د ټوخي دوا هم راوړم .

ده وپوښتل:

منډونه شته؟

ځواب مې ورکړ:

کليو ته نه، خو بازار ته پلونه تللي وو، پر تللو پلونو تګ کولای شم.

دی غلی شو.

ما وويل:

ښه نو د انور خبره دې ومنله؟

شونډې يې وخوځېدې:

هو زويه! چاره څه وه؟ مياشت وروسته مې انور ته کوژده وکړه. د کوژدې مراسم ساده وو، ځکه په هماغو ورځو کې د انور د خسرګنۍ څوک مړه و، خو واده ته يې بيا حيران شوم. که څه هم چې ولور په منځ کې نه و، خو د واده

Download from: ketabton.com

مصرفونو داسې وخندېلم، چې د ولور دې بلا پرې وګرځي. د سويتا سينګار، ګل پوش موټر، د واده د کميس کرايه، فلم اخيستل، ساز، د هوټل مصرف، زېورات او... دې ټولو له اخه ــ ټوخه وايستم.

واده ته ډېر خلک راغلي وو، خو ما يو هم نه په کې پېژانده. ما تر واده دمخه انور ته ويلي وو چې که خپلوان نه لرو، يو څو کليوال به راوغواړو، هم به يې ګيله نه وي کړې او هم به درانه ورباندې ښکاره شو، خو د ده زړه نه و. ويل يې چې دوی له ښاري ژوند سره بلد نه دي، له يوې خوا به له ببرو ږيرو، خړو لونګيو او اوږدو لمنو سره دلته څنګه ښکاري؟ او له بلې خوا که د دې خلکو، په تېره بيا د ښځمنو جامې ووينې، په ټول ولس کې به لمن پر سر راواړوي .

انور ان په ما هم ږيره لنډه کړه، توره دريشي يې راواغوسته او په لومړي ځل يې نېکټايي راوتړله.

ده د ديارلس سوه دوه اتيايم لمريز کال، د ثور پر اتلسمه واده وکړ.

بوډا غلی شو او زه وپوهېدم چې له ده سره په عکس کې ولاړه نجلۍ د ده نږور ده.

وروسته يې په ټيټ غږ وويل:

انور تر واده دمخه لا په دريمو مکروريانو کې يو کور کرايه کړی و. کور په دوهم پوړ کې و. درې کوټې، يو تشناب او پخلنځی يې لرل. ده هر هغه څه چمتو کړي وو چې يو ښاري کور اړتيا ورته لري. په کوټو کې ايرانۍ غالۍ ويړې وې. پخلنځي ته يې رنګارنګ لوښي اخيستي وو او په هره کوټه کې يې يوه- يوه الماری دېوال ته درولې وه .

له انور سره مې يوه اوونۍ تېره کړه. که څه هم چې دی اوس د ښځې خاوند و، خو بيا به يې هم د پخوا غوندې تر ويدېدو دمخه زما پر ټټر سر لګاوه.

په اتم ماخوستن مې ورته وويل:

زويه! اوس دې کور بسيا شو، سهار ته له خيره درنه ځم.

يو دم يې زما له ټټره سر پورته کړ، نېغ کېناست او ورو يې وويل:

ولې؟

ما وخندل:

ګوره! زه به قره باغ ته لاړ شم، په مياشت- نيمه کې به دې يو ځل ليدو ته راځم .

سترګې يې له اوښکو ډکې شوې او په ګيله من غږ يې وويل:

ابا! دا خبره دې څنګه پر خوله راغله؟

Download from: ketabton.com

په خندا مې وويل:

ای لېونيه! څه فکر کوې؟ ايا له تا نه لريتوب ماته اسانه دی؟ خو...

په خبره کې راولوېد:

ابا! ته پوهېږې چې ما ولې د دريو کوټو کور ونيو؟ يوازې ستا لپاره، که نه پر موږ دوې کوټې هم ډېرې وې.

ورو مې وويل:

خو زه...

دوهم ځل يې د خبرو وار رانه ونيو:

ته څه مجبوريت لرې، چې له ما نه بېل شې؟ ايا زه دا زغملای شم؟ زړه به مې ټک درپسې وچوي او بل تر اوسه خو مجبوري وه، خو اوس کور لرو، زه دې زوی يم. ستا هوسايي زما هيله ده، غواړم چې د پاچاهانو غوندې ژوند وکړې!

وروسته يو دم غلی شو، داسې لکه فکر چې وهي. بيا يې ورو وويل:

سمه ده، خو يوه خبره به راسره منې!

حيران شوم:

کومه خبره؟

که ځې، نو سويتا به هم درسره بيايې!

په خندا مې وويل:

ټوکې کوې؟

غږ يې ژړغونی شو:

رښتيا وايم، يا به ته دلته پاتې کېږې او يا به سويتا هم درسره ځي!

پر تندي مې ښکل کړ او په خندا مې وويل:

ښه ده زويه! زه به پاتې شم.

په مخ کې يې وينه وغوړېده.

ما زياته کړه:

Download from: ketabton.com

خو یو ځل باید لاړ شم، لنډ وخت، بېرته راځم .

په خبره کې راولوېد:

د څه لپاره؟

ومې ویل:

د کور یو غم به وخورم، لوښي- کودي به کوم ګاونډي ته امانت کېږدم او کور به هم یو چاته وسپارم، چې پام ورباندې وکي.

بوډا غلی شو، ماته یې وکتل او ویې ویل:

د مکروریانو ژوند هم د قوطۍ ژوند و، تنګ او زړه نیوونکی! ما په لومړي ځل په یوه داسې کور کې واړول چې انګړ یې نه درلود. کوټې یې تیاره او ساه نیولې وې. د پخلنځي، تشناب او کوټو ورونه یوه دهلېز ته خلاصېدل، چې دوه ګزه اوږد او یو ګز سورورجوړ شوی و .

زه به د ورځې له خوا په کور کې یوازې وم، ځکه انور او مېرمن به یې خپلو وظیفو ته تلل. انور په یوه بهرنۍ موسسه کې غټ سړی و او سویتا هم د پخوا غونډې په یوه دولتي روغتون کې کار کاوه. ما به خپل ډېر وخت د کتابونو په لوستلو تېراوه. انور بېلابېل کتابونه لرل چې یوه کوچنۍ الماری ورنه ډکه وه. کتاب زما د یوازېتوب ملګری و. خو کله چې به برق راغی، نو ټلویزیون به مې هم لګاوه. وروسته بیا د ځان په منګ له یو څو سپین ږیرو سره بلد شوم. دوی هم په بلاک کې اوسېدل او زما غونډې بېکاره وو. موږ به په ورځ کې یو-دوه ساعته خبرې سره کولې.

نور مې نو د کلي له ژوند سره ورو- ورو فاصله نیوله. د نږور په غوښتنه مې جامې بدلې شوې، خولۍ یې راباندې لیرې کړه او ان په کور کې به مې لا یو ارت پتلون اغوستی و. پر انور د پخوا غونډې ګران وم، مینه به یې راسره کوله، هر ماخوستن به یې یوه ګړۍ زما پر ټټر سر لګاوه او بیا به خپلې کوټې ته تلو .

زما لویه بوختیا د کتاب لوستل، د ټلویزیون کتل او د ځان په منګ د بلاک له څو سپین ږیرو سره ناسته- ولاړه وه، خو له دې سره به مې د کور سودا هم راوړله. سویتا به هر سهار څو روپۍ له یوه کاغذ سره راته نیولې، په کاغذ کې به د هغو خوراکي شیانو نومونه لیکلي وو، چې د ماخوستن پخلي ته به په کار وو.

ما به هم هر ماسپښین د کور په عمومي وره کې کونجي (کیلي) تاو کړه. مارکېټ ته به لاړم او د لیسټ له مخې به مې له کوره راسره وړې کڅوړه ډکه کړه.

په خپل ژوند خوښ وم، انور مې لید، له هغه سره مې خندل، خبرې مو کولې او کله- کله به د مازیګر له خوا په ګډه د مېوې اخیستلو ته وتلو، خو سویتا بیا دومره نه راسره غږېده. دا چې به له کاره راغله، یا به په پخلنځي کې وه او

Download from: ketabton.com

یا به یې هم د کور په نورو کارونو ځان بوخت ساته. خو یو کار یې نه هېرېده، دا به هر ماخوستن زما کوټې ته راتله او د راوړې سودا حساب به یې رانه غوښت، ځکه د کور حساب- کتاب له دې سره و، ان په لومړۍ میاشت یې د انور تنخوا زما له ګوتو وایسته او په خندا یې وویل چې د پیسو د ساتلو لپاره تر هر ځای بانک ښه دی. ماته دا خبره ځکه سمه ښکاره شوه، چې انور هم څه ونه ویل.

خو یو ماخوستن د سویتا خبره ښه راباندې ونه لګېده، په حساب کې شل افغانۍ کمې وې او کله چې مې ورته وویل: دا پیسې مې یوه ړوند سوالګر ته ورکړې، تندی یې تریو شو او په خشکه یې را یاده کړه چې سوالګر دې خدای ماړه کړي، بیا داسې بېځایه زړه سوی ونه کړې!

دا د دې لومړی کاوړ و، خو وروسته یې بیا خشکې ډېرې شوې. سویتا به په مازې خبره کاوړ کاوه. یوه ورځ به یې په دې وربوز ځړېدلی و، چې سودا دې ګرانه راوړې ده، بله ورځ به یې تندی ځکه کوت و، چې د کور خځلې (کثافات) پر وخت دباندې نه باسې، یا به یې د بلاک له سپین ږیرو سره زما کلیوالي خبرې د ځان سپکاوی ګاڼه او یا به یې په کومه بله بانه پر غوړ وهلم .

د هغې ډونګېدا ورځ په ورځ ډېرېده، خو ما دومره سر نه پسې ګرځاوه. دا مې وړې خبرې ګڼلې، نه مې انور ته ویل او نه هم په دې خوښ وم چې خپل زوی خواشینی کړم. ځکه پر هغه سویتا ګرانه وه، له هغې سره یې مینه درلوده او ما نه غوښتل چې زما په خاطر د دوی تر منځ کوم خپګان پیدا شي. ان یو څه وخت وروسته مې خپلې جامې هم په خپله مینځلې، ځکه سویتا رایاده کړه چې جامې پاکې نه ساتې او زما له وسه نه کېږي چې د دفتر له ستړیا سره- سره ستا خیرې هم پاکې کړم .

د جامو مینځل راته ښه و، دومره سختي یې نه غوښته. وخت راباندې تېرېده او بوخت به یې ساتلم. ما هڅه کوله، چې له سویتا سره کومه خبره وانه ړوم، ځکه هغه لا نجلۍ وه، د ژوند تجربه یې نه درلوده، نازکه روږدې (عادت) شوې وه او په وجود کې یې د ځوانۍ غرور پروت و، خو یوه ورځ مې اخر حوصله ختمه شوه.

بوډا وټوخل او خبرې یې پرې شوې.

په بېړه مې وویل:

ولې؟

پرته له دې چې راته وګوري، شونډې یې وخوځېدې:

سویتا په هغو ورځو کې رخصتي اخیستې وه، کار ته نه تله. یو سهار یې د برق کتابچه راته ونیوله، چې پیسي یې تحویل کړم. موږ ته به په دوو میاشتو کې یو ځل د برق بیل راته. په هغه ورځ هم یوې بانکي څانګې ته لاړم، هلته ګڼه ګوڼه وه. د برق کتابچه مې پر نوبت کې کېښوده او د ورځې پر یوولسو بجو وار راورسېد، خو کله چې بېرته

Download from: ketabton.com

کور ته راغلم، په دهلېز کې مې د سګرېټ لوګی په سږمو ننووت. وروسته مې یوه نارینه خندا واورېده، بدن مې زیږ شو او په بېړه مې د کوټې دروازه خلاصه کړه. د سګرېټ په لوګي کې مې پر سویتا او یوه ښایسته ځوان سترګې ولګېدې. دوی څنګ پر څنګ، دومره نږدې سره ناست وو چې ورنونه یې له یو- بل سره لګېدل. دواړو پر غولي یوه اوار لوی کاغذ ته، چې د انسان ککرۍ او هډوکي په کې رسم شوي وو، وچې سترګې نیولې وې. زما په ورتلو یې سرونه هسک کړل. ځوان اوږدې څڼې درلودې او له رنګه سپین و .

سویتا وویل:

دی نسیم نومېږي، موږ سره همکاران یو.

وروسته یې ځوان ته مخ وراواړاوه، موسکه شوه او ډکې شونډې یې وخوځېدې:

د انور پلار دی. بیا یې په بې پروایۍ راته وکتل او ورو یې وویل:

کېدای شي یو څو دقیقې مو یوازې پرېږدې، کار لرو!؟

د هغې لوڅې غاړې او پر سینو پرتو ګڼو ژیړو ویښتو ته مې وکتل، زړه مې جوش وکړ او په خشکه مې وویل:

نه!

دواړو رډ- رډ راته وکتل.

ما زیاته کړه:

څنګه دې له پردي سړي سره یوازې پرېږدم؟

له دې سره د ځوان شونډې وخوځېدې، ورو ولاړ شو، خو سویتا تر مټ ونیو. په خشکه یې سترګې راواړولې او چیغه یې کړه!

ووځه بې ادبه!

ځوان موسک شو:

خیر دی، اوس به لاړ شم، بل وخت به بیا سره ګورو.

ما لار ورکړه او ځوان له کوټې ووت، د هغه په تلو سره پر سویتا اور ولګېد او چیغه یې کړه:

ته یو احمق او له تمدنه لیرې کلیوال یې...!

Download from: ketabton.com

هغې ته مې وکتل، داسې راته وایسېده، لکه د بدن ټوله وینه چې یې بغورو ته راختلې وي، سترګو یې تر پخوا ډېره ځلا پاشله، یوه وېروونکې ځلا، کټ مټ لکه په توره شپه کې د پیشو سترګې. سویتا ښکنځلې کولې، ژړل یې او زه یې یو بې فرهنګه او له تمدنه لیرې انسان ګڼلم. خو ما څه ونه ویل، یوازې دومره پوهېدم چې بدن مې رېږدي او وروسته خپلې کوټې ته ورننوتم .

ټوله ورځ مې خواشینې تېره کړه، د خولې خوند مې بد و او د ناکرارۍ احساس په مخه کړی وم. کله چې انور مازیګر قضا کور ته راغی، د نورو ورځو غوندې یې لومړی زما د کوټې دروازه خلاصه کړه. په وره کې ودرېد، غټې تورې سترګې یې وځلېدې او په خندا یې وویل:

پلاره! اجب پاسته ناک مې درته راوړي، ستا پر غاښ برابر دي!

ده رښتیا ویل. په ښي لاس کې یې نیولې پلاستېکي کڅوړه له ناکو ډکه وه. بیا رامخته شو، زما تر څنګ کېناست او خپلې ښځې ته یې ورنارې کړې:

سویتا! وه سویتا!

د سویتا غږ مې د لوښو له کړپا سره یو ځای واورېد:

څه وایې؟

انور د پخوا غوندې په لوړ غږ وویل:

یو- دوه د مېوې خورۍ کاردونه (چاړې) درسره راوړه!

بیا یې ماته وکتل:

پلاره! څېره دې نیولې غوندې ده، جوړ خو یې؟

ورو مې وویل:

هو زویه! جوړ یم.

دا وخت سویتا کوټې ته راغله، په ګیلاس کې دوه نېغ درېدلي کاردونه یې لاندې پر ځمکه کېښودل او کله چې ولاړېده، انور په خندا وویل:

کېنه خوندور ناک دي!

سویتا ژړغونې شوه:

Download from: ketabton.com

زړه ته مې نه کېږي.

له دې سره په بېړه له کوټې ووته او په دهلېز کې یې کوکه کړه .

انور په وارخطایۍ راته وکتل او په منډه له کوټې ووت.

زړه مې ولړزېد، فکرونو په مخه کړم او کله چې انور بېرته کوټې ته راننووت، ما یې په لومړي ځل په سترګو کې خشکه ولیده. لاسونه یې مروړل او شونډې یې ځړېدلې وې.

دی لاندې پر ځمکه راته کېناست، یوه شېبه غلی و، بیا یې سر پورته کړ او په یوه داسې غږ، چې کاوړ په کې ګډ و، ویې ویل:

پلاره! میاشتې دې تېرې کړې، خو د ښار په ژوند ونه پوهېدې!

زړه مې درد وکړ.

ده وویل:

ښه دې نه دي کړي چې نه پوهېږې، په هر څه کار مه لره!

د زړه درزا مې ډېره شوه او په کاوړ مې وویل:

ښځه دې له یوه پردي سړي سره ګوښې ناسته وه، هغه هم په یوه زېرپېرانۍ کې. د سینې چاکونه یې له ورایه ښکارېدل.

سور او سپین واوښت:

اوف پلاره! دا ښار دی، کلی نه دی چې ښځه په ټیکري کې تاو کې او د جوارو غوندې اووه پوښه ورواغوندې. دلته بېل فرهنګ دی او ته باید ځان ورسره روږدی کې!

خوله مې وازه پاتې شوه، انور په لنډه موده کې څومره لوی بدلون کړی و!

ده وویل:

نسیم د سویتا همکار دی، دی اوس یو طبي کورس تعقیبوي. په درس کې یې یو څه ستونزه درلوده او له سویتا نه یې مرسته غوښته، په دې کې نو څه خبره وه؟

ما وویل:

خو هر رنګه چې وي، هغه پردی سړی دی، دا رنګه راتګ یې ماته خوند رانه کړ.

Download from: ketabton.com

په خبره کې راولوېد:

خو تا د سویتا سپکاوی کړی، هغه دې د همکار تر مخ په یوه روپۍ کړه، پوهېږې چې هغه څومره خواشینې ده؟

ومې ویل:

گوره زویه! د ژوند درد په خواشینۍ او خپگان کې نه، بلکې په بدنامۍ او رسوایۍ کې پروت دی.

په کاوړ یې خبره راپرې کړه:

څه بدنامي؟ څه رسوايي؟ زه پر هغې باور لرم، د ښځې او خاوند تر منځ یوازې باور کافي دی او بس!

له پاسه ورباندې ورټیټ شوم، د ده پر اوږه مې لاس کېښود، ورو مې وویل:

دا سمه ده چې باور ښه دی، خو...

په غوسه یې د خبرو وار رانه واخیست:

پلاره! ستا فکر ډېر زوړ دی، ته هر څه ته په منفي نظر گورې!

له دې سره په تېزۍ ولاړ شو.

لاس مې د انور له اوږې نه وښویېد. داسې راته وایسېده، لکه د ژوند امسا چې رانه لیرې شوې وي. د بدن انډول مې ونه شو ساتلای او کینه سترگه مې پر هغو چړو ورټیټه شوه، چې په گیلاس کې نېغې ولاړې وې.

بوډا غلی شو. یو سوړ اسویلی یې وایست او ویې ویل:

په سترگه کې مې یو درد احساس کړ، یو نری او سوځوونکی درد. بیا مې کیڼ بغور تود شو او وروسته په هېڅ هم نه یم پوهېدلی، خو کله چې پر هوښ راغلم، نو په چت کې یوه پکه په تېزۍ سره تاوېده. نېغ کېناستم، ما یوازې خپل ښي لور ته پراته شیان لیدلای شوای او کله چې مې د کیڼې سترگې د خلاصېدو هڅه وکړه، یو نری درد ورباندې راغی. لاس مې وروړ. پر سترگه مې یوه پټۍ تړلې وه. شا و خوا مې وکتل، یوه کوچنۍ کوټه وه او تر څنگ مې پر مېز ډول- ډول مېوې پرتې وې. له کټ نه ورو ولاړ شوم، لومړی مې د ښي لاس په بند کې د سوزش احساس وکړ او بیا یو درب شو.

ځمکې ته مې وکتل، د سېروم پر کڅوړه یوه فلزي پایه پرته وه، له رگ نه مې وینه راوتلې وه او د لاس د دوو گوتو تر منځ مې د سېروم ستن بنده پاتې شوې وه .

Download from: ketabton.com

يوه شېبه ودرېدم، ناڅاپه مې په فکر کې له انور سره د خبرو د اړولو صحنې راوګرځېدې او کله چې پر چړو ورټيټېدم، بې اختياره مې خپلې تړلې سترګې ته لاس وروړ .

دا وخت د کوټې دروازه خلاصه شوه، يوې نجلۍ په بېړه تر مټ ونيولم. هغې سپينه چپنه اغوستې وه او پر سر يې يوه داسې تکه سپينه خولۍ پرته وه، لکه له کاغذ نه چې جوړه شوې وي. نجلۍ ورو پر خپل ځای پرې ايستم. پايه يې ودروله او په احتياط يې د سيروم ستن زما د لاس د بند په رګ کې ننه ايسته.

هغې ته مې وويل:

سترګې ته مې خير دی؟

نجلۍ مرې سترګې راواړولې، په خوله يې څه ونه ويل، خو په سترګو کې يې د نهيلۍ نښې له ورايه ښکارېدې. زړه مې ولړزېد او پوه شوم چې نور په کينه سترګه ديد نه شم کولای.

شېبه وروسته نجلۍ له کوټې ووته او پر ځای يې انور کوټې ته رانووت. د هغه چې کله سترګې راباندې ولګېدې، خوله يې جينګه شوه، زما پر ټټر راپرېووت او په چيغو- چيغو يې وژړل. وروسته مې سويتا تر څنګ ودرېده. په لاس کې يې د ګلانو ګېډۍ نيولې وه او سترګې يې له اوښکو نه ډکې وې.

لس ورځې مې په روغتون کې تېرې کړې. دا يو شخصي روغتون و، ښه خدمت مې کېده او انور به په ورځ کې دوه ځلې سهار او مازيګر پوښتنې ته راته. په يوولسم ماښام له انور سره کور ته لاړم او کله چې مې په اينه کې وکتل، د کينې سترګې پر ځای مې له څلورو خواوو راغلی کوت-کوت (ګونځې- ګونځې) پوستکی پروت و. يو دم مې د شېرينو خبره په ذهن کې نېغه راولاړه شوه:

اکربه! ستا سترګې مې خوښېږي.

بوډا غلی شو، ماته يې وکتل او ويې ويل:

ما يو ځل بيا د خپل زوی په کور کې واړول، خو دا ځل مې هغه پخوانی خوند په کې ونه ليد. انور ورو- ورو فاصله رانه نيوله. نور به د پخوا غوندې کوټې ته نه راته. زما پر ټټر به يې سر نه لګاوه او ان د ماخوستن د ډوډۍ د خوړلو پر وخت به هم زما د ړندې سترګې خوا ته کېناسته. تر ډوډۍ وروسته به يې خپله ستړيا بانه کړه، ژر به ولاړ شو، خو د شپې تر ناوخته به يې له سويتا سره د خندا غږ زما کوټې ته راته .

زه به تر ډېره ويښ وم، د شېرينو او د انور پخواني يادونه به مې تازه کول... کله به مې اوښکې تويولې او کله به هم بې اختياره خندا راغله.

خو بيا هم ښه و، انور مې ليد، هغه ته مې ځان نږدې احساساوه او په زړه کې مې يو ډاډ پروت و.

Download from: ketabton.com

دا ځل مې په سویتا هېڅ کار نه درلود، د هغې هرې خبرې ته به مې د هو په نښه سر خوځاوه، ان هغه ځوانکی یو ځل بیا هم کور ته راغی او دا ځل مې د سویتا په امر له دوکانه مېوه هم ورته راوړه.

ما کوشش کاوه چې د انور د خوشالۍ لپاره، سویتا خوابدې نه کړم. خو کله- کله چې یو څوک څه غواړي، هغسې نه کېږي.

یوه شپه له خوبه راپورته شوم، نه پوهېږم چې څو بجې به وې، خو وخت ناوخته راته ښکاره شو. تشناب ته د تلو احساس مې وکړ، ولاړ شوم. د دهلېز گروپ مې ولگاوه. خو کله چې مې د تشناب دروازه خلاصه کړه، سویتا خپل ځان مینځه، زړه مې ولړزېد، په بېړه یې راته وکتل او له خولې نه یې یوه وېروونکې چیغه راووته!

وحشي!

ژر مې دروازه پورې کړه، زوی مې له کوټې راووت، ماته یې وکتل، سترگې یې رډې راوختلې.

په بېړه مې وویل:

پام مې نه و .

ده چیغه کړه:

بس که نور په لحاظ د خدای، ژوند مې مه راخرابوه!

سترگه مې له اوښکو ډکه شوه.

دا وخت سویتا د تشناب په وره کې ودرېده. دې تر ځنگنو پورې په یوه لویه تولیا کې ځان تاو کړی و. له ژیړو وېښتو نه یې اوبه څڅېدې او په سترگو کې یې کرکه پرته وه... په کاوړ یې وویل:

انسانیت دې نه دی زده؟

په خوله کې مې لاړه وچه شوه، هغې ته مې سترگه ورواړوله:

ما وبخښه! خبر نه وم چې ته به په تشناب کې یې .

انور چیغه کړه:

که څوک وي او که نه، ته باید د نزاکت له مخې ور وټکوې!

سویتا خپل خاوند ته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:

نوره نو له دې ژونده سترې شوې یم، ته یو انتخاب لرې، یا زه او یا هم خپل پلار!

Download from: ketabton.com

زړه مې ولړزېد.

سویتا د خپلې کوټې وره ته لاس وروغزاوه، خو یو دم ودرېده، انور ته یې مخ ورواړاوه او په ترېو تندي یې وویل:

قسم خورم چې زه به له خپلې خبرې نه وانه وړم.

له دې سره یې د کوټې له وره درب وایست.

چوپه چوپتیا شوه، انور ته مې وکتل، سر یې ځړېدلی و، خو وروسته یې مړې سترګې راواړولې، په خوله یې څه ونه ویل، خو په اوښکو کې یې له ما نه د خپلې مینې خیرات غوښت.

ورمخته شوم، د هغه پر اوږه مې لاس کېښود، ورو مې وویل:

ښه ده بچیه! څه چې ته غواړې، هماغسې به وشي.

بوډا غلی شو، ماته یې وکتل. په سترګه کې یې اوښکې رغړېدې، خو پر شونډو یې یوه ترخه موسکا پرته وه.

په بېړه مې وویل:

بیا څه وشول؟

بوډا خپله پزه پورته کش کړه او شونډې یې وخوځېدې:

سهار وختي مې په بکس کې خپلې جامې اچولې، چې انور مې تر څنګ کېناست. یوه شېبه غلی و، وروسته یې یو پاکټ مخې ته راته کېښود او په خواره خوله یې وویل:

په دې کې یو څه پیسې دي، سویتا درته راکړي.

هغه ته مې وکتل، له پړسېدلو سترګو نه یې وپوهېدم چې ده هم زما غوندې شپه په ویښه تېره کړې ده. ورو مې وویل:

نه بچیه! ما په ژوند کې خیرات نه دی اخیستی، زوړ به یم، خو تر اوسه مې لا په متو کې د کار کولو سېکه پاتې ده.

رنګ یې تک سور واوښت، رامخته شو، زما پر اوږه یې تندی ولګاوه او په ژړا کې یې وویل:

زړه مې مه راماتوه! زه مجبور یم، له سویتا پرته ژوند نه شم کولای.

ورو مې وویل:

Download from: ketabton.com

زه څنګه له تا پرته ژوند کولای شم؟

سر یې هسک کړ .

ما وویل:

یوه خبره مې منې؟

په حیرانۍ یې راته وکتل:

څه خبره؟

اوښکې مې له واکه ووتې:

په میاشت کې یوازې یو ځل قره باغ ته راته راځه، بس. نور هېڅ هم نه درنه غواړم، دا د یوه پلار غوښتنه ده.

بېرته یې سر وځړېد.

ما وخندل:

پوهېږم بچیه! نه شې کولای.

شونډې یې وخوځېدې:

سویتا به چاته پرېږدم؟

ورو ولاړ شوم، د مېز پر سر د انور د واده یو عکس پروت و، هغه مې راواخیست او په بکس کې مې واچاوه.

انور یوه شېبه غلی و، داسې لکه فکر چې وهي، بیا یې یو دم راته وکتل:

پلاره! کېدای شي یو څه وخت معطله شې؟

حیران شوم:

ولې؟

ویې ویل:

مخکې له مخکې څه نه شم درته ویلای.

خندا راغله :

Download from: ketabton.com

نه زویه! نور مې نو دلته پاتې کېدل ښه نه دي.

په خبره کې راولوېد:

یوازې دوې ورځې.

ما ورته وکتل:

ده وویل:

نه غواړې چې هره ورځ سره ووینو؟

سترګه مې له اوښکو ډکه شوه.

شونډې یې وخوځېدې:

خدای مهربانه دی، ګوندې زما فکر یوه نتیجه ورکي.

بوډا غلی شو، ماته یې وکتل او ویې ویل:

انور په دوهمه ورځ یو ادرس راکړ، ما هم ځای په اسانۍ وموند او په هماغه ورځ د یوې دوې پوړیزې ودانۍ په دروازه کې څوکیدار شوم. دا یوه خیریه موسسه وه، په لسګونو کارکوونکي یې لرل او د کابل په وزیر اکبرخان مېنه کې یې موقعیت درلود.

زه به د ورځې له خوا په یوه لرګینه غرفه کې ناست وم او یوازې به د موټرو د راوتو او ننوتو پر وخت د لویې دروازې خلاصېدو ته ورولاړېدم.

ښه و. یو څه خوشاله وم، انور به په اوونۍ کې یو- دوه ځلې د مازیګر له خوا زما لیدو ته راته. دا وخت به ټول کارکوونکي تللي وو، یوازې زه او زما په منګ یو بل څوکیدار به پاتې وو. انور به یو ساعت راسره کېناست. د ده له لیدو نه به مې خوند اخیست او د بیا راتګ ورځې به مې شمېرلې.

کار مې هم بد نه و، د موسسې کارکوونکو به بابه مالک بللم او سهار چې به مې هر یوه ته دروازه خلاصوله، لومړی به موسک شو او بیا به یې د مننې ټکی له خولې راته راووت. که څه هم چې زه ساده څوکیدار وم، خو دوی به زما د سپینو خلو لحاظ کاوه او په احترام به راسره غږېدل. زه به د مازیګر تر څلورو بجو پورې په غرفه کې ناست وم او کله چې به د دفتر کارکوونکي رخصت شول، ما به هم د انګړ دروازه وتړله. لومړی به مې د ماخوستن لپاره دېګ وکړ، بیا به د انګړ په چمن کې کېناستم او د رنګارنګ ګلانو له لیدو نه به مې خوند اخیست.

Download from: ketabton.com

ملګرى به مې ټوله ورځ ويده و، خو شپه به يې د تعمير د ساتلو لپاره په ويښه تېروله. دى دومره ډېر نه غږېده. کم غمه سړى و او د چيلم له څکولو سره يې جوړه وه. موږ به يوازې د ماخوستن د ډوډۍ پر وخت يو ځاى سره ناست وو. بيا به ده د کوټې په کونج کې ولاړ ډانګى ورواخيست او دباندې به ووت. ما به تر ناوخته ټلويزيون ته کتل. وروسته به مې د ماخوستن لمونځ وکړ. پر خپل ځاى به پرېوتم او تر هغو به مې فکرونه وهل، چې خوب به وړى وم.

سهار به د ملايانو له اذانونو سره راپورته شوم او تر څو چې به د دفتر کارکوونکي راتلل، ما به د حويلۍ د منځ سړکونه پرېمينځلي وو.

وخت همداسې تېرېده. که څه هم چې انور به وروسته په ځنډ سره راته، خو بيا هم خوشاله وم، دى به مې ليده. يو ساعت به سره غږېدو او د ده تر بيا راتګه پورې به مې د خولې خوند ښه و .

يو مازيګر د انګړ لويه دروازه وټکېده. دا د ژمي وروستۍ مياشت وه، دباندې سوړ باد چلېده او کله چې مې دروازه خلاصه کړه، انور مې وليد. دى خوشاله ښکارېده، ږيره يې پاکه خرېيلې وه او کله چې يې راته وخندل، له کلونو وروسته مې يې يو ځل بيا د خولې کونجانو ته نږدې،تربغورو لاندې ژور ځايونه وليدل. وار له واره يې په خندا وويل:

پلاره! خداى دې لمسى درلوى کړي.

په زړه کې مې خوشالۍ منډه واخيسته:

څه وخت؟ څه وخت پيدا شو؟

ــنن يې شلمه ده.

په سترګه کې مې اوښکې راټولې شوې:

شل ورځې او زه خبر نه وم!

دى تلولى غوندې شو:

پلاره! ما وبخښه! کارونه ډېر دي. باور وکه، دومره وخت مې ونه موند چې زېرى ته درته راشم.

په خوشالۍ مې وويل:

نوم دې څه ورباندې کېښود؟

شونډې يې وخوځېدې:

رامين، دا نوم سويتا خوښ کړى و .

Download from: ketabton.com

په زړه کې مې د ماشوم د ليدو هيله راوټوکېده او د خواست په ژبه مې وويل:

کېدای شي چې خپل لمسی ووينم؟

انور يوه شېبه غلی و، بيا يې راته وکتل:

ولې نه! دوهم ځل چې راتلم نو رامين جان به هم راسره راوړم!؟

ما کوټې ته د تلو ست ورته وکړ، خو ده رايادده کړه چې بېګاه ته يې خواښې او خسر مېلمانه دي، بايد يو څه سودا کور ته يوسي، ناوخته کېږي.

انور لاړ او ما د خپل لمسي د ليدو په تمه ورځې شمېرلې. مياشت تېره شوه، خو د انور درک ونه لګېد. اخر بې صبره شوم، د موسسې يوه کارکوونکي ته مې د انور د موبايل نومره ورکړه او کله چې ټيليفون رخ شو، انور ژمنه راسره وکړه چې راتلونکې جمعه به پر خپل قول درېږي.

زه هم د پنجشنبې په ماسپښين ښار ته لاړم او د خپل لمسي لپاره مې يوه دريشي، پيک لرونکې خولۍ او ښايستوکي بوټان واخيستل .

په ټاکلې ورځ لا ماسپښين د دروازې مخې ته ناست وم، څه کم دوه ساعته مې انتظار وايست. اخر ماسپښين قضا د غرفې تر مخ يو ټکسي ودرېد. انور له موټره راکښته شو. ده په غېږ کې يو ماشوم نيولی و چې په کمپله کې تاو و. په بېړه ور ولاړ شوم. انور لاس راکړ، ماشوم ته مې وکتل. سره بغور يې لرل او شنې بخونه سترګې يې ځلېدې. هغه مې په احتياط د انور له غېږې راواخيست، پر تندي مې ښکل کړ او کله چې مې د دروازې خوا ته مخ واړاوه، انور په بېړه وويل:

پلاره ناوخته کېږي.

په حيرانۍ مې ورته وکتل.

ده وخندل:

هوا سړه ده او له موټروان سره مې هم د دواړو خواوو ويل کړي دي.

دا وخت مې د موبايل زنګ واورېد.

انور جېب ته لاس کړ او کله چې يې ټيليفون غوږ ته ونيو، د سويتا غږ مې په اسانۍ سره وپېژاند. هغې د خپل زوی پوښتنه وکړه او وروسته يې په خواشيني غږ وويل: رامين جان مې يادېږي، ژر يې راوله!

Download from: ketabton.com

ژړا راغله. له هغې نه يوازې يو ساعت خپل دوه مياشتنی زوی لرې شوی و او دومره يې يادېده، خو له ما نه يې داسې يو څوک بېل کړ، چې پوره اته ويشت کاله مې د زړه په وينو رالوی کړی و .

د انور په غږ مې فکر سره راټول شو:

پلاره! ستا په اجازه.

له دې سره يې ماشوم زما له غېږې ورواخيست، هغه يې ښکل کړ او په خندا يې وويل:

پوهېږې پلاره! د ده ساه ډېره خوند راکوي، دا مې اوس عادت گرځېدلی، هر ماخوستن مې تر هغو د رامين جان خولې ته خپل بغور نيولی وي، چې سترگې مې سره ورشي. دی ويده وي، خو ساه يې توده- توده رابانديې لگېږي، تاته به نه وي معلومه، دا يو بېل خوند لري.

ورو مې وويل:

نه بچيه! ماته به نو له کومه معلومه وي!

بوډا غلی شو، ماته يې وکتل. په سترگه کې يې اوښکې راټولې وې او پر شونډو يې يوه ترخه موسکا پرته وه. وروسته يې خپل بالاپوښ ته لاس وروغزاوه. هغه يې پر خپلو څنگنو کېښود، سر يې وځړېد او ورو يې وويل:

انور دومره په بېړه په ټکسي کې کېناست، چې د رامين لپاره زما راوړی سوغات په کوټه کې پاتې شو، خو دا ځل يې په راتگ کې دومره ځنډ ونه کړ، دوې اوونۍ لا نه وې وتلې، چې بيا زما ليدو ته راغی. دا د جمعې ورځ وه، زما ملگری کور ته تللی و او زه په موسسه کې يوازې وم. انور دا ځل کلکه غېږ راکړه. بيا مې د ده په غوښتنه په چمن کې يو پلاسټيکي فرش وير کړ او دواړه کېناستو. دی خواشينی ښکارېده، وروسته يې له ورسره راوړې پلاسټيکي کڅوړې نه څو پتلونونه، د دريشۍ کميسونه او د جامو د گنډلو لپاره دوې رنگه ټوټې راوايستلې. زما تر مخ يې کېښودل او کله چې يې زما حيرانتيا ته وکتل، په خندا يې وويل چې هسې، زړه يې وغوښتل چې دا شيان راته واخلې.

انور په هغه ورځ تر ډېره راسره ناست و، بيا يې د پخوا غوندې زما پر ټټر سر ولگاوه او تر ډېر وخت وروسته يې يو ځل بيا د �ابا� په نوم ياد کړم. بيا د خپلې مور په اړه وغږېد. د مهاجرت کيسې يې راواخيستې او د خپلې انا يادونه يې تازه کړل... دی تر ډېره غږېده، خو تر پايه يې ماته کتل. کله- کله به يې په غټو تورو سترگو کې اوښکې راټولې شوې او بيا به يې زما ښی لاس په خپلو گوتو کې ټينگ کړ. انور عجيبه غوندې و. يوه شېبه يې هم زما نه سترگې نه اړولې او په مينه يې راته کتل. خو ماته داسې وايسېده، لکه کومه مهمه خبره چې رانه پټوي او يا يې پر خوله نه شي راته راوړلای. په خپلو خبرو کې يې څو ځلې له ما نه بخښنه وغوښته. ده تر ډېره خبرې وکړې. د خدای په امانۍ پر وخت يې تر ډېره په غېږ کې نيولی وم او کله چې رانه روان شو، څو ځلې يې شاته مخ راواړاوه.

Download from: ketabton.com

بوډا غلی شو، د خپل بالاپوښ جېب ته یې لاس کړ، خو فکر کوم دا ځل یوازې د ګولیو پاکټ په ګوتو ورغلی و. ده یوه ګولۍ خولې ته واچوله، د چایو غوړپ یې ورپسې وکړ، ماته یې وکتل او ورو یې وویل:

دا د سردردۍ لپاره دي، ځکه زه سردردي لرم او ډاکټر راته ویل چې دا تکلیف د ډېرې خواشینۍ له لاسه درته پیدا شوی دی.

په خبره کې یې ورولوېدم:

ښه نو د انور د خوابدون په راز ونه پوهېدې؟

ــای زویه! څه درته ووایم؟ انور دا ځل ډېر ځنډ وکړ، خو چې درک یې معلوم نه شو، تشویش راولوېد. څو ځلې مې زنګ ورته وواهه، خو ټېلیفون یې ځواب رانه کړ. اخر مې اندېښنه ډېره شوه. زړه مې طاقت ونشو کړای او یو مازیګر مې مکروریانو ته مخه کړه. کله چې د انور کور ته ورسېدم، د دروازې پر زنګ مې ګوته ټینګه کړه. یو غنم رنګه نری هلکی راووت. فکر مې وکړ چې دی به د سویتا کوم خپل وي، ځکه مې د انور د رابللو ورته وویل، خو د ده په څېره کې د حیرانتیا نښې ښکاره شوې او وچ ځواب یې راکړ چې د انور په نوم څوک نه پېژني.

زړه مې له وېرې ډک شو. د مخامخ ګاونډي ور مې ورټکاوه. دروازه خلاصه شوه. د ګاونډي ښځې په حیرانۍ راته وکتل. دا وارخطا غوندې شوه، شونډې یې وخوځېدې:

دومره ژر؟

حیران شوم.

ښځې هماغسې په حیرانتیا وویل:

څه وخت راغلې؟

حیراني مې دوه چنده شوه:

زه خو چېرته نه وم تلی؟

دا ځل یې خوله هم وازه شوه.

ما وویل:

انور چېرته دی؟

سترګې یې رډې راوختلې.

Download from: ketabton.com

زه وارخطا شوم.

په ماته ګوډه ژبه یې وویل:

نو ته! ته یې نه یې ورسره بېولی؟

دا ځل مې په یو څه کاوږ خپله خبره تکرار کړه او ومې ویل: چې انور چېرته دی؟

دا تلولی غوندې شوه:

کاناډا، کاناډا ته تللی!

پښې مې وربېږدېدې، همالته ځای پر ځای کېناستم. د ښځې وارخطا چیغه مې واورېده:

د حمید پلاره! وه د حمید پلاره...!

شېبه وروسته یې خاوند راغی، په بېړه یې تر مټ ونیولم، کوټې ته یې بوتلم او پر کوچ یې کېنولم.

هغه ته مې وکتل، خواشینی ښکارېده. بیا یې مېرمن راغله، یو ګیلاس یې راته ونیو او کله چې مې له اوبو نه غوړپ وکړ، د لیمو خوند په کې ګډ و.

زه تر ډېره هلته کېناستم. سر مې درد کاوه او پر زړه مې سستي راتله. د ګاونډي له خبرو وپوهېدم چې انور له خپلې کډې سره دري میاشتې مخکې د کاناډا مرکز (ټورنټو) ته تللی و. ده ګاونډیانو ته دا هم ویلي وو چې د پلار وېزه یې هم راغلې ده او اوس د یو څو ورځو لپاره قره باغ ته ځي او وروسته بیا د پاکستان له لارې په ګډه کاناډا ته روانېږي .

بوډا غلی شو، یو سوړ اسوېلی یې وایست او ورو یې وویل:

ده په څومره سادګۍ پرېښودم.

وروسته یې مخ راواړاوه، شونډې یې یوې کمرنګې موسکا بدرګه کړې او په غریو کې یې وویل:

کله چې مې په شېرینو پورې زړه وتاړه، هغه مرګ رانه واخیسته او کله چې مې په انور پورې زړه وتاړه، دی یوې پردۍ ښځې رانه پردی کړ.

په بېړه مې وویل:

د ده ادرس، د ټیلیفون نومره، داسې څه نه لرې چې کوم تماس ورسره ونیسې؟

سر یې وخوځېد:

Download from: ketabton.com

ای زویه! څه درته ووایم؟ په سبا یې د خپلې موسسې رئیس ته ورغلم. زه ډاډه وم چې هغه به د انور کوم ادرس ولري، ځکه زه د خپل زوی په سفارش هلته مقرر شوی وم. کله چې مې خپل رئیس ته وویل چې زه د انور پلار یم او د هغه کوم ادرس او یا هم د ټیلیفون نومره مې په کار ده، خوله یې وازه پاتې شوه. تر ډېره یې باور نه راته چې ډاکټر انور دې د یوه خوار ځوکیدار زوی وي او اخر یې هغه وخت زما خبره زړه ته ولوېده، چې له انور او سویتا سره اخیستی عکس مې له جېبه ورته راوایست .

دی یوه شېبه غلی و، بیا یې ډاډ راکړ چې د انور د ادرس په پیدا کولو کې به هڅه وکړي، خو غټ خلک په پردو غمونو پسې دومره سر نه ګرځوي. ده به نن- سبا راته کول او ما به هم نه پرېښود، په ورځ کې به مې څو ځله پوښتنه ورنه کوله او کله چې مې یو سهار په ادرس پسې د رئیس د دفتر دروازه خلاصه کړه، دی له څو خارجیانو سره ناست و. په هماغه ساعت یې په تریو تندې او یوه اشاره له دفتره ووتم، خو وروسته یې د دفتر اداري مشر ته ویلي وو چې بابه مالک په دفتري نزاکت نه پوهېږي، سر له ننه ځواب دی.

ماته دا کومه مهمه خبره نه وه، نه خواشینی شوم او نه هم د خوابدون کوم احساس راته پیدا شو. ما تر اوسه په کابل کې د یوه چا لپاره ژوند کاوه او اوس چې هغه نه و، کابل راته سور اور ښکارېده. ځکه مې په بې پروایۍ بکس راواخیست او د قره باغ پر لور مې مخه کړه.

هلته مې پر کوټو یو څه لاس تېر کړ. خپل امانت اینښی د کور سامان یې مات- ګوډ راوسپارل او بېرته مې د کلي ژوند پیل کړ. په څو میاشتو کې مې جېب تش شو. بېرته هماغه خوار مالک شوم او کله چې په مزدورۍ پسې ووتم، نو دوه پرله پسې ورځې مې کار ونه موند. خلک نه وو ګرم، ځکه زما په متو کې هغه پخوانی زور نه و پاتې. نه مې بېلونه پورته کولای شوای او نه مې هم په خپل بدن کې د کارېزونو د پاکولو سیکه لیده. زه اوس بوډا وم. په رېره او سر کې مې تور وېښته نه ښکارېدل او د غمونو له لاسه دومره زهیر شوی وم، چې پر لاره هم سم نه شوم تلای .

څه موده مې په قره باغ کې تېره کړه، خو هلته مې طاقت ونه شو کړای. لوږې، نېستۍ او پخوانیو یادونو ځورولم. ډېر وخت به مې ګېډه تشه وه. ما نه کار کولای شوای او نه مې هم دا منله چې په خپل قوم کې چاته لاس اوږد کړم. ځکه مې قره باغ هم پرېښود.

اوس دا دی په جوماتونو ګرځم. کله یو ځای کله بل ځای... څوک لېونی راته وایي، څوک مې سوالګر بولي او ځینې هم ملنډې راباندې وهي...

اه انوره! زه دې څومره په بېوسۍ کې پرېښودم!

بوډا غلی شو.

ما وویل:

Download from: ketabton.com

کاکا! نو چې دی ستا په کیسه کې نه شو، تا ولې په زړه کې ځای ورکړی؟

یو دم یې راته وکتل، وروځې یې سره ورغلې، سپړمې یې کښته پورته شوې. لاندېنۍ شونډه یې وځړېده او په زوره یې وژړل:

څه وکم؟ هر رنګه چې وي، هغه مې زوی دی، کله مې هېرېږي؟

بوډا داسې ژړل، لکه له کوم ماشوم نه چې د هغه مور ورکه شوې وي. اوښکو یې پر ښي سپېره غومبري منډې وهلې... دا ځل یې نه مخ رانه واړاوه او نه یې هم سترګې ته لاس ونیو. بې اختیاره یې ژړل او د ده په لیدو زما سترګې هم ډکې- ډکې کېدې.

بوډا ښه شېبه وژړل. وروسته یې پر خپله پزه لستونی تېر کړ او چې څه شېبه نوره هم ووته، د خپل بالاپوښ له جېب نه یې عکس راوایست. عکس ته یې وکتل. دی تر ډېره ورته ځیر و او هماغسې یې له ځان سره وویل:

اه انوره زویه! زه څومره یوازې یم، ډېر یوازې، زه اوس هېڅوک نه لرم؛ څوک نه شته چې زما پر ټټر سر ولګوي، خبرې مې واوري او ابا راته ووایي. ای زویه! ستا خبرې مې یادېږي، زه اوس چاته د شېرینو کیسې وکړم؟ د چا په هیله ژوند ته په مینه وګورم؟ زه اوس ډېر بېوسه یم، ډېر بېوسه. دومره بېوسه چې ان مرګ هم مخ رانه اړولی دی.

بوډا غلی شو، خو پرته له دې چې سر پورته کړي، یو دم یې په لوړ غږ وخندل. دا خندا دومره ناڅاپي او غیرطبیعي وه چې بدن مې زیږ شو. ده هماغسې په خندا کې چیغه کړه:

ای شېرینو! راشه او خپل اکرب ته وګوره! ستا اکرب اوس هېڅوک نه لري. دی ډېر بېوسه دی، دومره بېوسه چې نور نو د غمونو هم خوا ورته بدېږي...

بیا یې یو دم وژړل:

ته چېرته یې؟ یو ځل خو اکرب راته ووایه، یوازې یو ځل...

بوډا ژړل... کله به یې انور ته ورچیغه کړه او کله به یې شېرینو ته د خپل زوی له لاسه ګیلې کولې، داسې لکه هغه چې مخامخ ورته ناسته وي او د ده خبرې اوري، خو زه وپوهېدم چې بوډا تر عصبي فشار لاندې و. خدای شته چې زما هم اوښکې له واکه ووتې. ورنږدې شوم او بې اختیاره مې غېږ ترې تاو کړه. ده هم زما پر اوږه سر کېښود او په چیغو- چیغو یې وژړل... بوډا اوښکې تویولې او ما یې په لاس کې نیولي عکس ته کتل چې له ده سره یې نږور او زوی هم ولاړ وو. انور په عکس کې خندل او ماته داسې وایسېده، لکه د خپل پلار په بېوسۍ پورې چې خاندي.

بوډا تر ډېره زما پر اوږه خپل تندی لګولی و او کله چې یې زړه تش شو، په رېږدېدلو لېنګو دباندې ووت.

Download from: ketabton.com

ما هم برستن سمه کړه. د څښلو اوبه مې ورته کېښودې او په بخارۍ مې لرګي پسې کړل. کله چې بېرته راغی، پرته له دې چې راته وګوري، پر خپل ځای کېناست او سر يې وځړېد.

ورو مې وويل:

کاکا! ته مه خپه کېږه! د غونډۍ کلي ته له کاناډا نه يو څوک راغلی دی. چې لږ لار پيدا شي، زه به يې احوال درته راوړم، کېدای شي انور وپېژني.

ناڅاپه يې سر پورته کړ. پر خړو شونډو يې يوه موسکا وغزېده او په بېړه يې وويل:

چېرته؟

_يو کلی دی، هلته دوې مياشتې مخکې يو چا له کاناډا نه د خپل پلار جنازه راوړه. دومره خبر يم چې تر اوسه لا بېرته نه دی تللی. شايد ستا زوی وپېژني، ځکه دی هم په �تورنټو� کې اوسېږي.

سترګه يې وځلېده:

دا کلی کومې خواته دی؟

_شمال لور ته، تر غونډېو ورهاخوا.

په خوشالۍ يې وويل:

سهار ته درنه ځم.

ما وخندل:

په دې واوره کې تګ دومره اسانه هم نه دی، دوه- دوه نيم ساعته مزل غواړي. ما درته وويل چې لږ منډ پيدا شي، زه به يې په خپله احوال درته راوړم.

_نه زويه! کله پاتې کېدای شم.

ورو مې وويل:

ګوره کاکا! خپل ځان په لېوانو مه خوره، سږ کال واوره ډېره ده. په خوراک پسې د غره ټول ځناور دښتو او غونډېو ته راکښته شوي دي؛ پرون هم ښکاريانو د لېوانو پلونه ليدلي وو.

بوډا څه ونه ويل.

ما د اوداسه لپاره بدنۍ ورته ډکه کړه، جاينماز مې ورته کېښود او کله چې د مېلمنو له کوټې وتم، مخ مې ورواړاوه:

Download from: ketabton.com

دوې ورځې لا نور هم صبر وکه، زه به د کلي ځو ځوانان راسره ملګري کړم. خدای مهربان دی، ګونډې هغه سړی د انور په اړه څه معلومات ولري.

دا مې وویل او له کوټې ووتم.

***

سهار وختي چې کله د لمانځه په نیت جومات ته تلم، دباندې دومره لړه وه چې د انګړ دېوالونه لا هم نه ښکارېدل. خو کله چې د انګړ دروازې ته ورسېدم، بدن مې زېړ شو. د مېلمنو د کوټې له خوا پلونه راغلي او له دروازې وتلي وو. په بېړه مې کوټې ته ورمنډه کړه. ور خلاص و او په کوټه کې هېڅوک نه ښکارېدل. تشناب مې وکوت، هلته هم څوک نه و .

له انګړ نه ووتم. په پلونو پسې ګړندی روان شوم... د پلونو تر څنګ، په واوره کې د لکړې د لګېدو ځایونه هم ښکارېدل.

له کلي ووتم. پلونه شمال لور ته د غونډیو خوا ته غزېدلي وو. نور هم ګړندی شوم. یو ځای مې په واوره کې د انسان د لوېدو نښه ولیده، بیا د غونډیو خوا ته کاږه واږه پلونه تللي وو.

ښه شېبه مې مزل وکړ. څو ځله ولوېدم، له خولې نه مې تاوونه پورته کېدل، خو تېر مې په خولو لوند و. نه پوهېدم چې بوډا به څه وخت له کوره وتلی و. دا هم نه راته معلومېده چې دی به څومره تر ما مخکې روان و، ځکه هوا خړه وه. هېڅ هم نه ښکارېدل. څو ځله مې په چیغه د بوډا نوم واخیست: (کاکا مالکه! ای کاکا مالکه!...) خو په چوپه چوپتیا کې مې هېڅ کوم غږ وانه وربېد. هماغسې ګړندی روان وم... ځای- ځای به مې پښه تر ځنګانه پورې په واوره کې ننوته، خو کله چې د لومړۍ غونډۍ پیڅکې ته ورسېدم، پښې مې ولړزېدې او ځای پر ځای ودرېدم.

د غونډۍ په لمن کې له ختیځ لوري نه د یوې ډلې لېوانو پلونه راغلي وو، د بوډا پر پلونو تېر شوي وو، خو پلونه بېرته لنډ راګرځېدلي وو او د بوډا له پلونو سره جوخت شمال لور ته ختلي وو.

یوه شېبه ولاړ وم، په سترګو کې مې اوښکې را ټولې شوې. ما هېڅ هم نه شو کولای، ان د اځل مې له وېرې چیغو ته هم خوله نه شوای جوړولای او کله چې مې د یوه لېوه د انګولا نرۍ کوکه په غوږو ننوته، بې اختیاره مې د کلي خوا ته ورمېږ کوږ شو. کورونه نه ښکارېدل. په زړه کې مې وېره را ټوله شوه او پر خپل راغلي کیڼ پله مې خپله ښۍ پښه کېښوده.

Download from: ketabton.com